# روح څه شی دی؟

( د دیني علماوو، فیلسوفانو، پوهانو او ساینسپوهانو له نظره)



پوهنمل محمود نظري

۲۰۱۱/لندن

Download From; Aghalibrary.com

# د کتاب پېژندنه


پیلیزه ........ ٤
د روح ، نفس او ځان ماناوي او تعریوفونه ........ ٨
د نفس ماناوي او تعریفونه ........ ١١
د روح اړوند وییونو مانا وی او تعریفونه ........ ١٣
روح په افسانو کي ........ ١٤
فیلسوفانو او پوهانو نظرونه ........ ١٦
١-دلویدیځو فیلسوفانو او پوهانو نظرونه ........ ١٦
٢- دختیځو فیلسوفانو او پوهانو نظرونه ........ ٢٠
په اسلامي او دیني کتابونو کي روح ........ ٢٧
روح په ادبیاتو کي ........ ٣٥
د روح په هکله باورونه ........ ٣٩
١- د ماده پرستو نظر ........ ٣٩
٢-هغه دینونه چي په تناسخ باور لری ........ ٤٠
٣-هغه دینونو چي په قیامت باور لري ........ ٤٠
د پیداینت مکانیسم ........ ٤١
د روح د وجود عقلی دلیل ........ ٤٤
روح ددینونوله باوره ........ ٤٥
د تولو دینونو تر منځ ګډ شیان ........ ٤٦
د تولو دینونو تر منځ توپیرونه ........ ٤٧
تناسخ څه شی دی؟ ........ ٤٩
د تناسخ د باور علتونه څه دی ؟ ........ ٥٢
تناسخ د ابراهیمي دینونو په باور ........ ٥٢


Copyright: www.tanzona.com



Download From; Aghalibrary.com

الف: تناسخ د عیسویت او یهودیت له باوره ........ ٥٣
ب: تناسخ د اسلام له باوره ........ ٥٤
د روح تعریف؟........ ٥٨
- د یهودو باور د روح په هکله ........ ٥٨
- د روح په هکله د عیسویانو باور ........ ٦٠
نفس په اسلام کې........ ٧٤
په قرانکریم کې د نفس ماناوي ........ ٧٥
١- د پروردګار دذات په مانا ........ ٧٥
٢- د انسان په مانا ........ ٧٦
٣- د زړه (ماغزه) په مانا ........ ٧٧
۴- د غوښتنې، تمې او لالچ په مانا ........ ٧٨
۵- ژوندی جسم ........ ٧٩
۶- ختا ایستل او غولول ........ ٧٩
٧- جنس........ ٧٩
٨- ځان........ ٨٠
اسلام او نفس ........ ٨١
دانسان د اعمالو لیکنه........ ٨٥
نفس او زمان ........ ٩٠
د روح سرچینه........ ٩٢
- د خدای امر: ........ ٩٢
- خدای (ج) ........ ٩٣
- جنین ........ ٩٤
دروح موقعیت........ ٩٦
دقیامت د حساب او کتاب ځای........ ٩٧



Copyright: www.tanzona.com

Download From; Aghalibrary.com

دخدای خلیفه ........................................................ ۹۹
مړینه ........................................................ ۱۰۰
مړینه ........................................................ ۱۰۵
کلینکي مړینه ........................................................ ۱۰۵
د ماغزو د پورتنی برخي مړینه ........................................................ ۱۰۵
دماغزو د تني مړینه ........................................................ ۱۰۵
برزخ ........................................................ ۱۰۷
جنت ته تګ ........................................................ ۱۱۱
بیرته ژوندی کیدل ........................................................ ۱۱۱
په ژوند کي دخپل روح واک اخیستنه ........................................................ ۱۱۳
روح د ساینس له نظره ........................................................ ۱۱۵
په بدن کي د روح ځای ........................................................ ۱۲۸
پایله ........................................................ ۱۳۶
اخځونه ........................................................ ۱۴۲

Copyright: www.tanzona.com

# پیلیزه

انسانانو د تاریخ په اوږدو کې د روح له پیژندلو سره مینه لرله نو ځکه په ډیرو افسانو کې د هغه یادونه شوې ده، د وخت فیلسوفانو ، حکیمانو او طبیبانو په دې هکله خپلې نظریې بیان کړي ،ټولو دینونو او مذهبونو په خپلو معنوی ښوونو کې له هغه څخه یادونه کړې ده؛ لیکوالو او شاعرانو په خپلو لیکونو اوشعرونو کې هغه ته نغوته کړې ده.

دروح په هکله هر یوه انسان ته پوښتنه پیدا کیږي: چې روح څه شی ده؟

مګر تر اوسه هیچا ته سمه مالومه نه ده چې روح څه شي ده .

ډیرو فیلسوفانو د دې پټ رازپه هکله خپلې نظریې بیان کړي دي مګر نوروبیاپه دلیلونو هغه ردکړي دي.

یو وخت د روح په هکله یوازې فلسفي او اعتقادي بحثونه وه مګر دساینسي علومو په پراختیا سره روح د سایینس پوهانو د پام وړ وګرځیده.

نن هرځوک غواړي د ژوند په موخه پوه شي او د روح په اړوندو مسایلو ځان پوه کړي ددې پوهې لپاره لازمه ده لومړی د روح په هکله له ټولو نظرونو ، باورنو ، تجربیو ، افسانو او دیني اعتقادونو څخه ځان خبر کړو، دا پوهه د خپل ځان له پوهې څخه پیل کیږي.

انسان هغه دوې پینې موجود دی چې پر مځکه د خدای (ج) خلیفه ټاکل شوی دی ، د مځکې ټول موجودات د هغه تابع شوي دي.

په نړۍ کې انسان ته هر شی اریانونکی موجود ایسي، حال دا چې خپله دانسان دننه نظام اریانونکی دی.

Copyright: www.tanzona.com

انسان د نړۍهغه موجود دی چې عمودي خلق شوی دی او نور ټوله ژوی افقي خلق شوي دي.

د انسان اصلي ماهیت له اتو زرو تر اتیا میلیونو سپرمونو څخه یو سپرم دی.

سعدی (رح) وایي

ابر و باد و مه و خورشید و فلک در کارند

تا تو نانی به کف آری و به غفلت نخوری

همه از بهر تو سر گشته و فرمان بردار

شرط انصاف نباشد که تو فرمان نبری

رحمان بابا (رح) وایي:

روح هغه ساعت داخل ګنم په تن کښی

چه یی دخل په وصال شی د اشنا

چه هرګز ملک الموت پرې نه پوهیږی

هسی شان دی تا وکښلی ځما روح

دروح په هکله د دینونو اعتقادونه سره نژدې دي اسلام وایي خدای (ج) انسان جوړ کړ بیا یې په هغه کې خپله روح پوه کړه، دهندوانو د دورګا د بت خلاصه خوله چې الهي خوله روح په کې پو کوي یاني خدا ی (ج) لومړی بت جوړ کړ بیا یې په پو سره هغه ته ژوند ورکړ نو بیا هغه بت په انسان بدل شو.

په قرانکریم کې د عیسی(ع) یوه معجزه بیان شوې ده چې هغه یوه کوتره له ختو جوړه کړه او په هغه کې یې پو کړه، هغه کوتره د خدای په امر ژوندی شوه .

Copyright: www.tanzona.com

دا چې په ډېرو ژباړو کې د روح او نفس کلمه سره ګډه شوی یا دا چې د هر یو نوم د ژبې د تلفظ په اساس تغییر کړی دی دروح پیژندنه يې څه مشکله کړې ده نو هغه ته ډول ډول تعریفونه ورکول شوي دي .

لکه: دقرانکريم په ځينو ژباړو کې روح ته «سول» او نفس ته «سپيرت »ويل شوی دی او په ځينو نورو کې روح ته «سپيرت »او نفس ته «سول» ويل شوی دی. قراکريم په ځينوژباړو کې نفس روح ژباړله شوې ده او داسې نور.

یونانیان روح ته (سوچ) او نفس ته (تومو‌س) وايي

مصریان روح ته «با» او نفس ته «کا» وايي

اسراییلیان روح ته «روواخ» او نفس ته «نیفیش» وايي،هندوان روح ته « جیوا» اونفس ته« اتمان» وايي ،چينيان روح ته«هون» او نفس ته « پو» وايي.

دا ټوله یو شی تاييدوي، چې د انسان بدن له درو اصلو: بدن، روح او نفس څخه جوړ شوی دی.

د سایسنسي علمونو په پرمخ تګ سره دروح په هکله ډېري څيرنې پيل شوې، د انسان ماغزه تشریح شول، د بدن انرژي په ځانګړو کامرو ولیدل شول .د مړينې په مهال ناروغان تر څيړينې لاندې ونيول شول او تول شول ...

ما په دې کتاب کې د روح اړوندې مقالی په درو برخو ويشلي دي : د پوهانو نظرونه، ديني باورونه او ساييسي برسيرنې.

امید چې د دې کتاب له راټول شوو توکو څخه خپلو ځېني پوښتونو ته ځواب وموندئ.په دې اميدچې د سايينس د نورو ښو پرمختګونو سره لا نور ګنګ مسايل روښانه شي.

په درناوري

پوهنمل محمود نظری

لندن ۲۰۱۱

*Download From; Aghalibrary.com*

# د روح ، نفس او ځان ماناوي او تعریوفونه

په نړۍ کې هر معنوي ویی ته ډیري ماناوي ورکړ شوي دي.

د روح مانا وي او تعریفونه؟

همداسي په پښتوسیند( قاموس) کې د روح یا ارواء ماناوي ډول ډول دي لکه : سا، زړه،نیت ، سوچ ، غوښتنه، ذات ...

د روح جمع روحونه ، روح ګانې او ارواح ده.

د روح مانا په انګریزي - پارسي سیند کې ځان ، روان ، شبح (خیالي شی) ، پیری او الهام ... ته وایي.

په الماني- پارسي سیند کې معنویت، روحیه ، ذهن، هوش، ځانلرونکی ا و روان ..... ته وایي.

روح څو ماناوي لکه :عقل (فطرت)، نفس(غریزه)، ځان( ژوند) ،قلب( فواد) او سر( راز) هم لري.

په عبري کې د روح ویی( لغت) د نفس ایستلو او چلیدلو له فعل څخه اخیستل شوی دی چې کله باد چلیدل او کله باد ژباړل شوی دی.

په پارسي کې د روح کلمه د پراخیدو او پرسیدو مانا ورکوي.

په یوناني ژبه کې دروح لغت ته« نیوما » وایي چې « نیو» له نفس کښلو یا چلیدلو څخه اخیستل شوي دي.

Copyright: www.tanzona.com

په عربي کې د روح جرړه «ريح » ده ، له اړه هغه روح ده ،چې« واو» يې د مخکې زير په دليل په « ی» بد ل شوی دی ياني روح له ريح څخه اخيستله شوې ده.

يو روايت وايي:«انما سمی روحا لانه اشتق اسمه من الريح»

ريح د هوا مانا لري او د دواړو ګډه مانا « د هوا چليدل» دی ، روح يو امر دی چې چليږي کله مادي چليدل او کله معنوي چليدل لري.

روح يوه ديني او فلسفي اصطلاح ده چې ټول دينونه په هغه باور لري ياني د جسم غير مادي موجود دی.

روح غيرمادي او مجرده ده. او هر موجود يوه روح لري.

روح ته په ساينس کې بهرنی شی، مستقل، عقلي، شفاهي، غالب، فعال، خپله ازاده اومستقله، په زوره غوښتنه ، تميز او له بهر څخه جلا والی ته وايي

روح مادي حالت نه لري ؛ نه حس کيږي اوخوځښت يي نه ليدل کيږي؛ د هغه وتل له بدنه نه ليدل کيږي.

روح يو مجرد موجود دی چې جسم نه لري او نه وېشل کيږي او د بدن د غړو ژوند او کارندويي (فعاليت )په هغه اړه لري.

که په جسم کې روح نه وي پوستکی ، هډوکي او غوښه ژر خرابه او خوسا کيږي همدا روح ده چې بدن کلونه، کلونه له خوسا کيدو څخه ساتي؛ هغه په خوځښت او خبرو راولي؛ هوښ او پوهېدنه ورکوي.

جسم بيله روح دروند او لاندې خواته لويږي مګر روح هغه نيغ ساتي.

روح په نا پايه عالم کې تل شته او وي به هغه نه فنا او زوال کيږي.

چې جسم بشپړ شي روح له هغه سره کار کوي،

Copyright: www.tanzona.com

روح ( د پروردیګار امر )د هر یوه سره د هغه د وس او توان  په کچه عمل کوي ؛ روح کوشنی او لوی نه لري ؛ زوړ او نوی نه لري ، زیات او لږ نه لري تل په یوخرنګوالي ده ، روح د انسان  دتوان  په کچه کار کوي.

مولانا د انسان  د روح په هکله وايي:

جان جان است اگر جاي ندارد چه عجب

ايكنه جا ميطلبد در تن ما هست كجاست

عقل تا مست نشد از چون وچرا پست نشد

او كه مست شد از چون وچرا رست كجاست

(روح روح ده که ځای نه لري څه عجب

داچې ځای غواړي زمو ږ به تن کې دی چیرې

عقل چې مست نشی له پوښتنو نه لویږي

هغه چې مست شی د پوښتنو خلاصون دی چیرې)

روحونه یو ډول روانی یا روحی زیرمه ده چې دیو چا په فکر،دژوند په تجربیو ،ښو یا بدو  کې را ټولیږي .

روح انسان ته واک ورکوي چې له خدای (ج) سره پټې اړیکې پیدا کړي.

روح  د انسان  هغه غیر مادي برخه ده،چې له خدای (ج) سره تړلې ده .

Copyright: www.tanzona.com

# د نفس ماناوي او تعریفونه

په سیند کې د نفس، نفس او نافس ماناوي داسې راغلي دي.

نفس (náfisa) :بخیل او سوکړ ته وایي.

نفس، (náffasa): لیري کول ، ، ژغورل، هوا ، کرکی، رسوا ته وایي.

نافس (nāfasa): پلټل، هڅه: جګړه، سیالي ، هیله ،ویاړ ته وایي.

نفس ایستل، هوا کښل اوهوساینې ته وایي.

تنفس (tanáffasa) :هوا کښلو ته وایي

(tanāfasa) تنافس:

سیالی ، سیال او سرغړونې ته وایي. تنافس

نفس ( nafs)

نفس په لغت کې ځان او په اصطلاح کله روح او کله غریزې ته وایي.

نفس ( دم) چې په عربي کې روح ده دعربي ژبې د ریح (باد)سره نژدې دی.

نفس د ځانی مالوماتو چینه ده.

په نفس کې هغه حقیقتونه ( لکه ارثی ، زیرمه شوي ، تر لاسه شوي خاصیتونه او مالومات چې په خپله هڅه یې تر لاسه کړی وي) راځي . دا د پوهې حس په نفس اړه لري چې په حقیقت کې په خوب او مړینه کې یو ډول لیدل کیږي.

Copyright: www.tanzona.com

نفس ( ساء، ځان ) مانا شوی دی نو باید تر منځ یې توپیر وشي. نفس دجسم او روح دواړو ټولګه ده.

په عبري ژبه کې د روح کلمه (רוח) او هم نفیش کلمه(נפש) شته . چې د نفیش کلمه د نفس (ځان) او نفس(ساه) ته ډیره نژدې ده.

نفس د هوښیاري یو ډول دی . نفس دژوند یوه سپرغۍ یا لمبه ده.

نفس په بشریت کې دواړه مادي او معنوي جوهر دی انسان روح او نفس دواړه لري او د نفس مانا ده ژوند.

Copyright: www.tanzona.com

# د روح اړوند وییونو مانا وی او تعریفونه

ځان ( ضمیر)ته روان، سا ، روح، ژوند، مخلوق، څکول، چلیدل، د تیرولو بړغ ، لویه ګوله، تیارول، توبدل، آزادی، اجازه، هوساینه ، پام او نفس ایستلو ته وايي.

ځان په لغت کي ژوند یا حیات او په ځینو دینونوکي روح ته وايي.

ځان: په ویی کې ژوند او حیات ته وايي په ځینو دینونو او فلسفه کې روح ته وايي. د ژوند پیژندولو په علم کې ژوندی موجود باید د ژوند عملونه لکه :ساه ایستنه، خوړل ، وده، تناسل، او خوځښت ولري.

عقل: په ویی( لغت) کې د فکر واک ته وايي . په اسلامي روایتونو کې د روح او فطرت په مانا راغلي دي.

زړه( قلب او فواد) : زړه په لغت کې د بدن غړي دي او په عربي اصطلاح روح ته وايي.

سر (راز) سر په لغت کي راز او په عربي اصطلاح روح یا انساني روح ته وايي.

Copyright: www.tanzona.com

# روح په افسانو کي

« هومر »په خپلو شعروکي وايي روح هغه شی دی چي انسانان هغه په جنګونو سره په خطر کي اچوي او په مړينه کي هغه له لاس ورکوي، روح هغه اخير نفس دی چي د مړينې په وخت کي د يو جنګيالي له خولې راوځي او د مړو نړی ته ځي . هغه وايي يوازې انسان روح لري ژوی روح نه لري.

دمصر په افسانو او مذهبي نکلونو کي با( د انسان روح) د مړي به بدن کي ده چي وزرونه لري او له مړيني وروسته له مړه بدن څخه الوځي. وايي «با »يوه الوتونکي ده چي سر يې د انسان دی،دوه و زرونه او يوه پکه ( د جيب خوله)غوندي پر تټر لري . رنګ يې روښانه نخودي دی؛ د شا رنګ يې زرغون او وزرونه يې يو رنګ دي او د بنکو سرونه يې تور دي لکۍ يې هم توره ده خو پښي يې لکه سره خاوره رنګ لري؛ په غاړه يې پينځه تور افقي ليکې او پر تټر يې کوشني لنډ عمودي خطونه ليدل کيږي.

خلک وايي دا الوتونکي د روح او جسم يو ترکيب دی او ويل کيږي« با» له مړ جسم نه وځي او لري الوځي او ځيني وختونه هديرو ته ننوځي .د« با» مانا روح ده ويل کيږي د مصر اهرامونه يوازې قبرونه نه دي دا ځاي د مړ پاچا د«با» سره د يوځای کيدو ځاي وو.



Copyright: www.tanzona.com

د برتانیا دایره المعارف لیکي : «کا» یا« ا ک »یا« اخ »روح ته وایي او «با» د یوي الوتونکي په بڼه راغلي ده چې د مړینې وروسته الوځي. د دې الوتونکي نښې لکه( جیبیردو) الوتونکي دي چې و پاچا ته منسوب دي او بیا وروسته« با »انسان لرونکې باز ته ویل شوي دی.

مصري افسانه یي علم د انسان روح په اووه برخو ویشلي ده:رین؛سکېم یا سخیم؛اخ ؛ با؛کا؛شیوت ؛سیخو یا سیکوساهو.

چې روح په جسم کې وي هغه ته( ها) یاني تازه وایي.

مصریان فکر کوي چې« اخ »،« با» او «کا» نه فنا کېږي که د مړي جسم سم وساتل شي  دا درې سره ساتل کېږي او« با »کله چې جسم خراب شو بیرته نه راځي نو په هوا کې یوازې ګرځي را ګرځي.

«کا» هم فزیکي جسم دي چې له مړینې وروسته فنا کېږي خو د مومیالي کولو په صورت کې پاته کېږي.

«رېند » دانسان واقعي نوم دي نو مصریان وایي څوک باید د چا په مکمل نوم پوه نه شي او باید خلک یو بل په تخلص( ستاینوم)  سره یاد کړي.

«کا» او «با» په قیامت کې سره یوځاي کېږي .

«ساهو» روحي جسم دي چې آسمان ته ځي چې د قیامت حساب او کتاب تیر شي که کامیابه وو نو ژوندي جسم ته مغزي او روحي واک ورکوي.

«سیکېم »د ځانګړې ژوند قوه ده چې په آسمان کې له مړینې وروسته د « اکبو »سره اوسیږي.

Copyright: www.tanzona.com

# فیلسوفانو او پوهانو نظرونه

## ۱-دلویدیځو فیلسوفانو او پوهانو نظرونه

په فلسفه کې غیر مادي موجوداتو ته لکه مړو، ملایکو او شیطانانو ته روح ویل کیږي.

د روح په هکله له میلاده مخکې لومړنی فلسفه افلاطوني فلسفه ( افلاطون مړینه۳۷۴ ق م) وه وروسته بیا د افلاطون د شاګرد سقراطي فلسفه ( سقراط مړینه ۳۹۹ق م)بیا ارسطویي فلسفه ( ارسطومړینه ۳۲۲ق م) او د زنون فلسفه ( زنون مړینه۲۶۳ق م) وې او دا لومړي فیلسوفان دی چې د هغو فلسفي تر اوسه دټولو نظریو اساس جوړوي

د یونان فیلسوفانو او پوهانو لکه سقراط او افلاطون باور درلود چې د انسان روح له جسم نه مخکې پیدا شوې ده اوهغه ازلي شی دی .

دافلاطون دفلسفې په اساس روح مجرد جوهر( طبیعي وس او توان ) دی ،دستی او لرغونی دی او د بدن مخکې موجوده او فعاله و. روح له بدن سره اړیکي لري. روح دبل عالم ده او بدن هغه ته یو زندان دی؛ روح د ملکوتو له عالم څخه ده ،دې عالم ته راکښته کیږي او د بدن زندان ته ننوځي.

ځینې نور دا نظر رد وي او وایي:

ولي دتن او روح یو ځای والی لازمي دی؟

او ولي روح راکښته کیږي او د بدن زندان ته ننوځي؟

ارسطو د خپل استاد ( افلاطون) نظریه نه مني او وایي د روح او بدن اړیکي ژورې دي هغه روح قدیمي نه بولي هغه د جسم پیداښت دروح له پیدا ښت سره یو ځای ګڼي. هغه وایي نفس د جسم صورت دی هر صورت د خپلي مادې سره روغه کوي او دواړه یو

Copyright: www.tanzona.com

ځای منځ ته راځي او دا یو اتحادي ترکیب دی دانظریه فارابي او ابن سینا هم منلې ده. ارسطو روح یو الوتونکی شی ګڼي.

د یونان فیلوسفانو انسان یو دوه اړخیز موجود ګڼي چې یو یې روح او بل یې بدن دی .جسم د بدلون په حال کې دی اوروح بې بدلونه ده . روح د لوی لوګوس ( خدای ) ده چې په کایناتو کې ځای لري او هغه له بهره څارل کیږي او کوشنی لوګوس( عقل) په بدن کې ځای لري او هغه له دننه څارل کیږي ، انسان رښتنی شخصیت روح ده بدن د هغه کور یا کالي دی او جسم د روح قبر یا زندان دی او د روح خپلواکي له دې زندان څخه خلاصون دی.

دې فلسفې د خدای په کامل واک ټینګار کاوه او د مسیحی ایمان سیال بلل کېده نو ځکه یې ژر وده وکړه او د څلورمې پیړۍ وروسته یې په مسیحي پوهانو هم اغیزه وکړه.

له میلاد څخه درې پیړۍ وروسته « امونیوس» ، «ساکاس» او« فلوطین » د افلاطون فلسفه نوې کړ ه او هغه یې « افلاطوني نوی فلسفه» ونومول .

اوس ځینې فیلوسفان ټینګار کوي چې روح تجرد لري او هیڅ ډول مادي کیفیت هغه ته مانا نه لري ځینې نور روح یوه لطیفه ماده ګڼي یا په بله وینا هغه نیمه مجرده بولي لکه نور که د اوړدو څپو (موجونو) په ډول وي بیا هم یو جسم دی مګر د هغه حساب له نور و جسمونو څخه بیل دی د مادي جسمونه تر قانون لاندې نه راځي له همدې کبله هغه له شفافو جسمونه څخه تیریږي.

جالینوس وایي: انسان درې روحونه(ارواء) لري:

هغه دطب له نظره سره سم، زړه د روح مرکز او ځای بولي . چې دا نظر تر اوسه د پوهانو د منلو وړ دی.

د دکارت او مالبرانش له قوله حیواني روح په سا ه لرونکو کې په ځانګړې طبیعت اړه لري.

روح د وینو یو جز اود هغه ډیره ظر یفه او متحرکه برخه ده چې دا ظریفوالی او تحرک د تخمیر او د زړه ددغړو د خوځیدو په وسیله لاس ته راوړي.



Copyright: www.tanzona.com

ددکارت د ښوونځي پلويانو په اند حيواني روح  له شاهرګو له لارې سپاره د وينو پر خره مغز ته ځي او هلته د غير مريي وسايطو سره ټول بدن ته خپرېږي خو دا نظريه اوس هيڅ علمي ارزښت نه لري.

دمادي فلسفي نظريه : دا نظريه  په مذهب روحي نيوکه کوي چې له بدن سره روح هم مړه کيږي، دواړه سره جلا نه دي، نفساني ژوند د مادې تجلي ده.

ددې عقيدې پلويان «ذيمقراطيس» او «ابيقور» دي . په اتلسمه پيړی کې« لامتري»، «هلوسيوس»، «هولباخ »او په نولسمه پيړی کې «کارل فوګت»، «بوخنر»، «مولشوت»، دا نظريه ومنله، وايي روحاني امر د جسماني امر انځور دی.

مغز فکر ترشح کوی او ينه صفرا ترشح کوي.

د روح کلمه يو انتزاعي ( دکاره وتلی ) امر او يو فلسفي او متافيزکي ګمان ښيي او باور لري، چې وجدان بېله يو ( پی فنومن) بل شی نه دی .

- دروحي فلسفي نظريه : ددې فلسفي پلويان په ماديونو نيوکې کړې چې حسي مذهب د معرفت په هکله يو پوره نظر نه دی هغو د وجدان «اپي فنومن» هم ردوي.

- دنمودي فلسفي نظريه :دا نظريه روح مطرح کوي او د هغه د حل پسې ګرځي «هيوم» او« استوارت »دروح جوهر والی ردوي. هغوی وايي هغه نفساني نمودونه دي خو دا نظريه هم تر نيوکې لاندې راغلې ده .

- دنقادي فلسفي نظريه: کانت باور لري، چې نفس او روح په مادي يا روحي بللوسره کوم ځواب نه پيدا کيږي. هغوی د ژوند پسله مړينه مني.

- دتحقيقي فلسفي نظريه- دا نظريه  مذهب روحي او مادي دواړه يوشی متا فيزکي بولي او دواړه ردوي، ابدي روح نه مني خو د روحي مذهب نظريه د اصطلاح په تغير مني.

دشهودي فلسفي نظريه: يا د برګسون شهودي مذهب دی چې د روح او بدن  په موازتو باندې نيوکې کوي. خو د روح بقا مني.

Copyright: www.tanzona.com

ډیر فیلوسفان په دې باور دي چې روح یو مجرد او ساده ګوهر دی او له بدن سره د هغه اړیکې تدبیري دي لکه پاچا او هیواد ، بیړی او ماڼو ...

ځیني باور لري روح ټول د بدن او دبدن د غړو حسي خوځښتونه لکه لیدل، اوریدل ... تر سره کوي بدن او د بدن غړي د هغه وسیله ده. دا چې وایو« ما» ولیدل ،دلته له ما څخه مانا« روح» ده ،چې روح د فرد« ذات» دی او د بد ن ټول غړي د هغه وسایل دي دا، چې په قلم څه لیکو اصلالیکونکی روح ده.ځیني روح قدیمه بولي او ځیني نور یې بیا په تناسخ باور لري.

د روح په هکله نظریې

۱-مذهب روحي نظریه :

په دې نظریه کې له بدن څخه روح جلا ده دا د سقراط ، ارسطو او مسیحي حکماو لکه « اګوسن» او بیا «دکارت»، «مالبرانش» ،«لایب نیتز» او په اخیر کې «راوسن» او «امیل بوترو» باور وو.

د هغو دلیل دا دی چې وایي ډیر ژور مادي توپیرو نه له نفساني تجلي سره شته.

مادي شیان جسم لري په حواسو پیژندل کیږي خو نفساني پلوشې جسم نه لري، مستقیم نه لیدل یا پیژندل کیږي یوازې په وجدان پیژندل کیږي، د یو مادي شي حرکت کولی نشي په یو نفساني شی یاني په فکر تبدیل شي.

د دکارت په باور روح په یقیني علم سره پیژندلی شو.

نفساني ژوند په ژور ډول په بدني حیات اړه لري او هر یو په بل اغیزه شندي.

هغوی روح ابدي بولي چې د بدن له مړیني وروسته ژوندی پاته کیږي لکه چې سقراط له افلاطون څخه نقل کوي هغه وایي:

که دیو سازي ساز مات شي هغه بیا هم ژوندی پاته کیږي.

Copyright: www.tanzona.com

Copyright: www.tanzona.com

## ۲- دختیځو فیلسوفانو او پوهانو نظرونه

دچين پوهانو شپږ پيری مخکې له میلاده باور درلود چې روح يو بېله عادي جسده يو پوښ لري چې فنا او مړينه په هغه اغيزه نه لري او روحونوله هر ی لوري موږ احاطه کړي يو، چې دا باورونه د کنفسيوس د باورونو په نامه ياديږي.

مصر ي پوهانو پينځه زره کاله مخکې له میلاده باور درلود چې روح د انسان په قالب کې شته او د جسد د مړينې وروسته بل جسد ته ځي.

د فارس د پوهانو باور په اهريمن او اهورامزدا وو.

بوعلی سینا وایي: په حقیقت کې (مړينه) له بدنه د روح او انساني نفس چې دبدن غړي دي خوشي کيدو ته وايي.

بو علی سينا وايي:( خدای خلک له درو شيانو څخه پيدا کړی دی يو تن چې هغه ته بدن يا جسد وايي اوبل ځان چې هغه روح بولي او دريېم روان چې هغه نفس بولي( رساله نبض ابوعلی سينا)

درم سايه و روح دانايی است
درم گرد کن تا توانايی است
چو پيوستند عقل و نفس با هم
از ايشان زاد ارواح مجسم

د شيخ اشراق نظريه درې اساسي ټکي لري:

- روح له جسم څخه مخکې اولرغونې نه ده

- د ناطقه نفس تدبيرد حيواني روح په واسطه دی

روح زمان او مکان نه لري او په تجرد او لطافت کې ژوند کوي نود مادي منځګړتوبه پرته بدن ته ننوځي.هغه وايي د روح او بدن تر منځ يوه اړيکه د( حيواني روح) په نامه شته نو ناطقه نفس ( انساني روح) په نيغ ډول د حيواني روح او په مجموع کې د يو بدن توکي دي او ځای يي زړه دی او دپوهي قوه يي کارکونکي قوه ده چي بدن ته لاره ښيي.

- شوقی اړيکي:چي دانسان بدن تيار شي بيا روح اخېستلو ته تياريږي او انساني روح ورته راځي او ورسره يو ځای کيږي دا اړيکه شوقي اړيکه ده که څه روح مجرده ده مګر د کړو له نظره په بدن تړلي ده او د هغه فعاليت يوازې په بدن اړه لري.

ددې نظريې په اساس د روح اړيکي لومړی د حيواني روح سره اوبيا د حيواني روح په وسيله له بدن سره دي.دا نظريه هم رد شوې ده .

ابراهيم بن يحيی شيرازی مشهور په صدرا د يولسمې هجري پيړی يو محمد بن اسلامي فيلسوف وايي:

روح له جسمه مخکې ده : روح د مادي جوهر د خوځښت په اساس پيدا شوې د ه چي دا د مادې خاصيت او اغيزه نه ده خو د مادې دجوهر کمال دی نو د روح د پيداښت اساس د ذاتی خوځښت په اساس جسماني ماده ده.

بدني ماده دا توان لري چي په خپل لمن کې يو موجود وروزي، او د ژوند پړاونه هغه له ضعيف والی څخه کمال ته رسوي. د جسم په ذ ات کې بدني

تياری او خوځښتونه د روح دوجود له اړتياو څخه دی . دا چې روح جوهر يا ذات دی له بدن سره حقيقي ترښت لري ياني د دوی اړيکي د ژوند په اصل کې بنيادي او ژوري دي.

نچوړ دا چي بدني ماده په خپل ذات او جوهر کې کامله شوې ده چي وجودي درجې لري چي د درجو په اساس غير مادي او غير بدني دي او اغېزه يي سوچ، اراده او نور روحي حالات دي.

هغه وایي د قرانکریم د مؤمنون د سورې په دولسم مبارک آیت کې د انسان مادي پیداښت (نطفه، علقه، مضغه، عظام و لحم ا و تکمیل بدن)فرمایي «انشاناه خلق آخر...»یاني دې بدن ته یې بل پیداښت ورکړ او په نوی فعالیت مو راوست.

یاني د روح او جسم پیداښت په سر کې د هستي اصل وو.

ځینې پوهان روح ته ناطقه نفس وایي او دا دواړه ورته ګني د ناطقه نفس اړیکې یوازې د انسان له بدن سره دی.

عقل د حسی نفس یا ناطقه دنفس د کمال پوړ ته وایي چې هغه په زړه، روح ،بخاربا مجرد) پورې اړه لري. نفس ( روح

حیواني روح چې په هغه کې بخاري روح شته دژوند ، حس ا و خوځښت چینه ده چې دټولو ژوو د بدن په غړو کې شته .

په نفس کې بخاري روح د ټولو حسونو چینه ده

له دې نه مالومیږي چې د فیلوسفانو له نظره ناطقه نفس انساني روح ده چې جلا او له حیواني روح څخه توپیر لري .

حیواني روح یو ډول جسمونه دي چې دبدن په خرابیدو سره له منځه ځي او هغه شی چې پاته کیږي انساني روح ده .

بخاري روح ، نفساني روح او حیواني روح طبیعي روح ده چې د ژوو او نباتاتو د ځواک وړونکی( حامل) دی او ځای یې زړه دی . بخاري روح ته غریزي روح هم وایي.

بخاري روح لطیف تود جسم دی چې د تن له څلور لطیفو اخلاطو څخه جوړ شوي دي چې د بدن غړي ددې اخلاطو د سره کښیکښلو څخه پیدا کیږي او دې ته حیواني روح وایي، چې د قوا حامل دی.

ملاصدرا له شیخ الرئیس بوعلی سینا څخه روایت کوي چې « بخاري روح » ته «ځان» وایي او



Copyright: www.tanzona.com

« ناطقه نفس » ته «روان» وايي.

هندي فيلوسفان باور لري، چې روح د بګوان لخوا په انسان کې پو کيږي او کله چې انسان مړ شي يو روښانه بدن د هغه روح پوښي چې د ژونديو خلکو سترګې هغه نه ويني او بيا هغه لوړ عالم ته ځي.

د محمد حسين فاضل تونی په خپل کتاب ( لرغوني حکمت) کې ليکي:

د نفس او بدن د تغير دليل دا دی چې بدن تل د تغيير او تبديل په حال کې دی او ناطقه نفس د عمر له پيله تر زړښته پورې ثابت پاته کيږي نو نفس له بدن او مزاج څخه بيل دی.

يوه بله نظريه وايي چې د سيالاتو ( خوځيدونکي مايع)غلظت د جسم او روح د پيوستون دلړيدو لامل ګرځي نو ځکه روح الوځي او بېله روح جسم هيڅ عمل کولې نشي.

بله نظريه وايي د روح الوتنه په خلاوو( تش ځايو) پورې اړه لري دا خلاوي روح ته د انرژي د تلو راتلو لارې دي، چې هره خلا خپله ځانګړې توان او پياوړتوب لري چې د تللو او وتلو لارې لري.

ځيني وايي له بدنه د روح الوتنه درې اصله لري: سوچ، نور او ږغ چې هر يو ددې درو شيانود بدن په ارادي والي کې مهمه برخه لري.

روح د خدای (ج)له پلان څخه وبشر ته خبر ورکوي او د مرستې هڅه کوي.

روح زموږ د ژوند لپاره د ښو روښانو لارښوونو چينه ده او موږ په عبادت سره له خپلې روح څخه غواړو چې په مهمو پريکړو کې مرسته راسره وکړي

کله چې خدای (ج) روح په انسان کې پوکړه ملايکو انسان ته سجيده وکړه نو له اړه سجيده روح ته شوې ده نه انسان ته.

روح زموږپه دواړو مړينو او ژوندي کېدو

Copyright: www.tanzona.com

کې شاهد ه اوناظره ده، هغه انسان ته معنوي وده، تجربه او ښوونه ورکوي.

روح د کړکیچ ،ناروغي یا کومې پېښې په مهال لکه دتليفون کارت موږ ته خبر را کوي .

روح انسان ته پوهه ورکوي او څه کوي د هغه پوهي ته تغيير ورکړي.

ځينې پوهان روح دانسان وګړتیا(شخصيت) بولي خودځانپالی وګړتيا يوازې د ځان او دځان د اړتیاو په هکله سوچ کوي مګر روح د نورو له چوپړ څخه خوند اخلي.ځکه د روح يوه ځانګړتيا دا ده چې انسان د نورو چوپړ ته هڅوي .

روح پنځونکي ده، روح د شخصيت اړتیا ده،

شخصيت له روح څخه خپل ښه غواړي او روح له شخصيت څخه د خدای (ج) خوښه غواړي. شخصيت بې موخه اود غوښتني په اساس کار کوي مګر روح يو روښانه مانا اوموخه لري.

د اچې وايي روح مجرده ده تجرد په لغت کې لغړ والي ته وايي او د فلسفي په اصطلاح هغه شی دی چې مادې خواص ونه لري ياني دا چې نه وېشل کيږی، تغيير او وده نه کوي.

اسلامي فيلوسفان وايي: د بدن د غړو او مادي بدن پرته يو باطني شی شته چې ولولو، پوهي، سوچونو، حرکاتو ، سکناتو ، ارادي کړو او انفعلاتو لامل ګرځي چې هغه همدا ناطقه نفس يا انساني روان دی.

مګردا پوهه او ولولې په ټولو موجوداتو کې يو ډول نه دي نو ځکه انساني روح له حيواني روح څخه جلا ده.

ملا صدرا(رض) وايي: خدای (ج) په خپل واک يولطيف روحاني جرم جوړ کړ چې دهغه نوم دی: نفساني ، حيواني او طبيعي روح ،چې د لطافت درجي يې سره توپير لري او هغه څه چې انسان له نورو ژوو څخه ممتاز او جلا کوي هغه ناطقه نفس دی او دکمال په اساس هغه عقل بولي.

Copyright: www.tanzona.com

په سانسکریت کی یوه سلوکا وایي

NAINAM CHIDRANTHI SASTRAANI NAINAM DAHATHI PAAVAKAHA
NACHAINAM KLEDAYANTYAPO NA SOCHAYATHI MAARUTHAHA

روح هغه ده چې نه په لاسو سوری کیږي ،نه په اور سوځي ، نه په اوبو منځل کیږي او نه په باد الوځي هغه داسي شی دی چې له منځه نه ځي هغه نه پیل درلود او نه پای لري، هغه به تل تر تله وي.

روح د« پاراماتما »سره یو شی دی خدای تعالی «پراماتما» دی یا فوق العاده روح یا اتما ده چې تولي روحګانې په بر کي نیسي.

لکه:رودونه چې په پای کې لوی سیند ته لوېږي روحګاني خپلي لارې لري و فوق العاده روح «پاراماتما» ته ځي.

لرغونو طبیبانو روح یو لطیف بخار بلی چې په زړه کې ځای لري او د ژوند دحس او خوځښت لامل ګرځي.

د روح ډولونه

لرغونو طبیبانو درې ډوله روح پیژندله:

۱-طبیعي روح :دا روح د حیوان او نبات ګډه روح ده چې د حیوان په ینه کې ځای لري هغه ته «نباتیه» ،« نامیه »او «شهوانه» هم وایي.د طبیعي روح ځای ینه ده چې د ودې او خوړولو د چارو مسووله ده

۲- حیواني روح: دا روح په انسان او حیوان کې شته او د هغه ځای زړه دی او د رګونو په وسیله د بدن غړو ته ځي چې د غیر ارادي حرکاتو او شهوت مسووله ده.

۳-معنوي روح: دا روح دانسان یا ژوندی جسم یو جوهر دی د هغه ځای دماغ اصغر دی او دا د ارادي اوعقلي حرکاتو مسووله ده.

Copyright: www.tanzona.com

د لرغونو حاکیمانو د باور په اساس که له مړیني وروسته د انسان روح او نفس سره یوځای شي د هغه هوښیاري پاته کیږي او په سر چپه یې د هغه هوښیاري د تل لپاره ورکیږي .

فیلوسفان وایي روح په ژوند کې سوچ کوونه ده چې غیرمادي ده ،ژوندي شیانو په روح سره ځان پیدا کړی دی، چې سړی مړ شي روح په ابدي او غیر مادي ژوند له جسمه لیري ځي .

د انسان په جسم کې خدای (ج)خپله روح پوکړې ده . خدای (ج) دانسان روح ته د خپل روح نسبت ورکړی دی چې دا یو لوی واقعیت دی نو ځکه انسان ددې روح په برکت او علمی شرافت پر ټولو موجوداتو حکمروایي کوي. له همدې کبله ټول ژوی دانسان چوپړ کوي.

حیوانات هم لکه موږنفس لري روح هغوی هم لکه انسانان ژوندي او نیغ ساتي ، پوهه او مالوت ورکوي.

حیوانات کولي شي دیو بل سره خبرې وکړي ( د سلیمان (ع) دخبرو کیسه د الوتونکو سره په قرانکریم کې راغلي ده) هغه یوازینی سړی دی چې خدای (ج) هغه ته د حیواناتو سره د خبرو علم ورکړ ی و.

دا چې انسانان ضعیف او قوي دي روح د هغوی د وس او توان په مچه ورسره کار کوي.

دساری په ډول روح له یو کلن ماشوم سره د هغه داستعداد په کچه کار کوي ځکه د یو ماشوم د ذکاوت کچه د یو دیرش کلن سړي سره توپیر لري.

روح دانسان په سلامتي اړه لري او سلامتي بیا په خپله بشر اړه لري نو ځکه ځان ساتنه په هر انسان واجب ده.

Copyright: www.tanzona.com

# په اسلامي او ديني کتابونو کې روح

روح د خدای (ج) پيغام دی.(منتهی الارب ) (آنندراج ) او (اقرب الموارد).

جرجاني وايي : روح له علم غيبه څخه ده ،چې زړه ته په ځانګړې ډول القاء شوی ده.
.

روح د د خدای فرمان او حکم دی .(منتهی الارب )، (آنندراج ) او (اقرب الموارد)

روح فقهاوته الهی امر او رحمت دی. (منتهی الارب ) او (آنندراج)

روح ملايکه ده په شکل د انسان او دملايکې تن دی (منتهی الارب ) او (آنندراج ).

روح هغه ملايکه ده چې په يو کتار کې وي اونورې ملايکې په بل کتار کې وي.
(تهذيب عادل).

روح د موسيقي له پردو يوه پرده ده. (برهان قاطع).

روح د قرانکريم له ( ٣٢ )نومونو څخه يو نوم دی .(نفائس الفنون ).

روح جبرييل دی. (منتهی الارب) او (غياث اللغات ).

روح ځان دی جمع يې ارواح او مونث ده. (آنندراج)

په ځينو رسالو کې راغلی دي چې اور ته روح، باد ته عقل ، اوبو ته نفس او خاورو ته جسم وايي. ( کشاف اصطلاحات)

روح يو لطيف بخاري جوهر دی چې د وينو د لارې د زړه کينې خوا ته ځي. ( غياث اللغات)

طبيبان روح ته د ماغزو هوا وايي ( ذخيره خوارمشاهي ).

Copyright: www.tanzona.com

تهانوي وايي : روح د طبيبانو په اصطلاح يو لطيف بخار دى چې په زړه کې ځاى لري او دانسان د واک ،حس او خوځښت لامل کيږي او ددې دو (روح او نفس) تر منځ زړه دى چې د کلياتو او جزيياتو درکونکى دى خو حاکيمانو بيا زړه او لومړى روح يو شی ګڼي او روح ناطقه نفس بولي( الفنون)

خلکو درې ډوله ځواک لري: طبيعي، حيواني او نفساني... او دې درو ځواکونوته روحګاني وايي هغه ته غضبيه نفس هم وايي.

نفسانيه روح په دماغ کې ده او د اعصابو په وسيله ټول بدن ته ځي. (ذخيره خوارمشاهي)

صاحب کشاف په ا صطلاحات الفنون کې ليکي: د روح په هکله ډير ډول ډول خبرې شته:

ځيني وايي : انساني روح ناطقه نفس او مجرده ده. ځيني وايي: هغه لطيف جسمونه دي لکه اوبه په سرو ګلونو کې. ځيني وايي: روح په زړه کې هوايي شيان دى .ځيني وايي: هغه مغز دى. ځيني وايي: روح حيات دى .ځيني وايي: روح د اور اجزا دي. ځيني وايي: روح غريزې حرکات دي. ځيني روح نفس بولي. ځيني روح لطيف جسم بولي لکه غوړي او شيدژ په بادامو او جوزو کې. ځيني روح روحاني نور بولي او ځيني روح د نفس لپاره يوه وسيله بولي.

ځيني وايي :نفس يو چټل جسم دى او روح په هغه کې لطيف جسم دى او عقل په هغه کې نوراني جوهر دى، ځيني وايي: نفس تود ه روح ده چې د حرکتونو او شهوتو نو لامل ګرځي ، ځيني روح ښه نرى وږمه بولې چې ژوند پيدا کوي.

نفس د خلکو د نظر ځاى او زړه د خالق د نظر ځاى دى«الاصل الصغار»

. هر نبی پينځه روحونه(ارواء) او هر مؤمن درې روحونه(ارواء) لري«ابن منده »

داامام غزالي په کتاب «مشکوةالانوار» کې د روحونو مرتبې پينځه بيا ن شوي دي :

Copyright: www.tanzona.com

لومړی حساسه روح: چې محسوسات په پينځو حسو نو حسوي دا لومړی اصل حيواني روح بولي چې ان په تی رودونکو ماشومانو کې هم شته.

دويم خيالي روح : چې محسوسات اخلي او هغه ساتي بيا هغه عقلي روح ته چې د هغه پورته ده سپاري چې د اړتيا په مهال کار ترې اخلي دا ډول روح په تي رودنکو ماشومانو کې نشته.

که له کوشنی ماشومه کوم شی پټ شي هغه نه ژاړي هغه هيروي، چې ماشوم څه لوی شي بيا يي شی نه هيريږي د هغه پسي ژاړي او هغه غواړي.

ځکه د هغه شي انځور د هغه په فکر کې پاته کيږي، دا روح په ځينو حيواناتو کې هم ليدل کيږي خو پتنگ هغه نه لري بيابيا اور ته ورځي خو سپي يې لري.

دريم عقلي روح : دا هغه واک دی چې له حس او خيال څخه د هغه مانا درکوي او دا يو ځانګړې انساني جوهر دی چې په ماشومانو او حيواناتو کې نشته

څلورم ذکري يا فکري روح : چې له عقلي شيانو څخه تاليفات کوي او له هغه څخه پايله اخلي که دوې پايلې تر لاسه شي د هغو تر منځ تاليف کوي او تر لايتناهي پورې پر مخ ځي.

پنځم قدسي دنياوي روح: چې ځانګړې د پيغمبرانو او اولياو روح ده چې هغوی په غيبي لوايحو ، د اخيرت په احکامو او آسماني او ځمکني شيانو پوهيږي،چې عقلي او فکري روح دې حد ته رسيدای نشي.

بايد پوه شو هر شی چې حس کولي شي هغه روح لري.

په «تهذيب الاحکام» کې راغلي دي چې حاکيمان گمان کوي چې ملايکې مجردې عقلي او آسماني دي او پيريان مجردي ارواحګاني دي چې په عنصرياتو تصرف لري او شيطان دهغو د خيال قوه ده.

خو له دې هريو يوه کلي روح لري ،چې له هغه ډيري روحګاني خپريږي .د الله امر ته کلي نفس وايي هر کايين روح لري چې د هغو امر مني چې طبايع تامه نوميږي.



Copyright: www.tanzona.com

صاحب په «الانسان الکامل » کې لیکي : وپوهیږه ! چې هر شی حس لري هغه الهی روح لري ،چې د هغه په واک ولاړ دی.

روح مانا نسبت د هغه له صورت څخه دهغه لفظ ته ده او همداسې الهي روح دمخلوق روح لري چې د هغه صورت په هغه ولاړ دی او د روح مانا نسبت د هغه له صورته د هغه لفظ ته ده او هم دمخلوق روح الهی روح لري چې په هغه ولاړ دي.

په «کلیات ابی البقاء» کې راغلي دي: حیواني روح لطیف جسم دی چې ځای یې په زړه کې دی او د رګو نوپه وسیله ټول بدن ته ځي او دانساني روح په هکله بېله خدای (ج) څوک نه پوهیږي.

روح لکه اوبه ځي اوباد الوځي، دیوالونه او ښارونه د هغه خنډ کیدای نشي.

د ځینومفسیرانوپه اندله روح څخه موخه د روان ژوند دعامل په مانا راغلی دی بررسی مقدماتی «اصول روانشناسی اسلامی»

حضرت علی(رض) فرمايي: د انسان روح یو ډیر ګران بیه جواهر دی هر څوک چې د هغه ساتنه وکړي د هغه ارزښت به ډیر کړي او هر څوک چې د هغه په ارزښت پوه نه شو اوله هغه څخه ساتنه ونه کړې د هغه له ارزښته به کم شي «غرر الحکم »

ملاصدر(رض) وايي: علوي سماوي روح د عالم له امر څخه ده او بشري حیواني روح د له عالم خلق څخه ده. د روح محل علوي دی.

حیواني روح لطیف جسم دی چې د حسي قوي او خوځښت حامل دی.

روح په حیواناتو کې د ځانګړو قواوو دبرکت منبع ده، او علوي روح په حیواني روح کې ځای پر ځای شوې ده چې هغه ته نفس وايي او دا نفس د روح ځای یا محل دی ، نفس په زړه کې دی او له زړه څخه مراد هم هغه لطیف زړه دی چې ځای یې د غوښو په زړه کې دی ، چې په بدن کې دی .

زړه له عالم خلق څخه دی او لطیف زړه له عالم امر څخه دی.

زړه ، بخاري روح او نفس ( مجرد روح )د حيواني روح مرکبات دي، چې د ژوند دحس او حرکت منشا ده چې د ټولو حيواناتو په بدن کې شته.

بخاري روح د نفس مرکب دی چې د ټولې پوهې سرچينه ده.

ناطقه نفس يوازې د انسانانو له بدن سره تړاو لري او په پايله کې انساني روح لطيف امر دی چې د علم او انساني پوهې سرچينه ده.

ځينې بيا روح، ناطقه نفس بولي او دواړه سره ورته ګڼي.

ځينې روح د نيکو صفتونو ځای او نفس د بدو صفتونو ځای بولي.

بخاری روح يو لطيف تودجسم دی چې د څلورو لطيفو مايعاتو ( بلغم ، وينه ، صفراءاو سوداء) څخه پيدا کيږي او بدن د هغه پوښ دی.

بخاري روح ، نفساني روح او حيواني روح چې طبيعي روح ده د حيوان او نبات د قوا حامل ده او د هغه سرچينه زړه دی، بخاري روح ته غريزي روح هم وايي.

د طبيبانو په کتابو کې انساني روح ته ناطقه نفس ويل شوی دی نو د روح بحث په بخار ي روح پيل او په روح القدس او روح الله ختميږي.

ملا صدر (رض) له شيخ الريس بوعلی سينا څخه روايت کوي روح بخاري هغه تود لطيف جسم چې دڅلور خلطو څخه پيدا کيږي او دې روح ته حيواني روح وايي چې قوت ليږدوي.

ځينې وايي روح د ښو کړو ځای او نفس د بد و کړوځای دی.

بغوی(رض) له حضرت علی کرم الله وجهه څخه نقل کوي:

« په خوب کې روح له بدنه وځي مګر دده ځانګړې اړيکه د ځانګړو وړانګو په وسيله له بدن سره وي، چې دغه تعلق او اړيکي له وجې ژوند له خرابيدو ساتل کيږي»

حضرت شاه صاحب (رض) وايي : روح ظاهري هوښ دی او هغه روح چې په هغه سره تنفس جريان لري او نبض خوځيږي او خواږه هضميږی هغه بل شی دی چې پخوا د مړينې له راتلو څخه نه ايستل کيږي( موضوع القران)

او ځينې وايي روح دانسان مادي او معنوي منظره ده .

امام صادق(رض) د ( و نفس وماسواها ) د آيت شريف په باره کې وايي:

خدا(ج) روح پيدا کړه او هغه ته يې تولي بدۍ او نيکی ور وښوولې ( علم يې ورکړ) او هغه يې آزاد پرېښود چې هر څه يې زړه وغواړي هغه وکړي (بحارالانوار)

د خدای (ج) په اراده روح له بدنه په دوو لارو وځي.

۱- په نا ارادی او نه غوښتونکی ډول د روح وتل لکه په خوب کې

۲-په ارادي او هوښيارانه توګه د روح وتل لکه په مړينه کې.

ځينې علما بيا وايي:

روح عموما د وتلو وروسته په درو ډلو ويشل کيږي:

۱- يوه روح
روح دانسان له بدنه په اګاهانه ډول وځي او اړيکې يې له جسم څخه نه پرې کيږي دا روح په نړی کې ګرځي راګرځي خو د تيرو او راتلونکي په هکله زيات څه نه وايي لکه په خوب کې

۲- آزاده روح
جسم له روح څخه بشپړه جلا کيږي،کله چې زړه دريږي روح داسې يو تونل ته چې په اخير کې يوه رڼا مالوميږي ځي هغه تير او راتلونکي ته تللی شي د اسې کارونه کولی شي چې انسان حيرانوي او ټول ژوند يې لکه يو فيلم د هغه تر سترګو تيريږي .
۳- د روح وتل د پيريانو په مرسته

Copyright: www.tanzona.com

پیریان په حقیقت کې روح له بدنه نه جلا کوي بلکې د هغه اړیکې له جهان سره تړي
هغه ځوک چې له پیریانو سره اړیکې پیدا کولی شي روح هغو ته وړاند وینې کوي دا
روح تیر او راتلونکی ورته وایي چې اریانونکی دي خو د وخت مالومات نه لري.

دانساني روح ځانګړتیاوی

- روح هویت په بدن تړلي دی:

د روح اوبدن اړیکي بهرنی نه دي ، روح له بدن سره پتې اړیکې لري، روح یوجوهر
ي موجود دی ،یاني د هغه اړیکې په ذات نه دی بلکې د روح د ذات او وجود په محور
کې دی یاني د ا اړیکی د بدن دننه او پټې دي.

- وده او تکامل کوي

خوځښت له مادي پیل کیږي تر هغې پوره رسي، چې نفساني تجرد پیدا کړي یاني وده او
تکامل وجود لري .

- انسان یو د انواعو څخه نه دی:

دروح هویت ، وده او پرېوتنه د انسان په کړو اړه لري شاید انسان حیواني خوی ونیسي
یا د اولیاواو انبیاو خوی

او دا هم جوته ده ، چې په ټولو موجوداتو کې پوهه ، سوچونه او احساسات یو شان نه
دي نو انساني روح(ناطقه نفس )یوازې د انسان له ځانګړتیاو څخه ده، چې دا له حیواني
روح څخه جلا ده

- روح آسماني اود خدای له امر څخه ده او دحیواني بشري روح پیدابښت له عالم
څخه ده

Copyright: www.tanzona.com

چې يو پوست جسم دی او د حس او خوځښت حامله قوا ده.
نو ځکه  په نورو ژوو کې روح د د برکت منبع او يوه ځانګړې قوا ده اوآسماني روح په حيواني روح کې ځای پر ځای شوې او په زړه کې ځای لري.

هغه وايي الله (ج) په خپل قدرت دا لطيف روحاني ځانګړی جرم ( جسم) پيدا کړی چې موږ يې د نفساني روح ، حيواني روح او طبيعي روح په نومو بولو او د پوړونو توپير يې په لطافت اړه لري چې د ټولو کړو ، جسماني ولولو، دردونو او خوښاليو سرچينه ده چې په انسانانو کې له نورو ژوو څخه جلا او ښه ده . انساني لطيفه روح امر دی چې دانسان د علم او پوهې دليل د ی.

Copyright: www.tanzona.com

# روح په ادبیاتو کې

په ادبیاتو کې لکه پاکه روح، خوشاله روح او د روح دعذاب کلمو سره اشنایو او په فیلم او ننداړمو کې بیا شبح و یا پیری د خندا یا ویرې لپاره استعمالیږي.

په ډیرو دینونو کې دا کلمې د معتقدینو د ویرولو لپاره کارول شوي دي.

ویل کیږي روح له مړینې وروسته پیژندله کیږي او وایي روح د انسان د مړینې په لومړی شپه قبر ته ورګرځي او مړی بیرته راژوندی کوی او له هغه سره سوال او ځواب کیږي .

په قیامت کې بیا روح د جسم سره یو ځای کیږې چې بیا هغه جنت یا دوږخ ته ځي ادا هغه خبرې دي چې موږ ته په ارث رسیدلي دي.

د روح په هکله د بشر تعجب ددې په پار دی چې وینې یو بل و اک شته چې د طبیعت پر خلاف او ضد په جګړه کې دی اودا هغه ته یو سر یا راز دی.

یوشاعر د دي سر په هکله داسي وایي

سری است که جز نهفتنش نیست روان

دری است نفیس و سفتنش نیست روا
رازی که میان جان جانان منسـت

دانسته نیست و گفتنش نیست روا

«راز دی چي بېله پټولو يي نشته روان

ګرانه مرغلره ده سوری کول يي نه دي روا



Copyright: www.tanzona.com

هغه راز چې د جان او جانان تر منځ دی

نه پوهیږو او ویل یي نه دی روا»

په عربو کې چې څوک مړ شي وايي: د هغه روح ته دعا وکړه!؛ د هغه روح جلا شوه؛ په اخیرت کې ستا سو روح سزا ویني...

جان قصد رحیل کرد گفتم که مرو

گفتا چه کنم خانه فرو می ریزد

(روح دسفرتکل وکړ ویل مي مځه

ویل یي څه وکړم کور نړیږي)

از این ملک روزی که دل بر کنم

سراپرده در ملک دیگر زنم

پس این مملکت را نباشد زوال

ز ملکی به ملکی بود انتقال

(ددې ملکه چې یو ورځ زړه صبرکړم

خیله غږدی به په بل ملک کې ودروم

په هغه ملک کې چې نه لري زوال

له یو ملکه بل ملک ته وي انتقال)

Copyright: www.tanzona.com

سعدی وايي

ما کشته ی نفسیم و بس آوخ که برآید


از ما به قیامت که چرا نفس نکشتیم

انسانان عموما د روح په هکله په سوچ کولو کې غفلت کوي مګر کله چې ناروغ شي د هغه حسونه وېښيږي که يي په خدای ايمان درلود روح يې ارمتيا پيدا کوي ځان په قضا او قدر سپاري او په عين حال کي د الله (ج) درحمت اميد لري.

او هغه کسان چې په علمي ختاوو ځان ختا باسي د علمي دغدغي او شکونه د هغوی روح ځوروي ځکه په دي برخه کې د فطرت نور لږ دی نو دا پر هغوی ژوند ترخوي او ان ځان وژني ته يي اړ باسي .فردوسي د مړيني په هکله وايي:

جهان یادگارست و ما رفتنی
به گیتی نماند به جز مردمی
به نام نیکو گر بمیرم رواست
مرا نام باید که تن مرگ راست

Copyright: www.tanzona.com



Copyright: ww

# د روح په هکله باورونه

په روح باندې باور عموماپه دروبرخو ویشل کیږي:

## ۱- د ماده پرستو نظر

هغه بې دینه خلک چې په روح باور نه لري او وایي انسان د مړینه وروسته له منځه ځي؛ دې خلکو ته ماتریالیستان وایي.

ماده پرستان په دې باور دي، چې روح له بدن څخه جلا ده او روح دبدن د جوړښت او مزاج زیږنده ده . هغوی هم دله دله دي، چې ځینې روح یو لطیف جسم بولې او وایي هغه د خوړوله لطیفو اجزا څخه پیدا کیږي او ځینې بیا روح د وینو د دوران حاصل بولي او ځینې بیا روح په بدن کې خوځیدونکې هوا بولي او ځینې نور بیا هغه نور بولي او هغه د مزاج د طبیعي تودوخې حاصل ګڼي او ځینې بیا وایي پوهه ، شعور ،فهم او ژوند روحي نښې نښاني دي او روح د دماغ یوه برخه ده او له د ماغي سلولو څخه منځ ته راځي او په مجموع کې ټوله ماده پرستان روح مادي شی ګڼي او هغه د بدن او د هغه د جوړښت زیږنده بولي

اوس د ماده پرستو ټوله نظرونه رد شوي دي .

هغوی وایي دا چې خلک د خوب په وخت کې خوشالي یا درد حسوی یا ځینې شیان ویني نو د هغه علت څه کیدای شی؟

دا ټوله دا ثابتوي چې روح له جسم څخه جلا دی او بل داچې د بدن سلولونه مړه او نوی پیدا کیږي او اتکلا په پنځوسو کالو کې د بدن د ډیرې برخې سلولونه له منځه ځي مګر روح سرچپه لا ډیره ځواکمنه کیږي اوډیر مالومات پیدا کوې او هم انسان په ناروغی کې یوازې جسمي ځواک لږیږی نه روحي ځواک .

Copyright: www.tanzona.com

## ۲-هغه دینونه چې په تناسخ باور لری

هغه لرغوني دينونه دي، چې له مړيني وروسته په تناسخ (د روح تګ بل جسم ته) باور لري لکه :لرغونی یونان، بودايزم، هندويزم، برهمنيزم ، جينيسم، سيکيسم اود پارسانو يو مذهب ، د يهوديانو يوه ډله ، دغلات په نامه د شيعه ګانو يوه ډله چې هغو ی يي د رجعت سره يوه بولي او د دروز ډله او داسې نور

## ۳-هغه دینونو چې په قیامت باور لري

هغوی باور لري چې روح د انسان له مړيني وروسته برزخ ته ځي او د قيامت په ورځ د ښو او بدوعملونه حساب کتاب کيږي دا باور په ابراهيمي دينونو کې لکه اسلام ، مسيحي او يهودي دينونو کې شته.

Copyright: www.tanzona.com

# د پیدایښت مکانیسم

۱-په ټوله عالم کې د خدای (ج) په امر ډول ډول مخلوقات ژوند کوي، چې په ظاهره د یو بل څخه توپیر لري .که د مځکې کرې ته وګورو په هغه کې انسانان ،ژوی، نباتات ؛میکروبونه او داسي نور ژوند کوي، چې هر یو خپل ځانګړي خواصونه؛ ډولونه؛ شکلونه او معین مشابه ترکیبونه لري.

۲- که دې خدايي فلسفې ته وګوره؛ دا ډول ډول لوی او کوشني شیان ماشینونه دي، چې روح له هر یوه سره د هغو د استعداد ، قدرت ، ترکیب او ماهیت په کچه کار کوي.

هر یو ددې ماشینونه د یو ځانګړې کار لپاره جوړ شوي او هر یو خپل الات او ادوات ( پرزې) او پیچونه لري، چې هغه خپل معین کره چې باید هغه وکړي کوي او روح د هر ماشین د استعد اد په کچه عمل کوي.

۳- په دې بې انتها عالم کې، چې په هغه کې تقسیم او جلاوالي نشته؛ بلکه کلي او یوازینی اصل یې د پروردګار امر دی؛ بلی دا د پروردګار امر چې ورته روح وایي چې له هر ماشین سره د هغه د واک او استعداد په کچه کار کوي نو روح په انسان ، حیوان او نبات کې توپیر نه لري.

۴-د انسان بدن چې ډول ډول غړي او حسونه لري؛ هر یو خپلې پرزې لري ،چې د انسان د بدن یو جز جوړوي او روح له هر یوه سره د هغه د استعداد او ونډې مطابق کار کوي.

۵-تفکر: تفکر دانسان د بدن یو کړه دي. تفکر اصلا روح ده او د روح اغیزې تفکر دی. که وپوښتي روح څه شی ده؟ وایو روح عقل او فکر دی ؛ ټول حسونه یو او د روح څڅېدني( تراوشونه) دي.

Copyright: www.tanzona.com

۶- راديو: راديو چې د انسان اختراع ده، چې برېښنا ور ورسيږي هغه چالانيږي. که بدن راديو او روح برېښنا وګڼو ؛که راديو خرابه شي بيا هغه له برښينا سره هم کار نه کوي؛ که هغه جوړه شي بيا له برېښنا سره کار کوي.

۷-که بدن خراب شي نو روح له هغه سره کار نه کوي. روح تل شته که د بدن يوه برخه خرابه شي روح له هغي برخي سره کار نه کوي.

۸- مړينه څه شی ده؟ چې روح ژوندی مګر بدن خراب وي.

۹- که د بدن يوه برخه چې خرابه ده جوړه شي؛ نو روح ورسره کار کوي.

۱۰- اوسنی طب د مړيني په وخت کي بدن داسي ساتلی شي چې کا ر وکړي؛ نو روح له هغه سره ژوند کوي ادا دواړه مړينه ځنډيولی شي.

۱۱- که جسم روغ وي مګر روح ونه لري داسي ده لکه راديو چې روغه وي او برېښنا ونه لري؛ هغه جسم هم مړ دی؛ که برېښنا ورکړل شي بيرته بېله دې چې کوم شی ورډير او کم شي چالانيږي.

۱۲- دانسان بدن چې خدای (ج )جوړ کړی دی هغه ته جسد ويل کيږي. جسد هغه ماشين دی چې د روح په واک کې دی . د انسان په مغز کي داسي پرزې شته چې له روح سره يو ځای کا ر چې بايد هغه وکړي کوي .

۱۳-که څوک ژبه نه لري خبرې کولي نشي . سترګه هغه الت ( ماشين )يا پرزه ده، چې که د روح په اختيار کي وي هغه استفاده ترې کوي نو روح په دې دنيا کي بېله کوم الت ( ماشين )کوم کا رکولي نشي.

۱۴- په ماغزو کي داسي ځايونه شته چې که سم کار وکړي؛ روح له هغه سره کار کوي او که ناروغ شي کار ورسره کولی نشي.

۱۵-انسانان( ۲۱) حسونه لري، چې هر يو يې ځايونه او التونه لري چې روح هغه پيژني او کار ورسره کوي.

Copyright: www.tanzona.com

۱۶- که دراديو چينل ختم شي ؛ بريښنا هم ولري؛ بيا هم هغه کا رنه کوي؛ درست لکه انسان چې په خوب کي وي ،چې چينل پيل شو روح هم په کار پيل کوي.

*Download From; Aghalibrary.com*

# د روح د وجود عقلی دلیل

لرغونو انسانانو د روح په شتون باور درلود ؛نو دا نوی باور نه دی.

دروح وجود او مبدا دلیل او استدلال ته اړتیا نه لري د هغه وجود په ډول ډول دلیلونو د سپړنې او څېړنې وړ دی.

دعقلي دلیل په اساس د مغزي موادو تغیر او د پوهې ثبات دا ښوولې ده.، چې هیڅ مادي موجود د سکون او ارمتیا په حال کې نه دی بلکې ټول موجودات تغییر او وده کوي.

«لئون دنی» فرانسوی اروا پېژندونکی وایي: د فیزیولوژي د علم په اساس د بدن ټول غړي ددوومهمو حیاتي پېښو یاني د موادو جذب او د هغه تبدیل په انرژي کې ټول زاړه سلولونه په نوی سلولونو بدلیږي زاړه او خراب سلولونه له منځه ځي او نوی سلولونه منځ ته راځي چې دا د ماغزو له پستو مواد څخه نیولې تر کلکو هډوکو پورې په بر کې نیسي. د بدن سلولونه د عمر په اوږدوالي کې په وار وار له منځه ځي او نوی پیدا کیږي مګر دسوچ قو ه ، حافظه او زاړه خاطرات بې تغییره پاته کیږي؛له دې څخه دا پایله اخیستل کیږي، چې په وجود کې یو ثابت حقیقت شته چې نه تغییر او تبدیل کیږي او زموږ مالومات له ځواني څخه تر زړښته په ذهن کې ساتي. دا جوتیږي، چې روح د مغز زیږنده نه دی ؛بلکې یو مجرد موجود دی ؛چې زموږ په جسم تدبیري احاطه لري هغه چې اوري،ویني او درکوي.

Copyright: www.tanzona.com

# روح ددینونوله باوره

د نړی په ډیرو مخورو دینونوکې په کراتو مراتو د روح نوم اخیستل شوی دی .
ټولوخلکو ته روح یوه اشنا کلمه ده. د نړی خلک هرورځ په خبرو اترو کې د پاکه روح ، روح دي ښاده وي، له روحي عذابه دي خدای وساتي او داسي نور وييونه او غونډلې کاروي ؛ ان چې هیڅ چا تر اوسه روح لیدلي یا لمس کړې نه ده.

Copyright: www.tanzona.com

عموما له روح څخه له مړيني وروسته یادونه کیږي. لکه داچې وایي: روح د مړيني په لومړی شپه قبر ته ورګرځي ؛د مړی په بدن ننوځي ؛ سوال او ځواب ورسره کیږي؛ بیا تر قیامته روح له بدنه جلا وي ؛ په قیامت کې له بدن سره یوځای کیږي؛ دبدي او نیکي په اساس جنت یا دوږخ ته ځي.

مګر اصلي سکالودا ده ،چې په ژوند کې په روح نه پوهیږو او له مړيني وروسته د خپل روح سره مخامخ کیږو.

بودایان باور لري: روح له یو هیواده بله ته ځي، د نوی زیږېدلي ماشوم په بدن ننوځي ؛ نوی ژوند په نوی قالب کې پیلوي.
مګر د هندانو له انده روح نور دی.، چې حضرت شیوا( یوه الهه) هغه د هر چا بدن ته منعکسوي.
نه پوهیږو روح یا ني څه؟ او د هغه لوی دلیل موږ خپله یو ځکه موږ ځان نه پیژنو که خپل ځان وپیژنو روح خپله پیژنو.

د سوامي ویوي کانندا د« رام کرشنا پاراماهمسا» لوی شاګرد وایي : انسان کولی شي د کایناتو په نړی تجربه وکړي ،انسان په میډیتیشن سره روح حسولي شي . معجزه کولي شي او د خپل روح اختیار اخیستلي شي، ډیرو دا هڅه کړې او د خپلې روح

اختيار لري هغوی بيله فزيکي جسمه هر چيرې تګ راتګ کولي شي او د کايناتو نړی تجربه کولي شي.

ځيني دينونه ادعا لري چې انسان درې روحګاني لري: يو ه يي نباتي ،بله يې حيواني دريمه يې انساني روح ده. د نباتي روح ځای ينه ګڼي، د حيواني روح ځان زړه ګڼي او د انساني روح ځای ماغزه ګڼي .

نباتي روح د بدن د ودې، حيواني روح د احساس او خوځښت اوانساني روح د قضاوت او خبرو خزانه ده.

ځيني دينونه ادعا لري، چې زه، ته او ټوله انسانان روح ده؛ نه هغه جسم چې مونږ هغه وينو.

په ټولو مخورو دينونو کې راغلي دي، چې د روح ځای د انسان په زړه کې دی ؛ زموږ بدن د روح معبد دی.
همداسې ټول مخور دينونو ډول ډول روايتونه لري چې د هر يو اخځ له بل څخه بيل دی، چې د دې سکالو د روښانو لو لپاره بايد لومړي د ځينو مخورو دينونو روايت په خلص ډول بيان کړو او بيا د اسلام دين چې اخيرې بشپړ آسماني دين دی په دې هلکه وسپړو.

## د ټولو دينونو تر منځ ګډ شيان

- روح غير مادي او مجرده ده.

- هر جسم يوه روح لري.

- روح له بدن څخه خپلواکه ده.

- روح نه حس کيږي او خوځښت يي نه ليدل کيږي.

Copyright: www.tanzona.com

# د ټولو دینونو تر منځ توپیرونه

مګر په دې لاندېنیو شیانو کې توپیر سره لري.

د روح تعریف، د هغه ابتدا، له مړیني وروسته د هغه دنده ، مړینه او داسې نور.

دانیمیستان

دانیمیستان یا روح پرستان له لومړنیو مذهبونو څخه دي، چې باور یې درلود روح له یو جسمه بل ته ځي او ان کله کله د انسان روح حیواناتو ، نباتاتو او ان جامداتو ته ننوځي.

دانیمیستان په ارواء باور درلود چې : روحګاني انساني شخصیتونه دي. پوهه لري، اراده لري، مینه او کرکه لري، چوپړ یاخیانت کوي، شوم یا مقدس دی ،خیر یاشر لري .او انسان ته ژوند او خوځښت ورکوي.

هغو دروحونه یوه ځانګړتیا دا بلله ،چې هغه تل پا تې او نه فنا کېدونکې ده یاني چې انسان مړ شي روح یې پاته کیږي نه مړه کیږي یا آسمان ته الوځي، یا په تیاره ځایو ، یا په ځنګلونو یا کندوالو کې ژوند کوي، یا د جنازې سره پاته کیږي او خپله جنازه ساتي نو باید جنازې ته درناوی وشي.

که څوک په بده ورته وګوري؛ زیان وینې. همدا لامل ووچې له مړي سره به یې په قبر کې د هغه کالي، خواړه او ګاڼې ایښوولې.

ددې مذهب د باور اساس دروح په اصالت و او له روح څخه یې موخه یو مرموز واک و چې په انسانانو او نور شیانو کې ژوند کوي.

لوی برون وایي : هغه باور چې موږ د روح په هکله لرو له دې باوره جلادی.

Copyright: www.tanzoha.com

ځکه دانیمیستانو باور درلود چې روح یو مرموز واک دی چې په ټولو شیانواو انسانانو کې شته مګر موږ باور لرو چې مادي شیان روح نلري، روح د ژوند تودوخه او د بدن خوځښت دی .

اسکیموانو هم لکه دانیمیستانو باور لري وايي: انسان له روح ، جسم او اسم څخه جوړ شوی دی.

دلته مالومیږي چې له روح څخه د هغو موخه ځان نه دی.

روح پرستو (لومړینو انسانانو) باور درلود چې مادي جهان او د طبیعت شیان روح لري او انسان هم یو نامریي عیني عنصر د روح په نامه لري، چې انساني ارزښت لري او هم یې په تناسخ باور درلود.

Copyright: www.tanzona.com

# تناسخ څه شی دی؟

په تناسخ دغه دینونه او مذهبونه باور لري

لرغونو یونانانو، بودایزم، هندویزم، برهمنیزم ، جینیسم، سیکیسم اود پارسان مذهب ، د یهودیانو یوه ډله ،د شیعیانو یو ډله په نامه دغلات چې هغو ی یې د رجعت سره یو بولي په تناسخ باور لري .

تناسخ د نسخ له جرړې څخه اخیستل شویدی چې دوې ماناوي لري.

یواوښتون او لیږدونه او بل ځای ناستې چې دلته یې لومړی مانا له یو بدن څخه بل ته دروح تلل زموږ موخه ده.

تناسخ درې ډوله دی :

الف. بې انتها تناسخ: روح تل د یو جسم څخه بل ته ځي.

ب. په ټیټه کچه مخ په کښته تناسخ: انسان چې په ټولو نورو مخلوقاتو کې د پوهې په لوړ پوړ کې ځای لري د هغه روح له لوړ پوړ پوهې څخه د کښته پوړ پوهې ته یاني ژوو یا نورو شیانو جسم ته د ټګ باور دی . ددې باور په اساس دهغه انسان روح چې نظري او عملي قلمرویي بشپړ کړي وي او کمال ته رسیدلی وي د نور له عالم سره یو ځای کیږي . هغو روح چې دا قلمرو یې نه وي بشپړ کړی دځان دبشپړیدو لپاره دکښتو موجوداتو بدن ته ننوځي .

ج. په ټیټه کچه مخ په پورته تناسخ:د روح ټګ له نباتاتو څخه حیواناتو او بیا د انسان بدن ته د ټګ باور دی.

دا درې سره باورنه دقیامت د راتګ سره ضد باورونه دي.

«الف »ډول تناسخ له فلسفي نظره باطل او د قیامت سره په بشپړ تضاد کې دی .

Copyright: www.tanzona.com

«ج» يي يو ناسم فلسفي باور دی که څه هم دقيامت د راتګ مخالف نه دی.

«ب» تناسخ هم له قيامت سره ضد نه دی.

بودايان د کارما-کرمه د قانون په اساس چي مانايي ده «کردار »په دې مانا چې انسانان د خپلو کړو وړو پايله په همدې دنيا کي ويني بيرته دنيا ته راځي او دخپلو کړو سزا په همدې دنيا کي ويني . هغوی باور لري ښه خلک په بل ژوندکي ښه ژوند پيدا کوي او بد خلک په بل ژوند کي په تکليف اخته کيږي، د هغوی په باور په دويم ژوند کې ان د ځيناورو په شکل را ژوندی کيږي

تناسخ ډولونو

۱-رسخ: ياني د انسان روح په جماداتو کي

۲- فسخ: ياني د انسان روح په نباتاتو کي

۳- مسخ : ياني د انسان روح په حيواناتو کي

۴-نسخ: ياني د انسان روح په انسانانو کي

تناسخ چي هندوان هغه سمسارا بولي پرله پسې ژوند کول دي او وايي يوازې لارچي انسان له دې تناسخ څخه خلاص وي د ( نيروانا) سره پيوستون دی. دنيروانا کليمه په لغت کي چوپتيا او هوساينه ده او په اصطلاح کي خدای ته فنا ورل يا ځان سپارل دي ، چي اوس د بواديانو د پام وړ شوی دی.

هندوان د جهان روح ته برهمن او د انسان روح ته آتمن وايي؛(آتمن) يا «خپل» وايي چي تل پاتی شی دی مګر جسم مړينه لري؛ روح لکه زاړه کالي جسم پريږدي او نوی کالي اغوندي.

Copyright: www.tanzona.com

بودا په یو ډول تناسخ باور درلود ،چې هغه لکه اوسنی تناسخ د روح تګ له یو جسم څخه بل جسم ته نه و دهغه باور د دواړو هندوانو او بودایانو له فلسفې څخه یو جوړ شوی باور وو.

بودا وایي لکه د یوې شمع په اور چې بله شمع روښانه و ( د لومړی شمع اور ددویمی شمع د روښنایي لامل ګرځي) د یو موجود پوهوالی کولي شي د بل واحد د پوهي دپایښت لامل شي.

برهمنیان هم په تناسخ باور لري هغو وایي هر وخت چې یو موجود مړ شي روح یې بل جسم ته ننوځي.

جینیسم او سیکان هم په تناسخ باور لري هغوی وایي چې هرجسم روح لري او دا روح له مړینې وروسته بل جسم ته ننوځي . اود ژوند د مهال کړه د روح تر اغیز لاندې وي.

په تائوئیسم کې باور دا دی چې ډول ډول خلک په ډول ډول وختونو کې ژوند کوي او مړینه یې پایله نه ده، ژوند محدود نه دی او دوام یې بېله پیله دی.

کبالا ( یو حکمت دی چې نه پوهېدونکو شانو ته په جادو سره لاس رسی پیدا کولو ته وایي) یوې بلې پدیدې ته د روح تناسخ وایي چې د هندوانو د تناسخ سره هیڅ ورتوالی نه لري.

که د "د تناسخ وړ"د آري مقدس کتاب ولوستل شي هغه یوازې او یوازې د روحانیت د پوړونو خبرې کوي هغه وایي: هغه څوک په سرکوزي بدلیږي چې له روحانیته ووځي بیا به لکه سرکوزی دمرداریو خوند اخلي.

په کبالا کې تناسخ روحاني ډول ډول موقعیتونه چې د انسان په مادي جسم کې تیریږي بیانوي.په هغه کې د تناسخ اصلي مانا نشته هغه وایي تناسخ مازې د ژوند دورې دي، چې موږ هغه په دې دنیا کې تیروو.

یاني دتناسخ یا د روح تګ یوازې په روحانیت کې شته. له مړینې وروسته مادی ژوند ختمیږي که چا په دنیا کې روحاني دنیا پیدا کړې وه کولي شي د جسم څخه له جلا

Copyright: www.tanzona.com

کېدو وروسته په هغه بل جهان کې روحانی ژوند وکړي، که نه و بریالی شوی، بیا یې نوی ژوندپه دې فانی دنیا کې د نوی تناسخ او نوی سناریو سره پیل کیږي.او باور لري چې د انسان روح هیڅکله په حیواناتو او نورو موجوداتو کې نه ننوځي

کبالیستانو په خپلو کتابو کې لیکلي چې که هر څوک د کبالا په حکمت د روحانیت درجه پیدا کړي نو دوباره دې فاني دنیا ته نه راځي.

## د تناسخ د باور علتونه څه دی ؟

۱- یو بنه چانس :که په دې نړی کې چا ښه ونه کړه تناسخ یو چانس دی چې بیرته دنیا ته راشي اوښه وکړي.

مګرکه په نوی ژوند کې دچا خپل د پخواني ژوند کړه وړه په یاد نشي هغه څرنګه عبرت واخلي چې بیا هغه ختاوي تکرارنه کړي.

۲-د عدالت ضامن دی:بل داچې وایي تناسخ د عدالت راوړولو ضامن دی که موږ په هر ژوند کې ښه اوبد کړه کوو اوپه بل ژوند کې خپله ګناه جبران کړو نو څوک ګناهکاره نه پاته کیږي چې داد عدالت ضمانت دی .

اوس د ډېرو باور دا دی چې دا عقیده په دینونو کې نه وه وروسته په کوم دلیل ور ننوتلې ده.

## تناسخ د ابراهیمي دینونو په باور

دابراهیمي دینونو په باو ر روح د خدای هغه ډالی ده چې ځینو ډولونو ته ورکړ شوې ده او اجازه یې ورکړې ده له دې مالوماتو څخه ګټه تر لاسه کړي او د بد و کارو پر ضد یې وکاروي.
په ټولو ابراهیمي دینونه چې(یهودیت ، مسیحت او اسلام ) په کې راځي .ددې دینونو په باور روح له مړینې وروسته له بدنه وځي آسمان ته ځي اوپه برزخ کې تر ابده ژوند ته دوام ورکوي او د قیامت انتظار کوي.

Copyright: www.tanzona.com

ابراهيمي دينونه باور لري روح يو بې مثله مخلوق دی چې د موجوداتو په عالم کې د ژوند ، احساس ، وپښياری او پوهې اساس جوړوي.

## الف: تناسخ د عيسويت او يهوديت له باوره

په دې دينونو کې د تناسخ په هکله څه نه دي ويل شوی او له آيتونو څخه يې ښکارې چې هغوی ټوله د تناسخ له پديدې بر خلاف دي د مثال په ټوکه

د داود (ع)مزمور۵۳: ۳(نيکوکاری نشته يو هم نه) ياني انسان ځان نشوای بې ګناه کولی لکه چې دتناسخ باور وايي انسان ځان په دې دنيا کې بې ګناه کوي بيا اخيرت ته ځي .

په عبرانيان ۹:۲۷ کې راغلي.

( خلک راځي او بيا د خپلو عملونه جزا ويني)

دتناسخ په اساس انسان په يو نه يو ژوند کې بريالي کيږي چې بنه ژوند وکړي او جنت يا نيروانا وګټي يا دا چې کرار يې ژوند ښه شي.

ارميا ۹:۱۷ ( دا ډير بد دی له دې هم بدتره کيږي) چې دابلکل تناسخ رد وي.

روميان ۳:۲۳(ټوله ګناهکاره به د خدای له جلال بې برخې وي ) ياني ګناه ه کاره به لکه بې ګناه نيغ د اخيرت حساب او کتاب ته ځي.

تولنه ۷:۲۰( عادل سړی په دنيا کې نشته چې نيکي وکړي او ګناه ونه کړي)

عيسوی او يهودی دينونه دبودايانو دا باور چې وايي روح له يو هيوادڅخه بل ته ځي او د مړي انسان روح نوی زيږيدلی ماشوم جسم ته ننوځي او خپل ژوند ته پاېښت ورکوي بلکل ردوي.

د هندوانو د دين په باور روح هغه نور دی چې ( شيوا) رب ا لنوع هغه د هر چا بدن ته منعکس وي. هغوی د تناسخ ضد د قيامت خبرې کوي او باور لري چې خلک به له قبرونو را پورته کيږي او دبنو او بدو حساب او کتاب به ورسره کيږي.

Copyright: www.tanzona.com

### ب: تناسخ د اسلام له باوره

داسلام دین په قیامت باور لري نو د اسلام له نظره تناسخ مردود دی ځکه تناسخ د قیامت ضد دی نو اسلام د تناسخ باور ردوي.

په اسلام کې تناسخ بله مانا لري د قرانکریم او روایاتو په اساس تناسخ دوه ډوله دی:

۱- ملکي تناسخ : دا چې انساني روح خپل مادي بدن خوشی کوي بل مادي بدن ته ننوځي او ټول خپل کمالات له لاسه ورکوي.

۲- ملکوتي تناسخ- په دې مانا چې روح له خپلو باورونو، اندېښنو، نیتونو اوکړو وړو سره په دواړو ډولونو کې د جسم دننه ( په ژوند کې) او د جسم بهر ( په مړینې کې ) پاته کیږي.

د اسلامي اساساتو په اساس ملکي تناسخ باطل دی او ملکوتي تناسخ سم دی ځکه ادا ممکنه نه ده چې روح خپل کمالات له لاسه ورکړي.

د ص د سورې« ۷۲ »مبارک آیت شریف کې راغلي دي:

«ونفخت فیه من روحی»

ژباړه :(نو کله چې برابر کړما( قالب) دهغه( په بڼه صورت سره) اوما پو کړ ه خپله روح په هغه کې)

د انسان په جسم کې خدای (ج)خپله روح پوکړې ده چې خدای (ج) دانسان روح ځان ته منسوب کړې ده دا یو لوی واقعیت دی ځکه انسان ددې روح په برکت او علمي شرافت پر ټولو موجوداتو حکمروایي کوي.

ډیرو پوهانو تناسخ یو بې ګټې پدیده بللې ده چې انسان ته ګټه نه لري انسان لا ګناه کولو ته اړ باسي په دې سوچ چې په بل ژوند کې به بیا ښه وکړي.

Copyright: www.tanzona.com

محیی الدین مهدی الهی  ایرانې پوه  وايي تناسخ د شرع او عقل ضد دی ځکه هغه معاد ردوي.

ناصر مکارم شیرازی وايي تناسخ د تکامل د قانون خلاف دی او د معاد انکار دی.
علماو د البقری د سورې د ( ۲۸ ) مبارک آیت په اسا س تناسخ ردوي .
(کیف تکفرون بالله و کنتم أمواتا فأحیاکم ثم یمیتکم ثم یحییکم ثم إلیه ترجعون)

ژباړه : (څرنګه په الله  کافر کیږي؟ تاسو مړه واست ژوندي  یې کړی او وروسته تاسو وژني او بیرته تاسو ژوندي کوي او وروسته هغه ته ورګرځول کیږی)

یاني دا ټوله د خدای (ج) په امر تر سره کیږي.

هغوی وايي په دې آیت شریف کې دوه ژونده او دوه مرګه راغلي دي مړ ه واست ژوندی شوی دنیا ته راغلی، بیا په دنیا کې مړه شوی بیا په اخیرت کې ژوندي کیږئ نو ځکه دا د اسلام له نظره تناسخ  باطل دی.

د غافر د سورې په (۱۱) مبارک آیت کې راغلي دي:

«قالوا ربنا أمتنا اثنتین وأحییتنا اثنتین فاعترفنا بذنوبنا فهل إلی خروج من سبیل»

ژباړه: «هغوی وايي: پروردګاره! موږ دی دوه واره مړه اودوه واره ژوندی کړو  اوس موږ په خپلو ګناهونو اقرار کوو آیا له دوزخه د وتو لاره شته» نو ددې دوه واره ډیر ژوند نشته نو ځکه  تناسخ رد شوی دی .

ځیني پوهان وايي دانسان له بدنه  د شخصیت ( نفس ) په وتنه  سره هغه د وخت له قیده خلاصیږي او  دهغه  له بدن  سره  مرستیاله روح د جسم په مړ کېدو او دنفس یا شخصیت په وتو بیرته  خپل اصلي ځای ته ځي.چې شاید بیا د نوی زیږیدلو بدن ته د هغو د ښووني لپاره اړیکه ټینګه کړي.

کیدای شي دا روح د پخواني شخصیت د ژوند ځیني قوي او ضعیفي ودې خاطرې له ځانه سره ولیږدوي  مګر هغه  وه  نوی شخصیت ته نوې ښوونه کوی او په هغه کې

ورکیږي چې دا دوهم ژوند نه دی دا لومړی ژوند دی د بل ژوند د ځینوضعیفو خاطرو سره.( خدای(ج) ښه پوهیږي).

د شهیدانو روح

په قرانکریم کې د شهیدانو په اړه ویل شوي دی چې هغوی مړه شوي نه دي نو د هغو نفس تحویل شوی نه دی.

دالبقری دسورې په (۱۵۴ )مبارک آیت کې راغلي دي.

«ولا تقولوا لمن يقتل في سبيل الله أموات بل أحياء ولكن لا تشعرون »

ژباړه : (هغه چې د خدای په لاره کې مړه کیږي هغوی ته مړه مه وایاست! هغوی ژوندي دي او تاسو نه پوهیږی).

د ال عمران د سورې( ۱۶۹ )مبارک آیت د شهیدانو په هکله وایي: هغه مړه نه دي

«ولا تحسبن الذين قتلوا في سبيل الله أمواتا بل أحياء عند ربهم يرزقون »

ژباړه :( او له سره ګمان مه کوئ پر هغو کسانو چې په لاره د خدای کې وژل شوي دي مړه نه دی بلکې ژوندی دی په نزد د رب خپل او زرق ورته ورکول کیږي) دلته روح نه ده راغلې یوازې ویل شوی هغوی ژوندي دي.

ځینې پوهان وایي: روح د انسان له مړینې سره له بدنه جلاکیږي او بل جسم ته ځي.

یو حدیث شریف دی :

«ارواح الموءمنين فی اجواف طير خضر الخ » ددې حدیث شریف په بنیاد د مؤمنیو اروا( روحونه ) د شنو طوطیانو په ججوروکې وي چې ځینې وایي دا د شهیدانو روح ته دلالت کوي.

Copyright. www.tanzona.com

مسخ کيدل

د مسخ کيدو په هکله په قرانکريم د

المايدی دسورې ( ۶۰ ) مبارک آيت کې راغلي دي:

«من لعنه الله و غضب عليه وجعل منهم القردة و الخنازير...»

ژباړه :هغه کسان چې خدای له خپله رحمته ليري کړي پر هغو ی يې لعنت کړی هغوی يې (مسخ کړی ) بيزوګاني او سرکوزي کړي دي.

دالبقرې د سورې په (۶۵) مبارک آيت شريف کې راغلي دي:

«ولقد علمتم الذين اعتدوا منکم في السبت فقلنا لهم کونوا قردة خاسئين »

ژباړه(:تاسو د هغو کسانو خبرياست چې د شنبې په ورځ يې نا فرماني او ګناه وکړه موږ هغو ته وويل: شړل شوي بيزوګاني شئ)

د الاعراف د سورې په( ۱۶۶ ) مبارک آيت شريف کې راغلي دي:

«فلما عتوا عن ما نهوا عنه قلنا لهم کونوا قردة خاسئين »

ژباړه: ( بلی،کله چې يې له نهی شوو شيانو څخه سرغړونه وکړه هغوی ته مي وويل په شکل دشړل شوي بيزوګانو شئ)

ټول ابراهيمي دينونه تناسخ رد وي خو د روح په هکله په لا ندې شيانو کې سره توپير لري:

Copyright: www.tanzania.com

# د روح تعریف؟

روح له کومه راغلي او منشا يي څه ده؟

د روح دنده له مړینی وروسته او مخکي څه ده ؟

مړینه څه شی ده؟

ځيني وايي روح د مړيني يا خوب په وخت کي له بدنه وځي ځيني بيا وايي انسان درې ارواوي لري: نباتي ، حيواني او انساني

ځيني وايي روح له دې عالم څخه مخکې موجود وه

ځيني باور لري اروا دعالم او آدم د خلقت مخکي وه.

روح ددې دينونو په مذهبي کتابونوکي په ډول ډول نومو نه راغلي ده لکه :روح، نفس، روح الامين...

## - د يهودو باور د روح په هکله

يهودان باور لري چي روح له مړيني وروسته د «روح په خزانه» کې يا د دجلال د کرسی لاندې د قيامت انتظار باسي. او ځېني يهودان په بل اند دي لکه تلمود( شفاهي تورات) چې هغه ته نغوته کوي او وايي: مړي له هغه څه چي پر مځکه پيښيږي نه خبريږي.

په تورات کي راغلي چي روح د جسم له مړيني وروسته ژوند کوي او د مځکې د پېښو خبريږي.

ددې څخه مالوميږی يهودان ضد او نقيض باورونه لري.

Copyright: www.tanzona.com

په پیدایښت ۱:۲ کې راغلي دي :   او مځکه تیاره ، خالي اوناکره وه  دخدای روح مځکه تر اوبو لاندې کړه-( د هنری مارتین ژباړه)

مځکه خالي او بې شکله وه، هر چیرې اوبه وې او تیارې هغه پوښلې وه د خدای روح د بخار پر تورو تیوتو حرکت کوی-( د مژده ژباړه)

دا کلمه له عبري  څخه د خدای روح ژباړل شوې ده چې دوي ماناوي لري یوه د خدای روح او بله باد یاتوپان ،چې په ډول ډول ژباړلو کې دا دواړې ماناوي راغلي دي  لکه:

د سریاني  په بشپړي نخسي  «سریانی پشیتا »ژباړه چې په شپږمه او اوومه پیړی کې شوې ده  هغه د خدای روح ژباړلې ده  او « وولګات» په لاتیني ژباړې کې هم  هغه  د خدای روح ژباړلې ده مګر په نورو ژباړو کې  هغه باد اوتوپان ژباړل شوی دی

دا  لومړی ځای دی چې د روح نوم په  یوآسماني کتاب کې راغلی دی.

د یهودانو انسان پیژندنه  له« هلنیسم» څخه اغیز منه شوې ده ، د یوناني کتاب«سبعینی» ژباړې چې افلاطوني فلسفه وه یهودیت ته لاره پیدا کړه او  هغوی ترې اغیزمن شوه.

عموماپه بني اسراییلو کې روح له بدن څخه یو خپلواک شی نه ګڼل کېده خو داسی نښې هم  شته چې ځینو په   خپلواک روح هم باور  درلود. د ساری په ډول  په« سنهدرین ۹۱» چې د دویمې میلادي پیړی کې راغلي دي، « آنتونیوس» یویهودي ربی څخه وپوښتل:

روح  څه وخت  په بدن ننوځي د بلاربیدو په مهال یا د جنین په دوره کې؟

هغه یې په ځواب کې وویل: د جنین دجوړېدو په وخت کې

مګر انتونیوس نیوکه  وکړه چې آیا غوښه  بې مالګې درې  ورځې سمه پاته کیږي؟

ربی(یهودی ملا ) وویل چې آنتونیوس زما ځواب رد کړی.

Copyright: www.tanzona.com

مګر د ادریس(ع) کتاب چې په پټو شیانو لکه آسمان، بڼ ،عدن،دوزخ ملایکو او د روح په باور ولاړ کتاب وو پر یهودانو یې ډیره اغیزه کړې وه هغوی یې د پر هیز، کشف اوشهود خواته کښ کړې وه مګر هغوی د خلکو لخوا ځورول کیدل.

داخنوخ (د اخیر زمان مکاشقه)، میشنا(شریعت (فقه) ، مواعظ او حکایتونه) او تلمود( شفاهی شریعت) څخه مالومیږي چې په لومړی میلادي پیړی کې په یهودانو کې عرفاني سنتونه وه مګر اوس هغوی دا پټوي.

په« میشنا» کې راغلي دي:

هغه ځوک چې په دې څلور شیانوسوچ کوي ښه به دا وه کاشکې پیدا شوی نه وای!

هغه څه چې پورته دي، هغه څه چې لاندي دي، هغه څه چې تر هغه مخکې وه او هغه څه چې تر هغه وروسته به وي.

مګر خلکو دا نه منله لکه چې په تلمود کې یې ډیري نښې راغلي دي:
شولم لوی یهودي پوه وایي: یهودی عرفان له میشنا څخه مخکې پیل شوی دی.

په تلمود کې ربیان (یهودی ملایان) د شرور انسان

په اړه وایي چې هغوی په خپل انساني قالب کې لازمه توانایي نه لري

یهودیت روح د ژوند اصل بولي.

## – د روح په هکله د عیسویانو باور

خلکو دمسیحت په پیل کې په افلاطوني او ارسطویي فلسفي او په یو خدای باور درلود

Copyright: www.tanzona.com

مګر د دې فلسفې یو ربړ دا و چې خدای ته یې د هستي نه بدلیدونکی قلمرو وایه یاني خدای نه شوای کولی ددې بدلېدونکي نړی سره هیڅ ډول نیغه اړیکه ولري او هغه له هیڅ څه شی څخه نه اغیزمن کېده ځکه دعواطفو ا اواحساساتو لاندې نه راتلی.

نو خدای او دنیا یوې واسطی ته اړتیا لرله چې ددې واسطې لپاره یو ښه مروجه کلمه « لوګوس» وه .چې مانایي پوهه او یو ربښتنی خدای وه نو دا کلمه د خدای اړیکي له نړی سره وبلله شوه چې هغه ننني روح ده.

په تورات کې روح د نشاما (נפש) په کلمې توصیف شوې ده چې نفس او دنفس ایستلو ته وایي.

روح په تورات کې «سوکې» په انګریزي کې« سپریت» او په انجیل کې څو ځله د تنفس او ژوند په نامه هم کارول شوې ده.

عیسی مسیح و« نیقودیموس» ته وویل :

«باید له خپلي ګناه څخه توبه وکړې چې له خدای سره روحاني اړیکې پیدا کړې او نوی وزیږې او د خدای ملکوت ته ننوځې».

هغه ویوښتل څنګه دوباره زیږم؟

عیسی (ع) ورته وویل: «که له اوبو او روح څخه ونه زیږې هیڅکله به د خدای ملکوت ته نه ننوځې»

عیسی (ع) خپلو شاګردانو ته وویل: «او زه به له پلاره و غواړم تاسو ته بل پلوی اوډاډورکوني ډالی کړي چې تل درسره وي، چې دا د پاک خدای ربښتني روح ده چې تاسو ته به ټول حقایق وښیي.

د نړی‌خلک به هغه ته لاس بري و نه لري ځکه د هغه په لټه کې نه دي ،هغوی یې نه شوای موندلي ځکه هغه نه ویني او نه پیژني.

مګر تاسو هغه پیژنئ ، ځکه ستاسو سره پاته کیږي او په تاسو کې به وي د ژوند په توپانو کې تاسي یتیمان نه پریږدي. ستاسو مرستې ته به راشي ».



Copyright: www.tanzona.com

(یوحنا ۱۸-۱۶:۱۸)

روح یو پاک سرې دی چې ډېر واک لري

عیسی خپل شاګردانو ته وویل:

«دآسمان او مځکې واک ماته راکړ شوی دی ،نو ولاړشئ ټول کامونه زما شاګرد ان کړئ او هغوی ته د پلار، زمااو روح القدس په نامه تعمیدی غسل ورکړئ»

(متي ۲۰-۱۸:۲۸)

«آیا تمیز کولي نشئ، چې د خدا ی معبد د خدای په روح کې په تاسو کې میښت دی»(لومړي قرنتیان ۳:۱۶)

«خدای د روح دلارې دسرې دننه میښت کیږي

اما دا ټوله هغه یوه روح کوي او هغوی په خپله خوښه ویشي او هر چا ته یې ښني »(لومړي قرنتیان۱۱:۱۲)

(روح فهم او پوهه لري)

« ستاسو څخه د عیسی مسیح او د روح مینه هیله لرم»( رومیان۱۵:۳۰)

یاني روح فهم او پوهه لري.

«ځکه په مسیح عیسی کې د روح د ژوندقانون زه دګناه او مړینې له قانون څخه خوشې کړم»( رومیان۲:۸)

یاني روح احساسات لري.

Copyright: www.tarzona.com

«هغه چې نفساني دي  په نفسي شيانو سوچ کوي او  هغه چې روحاني دي هغه له روح څخه سوچ کوي»( روميان۸:۵)

«د نفساني انسان د سوچ ډول مړينه ده او  هغه سوچ چې د روح په سيطره کې دی ژوند او وهوساينه ده ځکه نفساني انسان له خدای سره دښمني کوي ، د خدای شريعت نه مني او  هغه چې د نفس په سيطره کې دي نشوای کولی خدای راضي کړي ».(روميان-۸:۶-۸)

«روح تاسو ته ژوند دی» (روميان۸:۱۰)

«ځکه  هغوی چې د خدای په روح هدايت کيږي د خدای زامن دی»(روميان ۸:۱۴)

«خو زه هغه ډاډورکونکي چې د پاک خدای روح ده ستاسو مرستي ته دراستوم هغه د ټولو حقايقو  سرچينه ده او د پلار له  خوا راځي او زما په هکله به هر څه تاسو ته ووايي »(يوحنا ۱۵:۲۶)

«هغه وخت به پلار خد ای ډاډورکونکی زما پر ځای  تاسو ته راوليږي زما موخه هغه روح القدس دی هغه به هر شی تاسو ته در زده کړي او هم به هغه څه چې ما تاسو ته ويلي در په زړه کړي»( يوحنا ۱۴:۲۶)

«خو هغه مهال چې  د خدای پاکه روح چې د رښتيا  سرچينه ده راشي ټول حقايق به تاسو ته وښيي نه له خپله ځانه بلکې هغه څه چې يې زما څخه اوريدلي دي هغه به له راتلونکي څخه هم تاسو خبر کړي». (يوحنا۱۳:۱۶)

«هرکله چې د خدای روح زموږ  ته د ژوند لارښوونه وکړي زمو ږ ژوند ته  به مسيحت، خوشالي،ارمتيا، صبر، مهرباني، نيکوکاري، وفاداري، عاجزی او دوستي راوړي.

له دې صفتونو څخه يو هم د يهودانو د مذهب او شريعت  سره تضاد نلري »(غلاطيان ۵:۲۲-۲۳)

Copyright: www.tanzona.com

«که اوس د خدای د روح د لارښووني په واک ژوند کوو نو اړینه ده د هغه لارښوونه د خپل ژوند په ټولو اړخونو کې ومنو»( غلاطیان ۵:۲۵)

(ایمان لرونکو ته ویل شوي چې د روح القدس لاره ونیسئ)

«له روح ډک شئ» (افسسیان ۵:۱۸)

«چې پاکه روح راشي په درو ټکو پام کوي:

لومړی- دا چې ټوله خلک ګناهکاره دي ځکه پر ما ایمان نه لري.

دویم ـ زما ښه او مهربان پلار خدای خلک بښي ځکه زه د هغه خواته ځم او شفاعت کوم.

او دریم - دا چې ټوله د خدای د سزا او جزا څخه ژغورل کیږي ځکه د دنیا فرمانروا شیطان نور بشکېل شوی دی» (یوحنا ۱۱-۸:۱۶).

روح القدس د بې ایمانو په ژوند کې هم برخه لري روح القدس د خلکو زړه اړوي چې د خدای رښتیاومني.

داچې نفس او روح دوه غیر مادي لومړني شیان دي چې مقدسو کتابونو هغه بشریت ته نسبت ورکړي .انسان روح لري مګر روح نه دی.

روح غیر مادي انساني جوهر دی او په کتابو کې ویل شوی ایمان لرونکي روحاني ژوند لري.

«هغه څوک دی چې د خلکو په سوچونه پوهیږي بېله دهغه خپله روح، چې په هغه کې ده . په همدې قیاس یوازې د خدای روح ده چې د خدای له سوچونو څخه خبر ه ده» (لومړي قرنتیان ۲:۱۲)

پاول لیکي روحانیت د ایمانلرونکو په ژوند اغیزه لري.

«.. چې موږ یې په مسیح کې په هر روحاني آسماني برکت مبارک کړي یو » (افسسیان ۱:۳)

Copyright: www.tanzona.com

«... پرله پسي له خدايه غواړم چې د روح حکمت او پوه تاسو ته ډالی کړئ چې خدای تاسو د خپلو ارادو د پيژندلو ډک کړي »(کوليسيان ۹:۱)

«د ميسح کلام به په ښه ښيرازه توګه په تاسو کې خپور شي اويا هغه مزامير يا سردونه او نغمې چې روحونه(ارواء) دي، يو بل ته د حکمت په کمال ښوونه او نصيحت وکړئ اوخدای ته په شکر ايستلو هغه د زړه له کومې ولولئ»( کوليسيان۳:۱۶

مسيحی پوهان وايي دا دننۍ الوهيت د انسان دی او د روح قلمرو د خدای پاچاهي ده

په انجيل کې د نفس ډيره يادونه شوې ده

هلته ليکل شوي دی

« د انسان طبيعي زيانکار دی او په پايله کې موړ نفسونه روزل کيږي.

نفس په فزيکی ژوند سره له منځه ځي»

(Genesis ۳۵:۱۸; Jeremiah ۱۵:۲)

نفس لکه روح دډيرو روحاني او هيجاني خوځښتونو مرکز جوړوي»

(Job ۳۰:۲۵; Psalm ۴۳:۵; Jeremiah ۱۳:۱۷

«په هر حال نفس مکمل سرې ته ويل کيږي څه په ژوند کې يا دهغه وروسته.

نفس اوروح سره وصل دي ليکن سره جلا کيدلی شي »

(Hebrews ۴:۱۲)

روح د بشريت ليرليد دی چې د خدای سره اړيکه لري

Copyright: www.tanzona.com

مسيحانو په خبيثه ارواء (روحونو) باور درلود  هغوويل: خبيثه ارواء د الهی روح ځای نيسي

نو ځکه مسيحانو خبيثه ارواء د ناروغ له بدنه په زور او ځور راايستله او په  دې باور وه چې ناروغي د پليدوروحونو څخه ده نو دعاوي او مذهبي مراسم يې  د هغه د ورکولو لپاره کوله.

«روح القدس ايمان لرونکو ته واک ورکوي چې خپلې دندې او چوپړ داسې تر سره کړې چې دهغوی د ډيرې روحاني ودې  لامل شي»( يوحنا۲۲:۲۰

ميسح په انجيل کې روح القدس په پوف(پو)  سره د حواريونو خواته ليږي.

دعيسوی په نويو او زړو کتابو کې  د روح کله د« دانسان د ژوند اساس» او کله هم د« ژوند واک» بلل شوی دی  اوکله هم  روح د نفس سره ورته  راغلی دی او ځای ځای روح  د انسان  په نړې کې«د ژوند عامل» بلل شوی دی.

- روح په اسلام کې

د اسلام په نړۍ ليد کې انسان له ***دوو شيانو جوړ شوی دی*** ،يو  ښه اوډير لوړ  معنوي شی ياني د خدای (ج) له روح څخه  اوبل له کښته او ډير ټيټ مادي  شي ياني له بد بويې ختې څخه جوړ شوی جسم دی.

د اسلام له انده خدا(ج) نه جسم لري نه روح او د روح  سره د خدای کلمه  يوه تشريفي اضافه ده لکه  چې وايو: کعبه د خدا کور دی .ياد روژې مياشت  د خدای مياشت ده.
همداسې يو ګرانه ،باشرافته او عظمته روح د خدای (ج) روح بلل شوې ده چې په  انسان کې پو( پف) يادانسان د پوهې لپاره  کمارل شوې ده .

په قران  کريم کې دنړۍ په پيدايښت کې دوې پديدې ليدل کيږي يو  «خلق» چې په علل او اسباب  تړلی دی ، زمان او مکان غواړي او په تدريج سره د ودې لاره بشپړوي اوبله پديده « امر» دی چې د هغه اړيکې له پاک خدای سره دي په هغه کې تدريج نشته يوازې د خدای په اراده  په آنې ډول موجود يږي په هغه کې اسباب او مادي وسايل دخل نه لري.



Copyright: www.tanzona.com

روح د خدای (ج) لخوا یو مجرد او محقق موجود دی، جسم نه دی ځکه نه وېشل کيږی ؛ روح نه ښکاري ځکه ځان نه لري ، ځان یو انساني اصل دی چې دروح مکان دی او د بدن ټول غړي د هغه تابع دي.

په قران کې نه دي ویل شوي چې په روح ژوندي یو او چې مړه شو روح له بدنه وځي او په قیامت کې د روح او بدن د یو ځای کیدو خبرې هم نه دي شوي.

په قران مجید کې د روح کلمه( ۲۱) واري تکرار شوې ده چې له مفسرینو لخوا په بیلو بیلو ماناوو تفسیر شوي دي.

لکه څرنګه چې مخکې مې یادونه وکړه په قرانکریم کې روح د «روحی»، «روحنا» او «روحه» خدای ته منسوب شوی ده خو د روح مخلوقي جوهر دی.

د اسراء دسورې په « ۸۵» مبارک آیت کې راغلي دي.

«ویسألونك عن الروح قل الروح من أمر ربي وما أوتیتم من العلم إلا قلیلا»

ژباړه : او پوښتنه کوي له تا( اې محمده!) د روح په هکله ووایه چې روح له امره د رب زما ده او نه ده درکړې شوی تاسو ته له دې علمه څخه مګر لږه)

مرحوم «بحراني» ددې تفسیر په هکله له امام باقر(رض) څخه نقل کوي چې هغه ویلي دی« ددې مبارک آیت مانا دا ده چې لږ خلک په روح پوهیږي»

بشر په دې برخه کې بېله ځینو روایاتو بل څه نه لري هغه هم د روح صفتونه دي.

دلته که څه هم روح مطلقه راغلې ده مګر هغه موخه انساني روح ده .

د ډیرو مفسیرانو په اند روح د روان او د ژوند د عامل په مانا راغلې ده .

د اهل سنت لوی مفسر "شیخ ابوالفتوح رازی" د« روح الجنان »په تفسیر کې لیکي: هغه شی چې په دې آیت شریف کې د پوښتنې لاندې دی انساني روح ده چې ژوند پر هغه ولاړ دی او انسان په هغه ژوندی دی .

Copyright: www.tanzona.com

مرحوم شعراني د رازي د تفسير په حاشيه کې داسې ليکي« دروح تفسير په دې مفهوم سم په نظر راځي ( روح احساسات لري)

ځکه په دې هکله د نړی د خلکو په منځ کې د روح د شتون او حقيقت په هکله دا سوال شته په ځانګړې توګه په يهودانو کې »

په قرانکريم کې د روح ماناوي

په قرانکريم روح د« روحی»، «روحنا» و «روحه» له لوی والی څخه خدای ته منسوب شوی او خدای تر ټولو لوی عالم دی.

په قرانکريم کې د روح ويی(لغت) په ډول ډول ماناو راغلي دی:

١- انساني روح

د حجر د سورې په ( ٢٩ )مبارک آيت کې راغلي دي

«فإذا سويته ونفخت فيه من روحي فقعوا له ساجدين»

ژباړه:( نو کله چې برابر مې کړ دغه (قالب) او پومې کړ په د ه کې له روح خپله...)

علامه طباطبائي په تفسير "الميزان" کې وايي د روح کليمه د ژوند مبدا ده چې د انسان د احساس او ارادي حرکت لامل ګرځي.

دلته له روح څخه مراد ناطقه نفس دی چې د انسان په بدن کې موجود دی.

همدا آيت شريف د ص د سورې په (٧٢) مبارک آيت کې بيا تکرارشوي دي.
دا دواړه مبارک آيتونه د لفظ له خوايو ډول دي د دې مبارکو آيتونو مانا په مادي بدن کې د روح پو کول دي.

د سجدې دسورې په ( ٩ )مبارک آيت کې راغلي دي:

Copyright: www.tanzona.com

«ثم سوئه و نفخ فیه من روحه... »

ژباړه: ( بیا یي برابر کړ (قالب د)هغه او پو يي کړل په دغه ( قالب) کي له روح خپل ښخه)

لکه چي مخکي مو وويل د روح نسبت خدای (ج) ته د روح عظمت بيانوي.

په دې مبارک آيت شريف کې د «ثم» ويی ډير وخت وروسته ته وايي ياني چې انسان له ختو جوړ شو بيا ډير وخت وروسته له نطفي څخه پيدا شوي دی بيا روح په کې پو شوي ده ياني انسان د روح د پو کولو مخکې هم ژوندی و.

۲- عيسی (ع) ته ويل شوی دی

د نساء د مبارکي سورې په (۱۷۱ ) مبارک آيت کي راغلي دي :

«إنما المسيح عيسی ابن مريم رسول الله وكلمته ألقاها إلى مريم وروح منه»

ژباړه:«بيشکه همدا خبره ده چي مسيح عيسی زوی د مريمي رسول د الله دی. ده کليمه چي القا کړې ده الله دغه کليمه مريمي ته او روح ده له جانبه د الله...»

حضرت مسيح (ع) د خدای کليمه او د الله روح ګڼل شوې ده.

روح الله د عيسی (ع) لقب هم دی.

۳: جبرييل(ع) ته ويل شوی دی

په قرانکريم کي روح جبريل (ع) ته هم ويل شوي دی

جبرائيل (ع)، جبرئيل (ع)، جبريل (ع)، هغه ملايکه ده چي پيغمبر (ص) ته به يي وحي راوړله.

دنحل د سورې په ( ۱۰۲ )مبارک آيت شريف کې راغلي دي.

Copyright: www.tanzona.com

«قل نزله روح القدس من ربك بالحق ...»

ژباړه: (ووایه ( محمده ) نازل کړی دی دغه ( قران) روح القدس ( جبریل) له رب ستا په حقه سره...)

د نحل د سورې په دویم مبارک آیت کې راغلي دي

«ینزل الملائكة بالروح من أمره على من يشاء من عباده...»

«نازلوي ملایکې سره د روح ( جبرييل )په امر خپل په هر چا چې اراده وفرمايي»

د قدر د سورې په (۴) مبارک آیت کې راغلي دي:

«تنزل الملائكة والروح فيها بإذن ربهم من كل أمر»

ژباړه :نازلیږي ملایکې اوروح په دغه شپه کې په امر د رب د هغوی)

د ملایکو او روح ( جبرييل )راکښته کیدل په شپه کې په حکم د الله (ج) دی .

دلته د«من» له کلیمې څخه مالومیږي چې امر د الله(ج) دی.

د معارج د سورې په (۴) مبارک آیت کې راغلي دی

«تعرج الملائكة والروح إليه ...»

ژباړه:(خیژي ملایکې او روح ( جبریل) په طرف دهغه...)

د بقری دسوری په (۸۷ ) مبارک آیت کې راغلي دي

«... وآتینا عیسی ابن مریم البینات وأیدناه بروح القدس ...»

ژباړه:(... او ورکړی موږ عیسی زوی د مریمې ته ښکاره ( معجزې) او قوی کړی وو موږ عیسی په پاکې روح سره)

دمایدې دسورې په (۱۱۰ ) مبارک آیت کې راغلي دي

Copyright: www.tanzona.com

«... إذ أيدتك بروح القدس تكلم الناس في المهد... ۞»

ژباړه :(کله چې مې قوت درکړی تا ته په روح القدوس سره او خبرې دې کولې له خلکو سره په ځانګو کې)

په دې لاندې مبارک آيت کې له روح څخه موخه «روح الأمين» دی چې د جبريل (ع) بل نوم دی

داچې يهود جبرييل(ع) په خيانت متهم وې نو خدای (ج) هغه « روح الامين» بولي او وايي:

د. شعراء د سورې په ( ۱۹۳-۱۹۴) مبارک آيتونه کې راغلي دي:

«نزل به الروح الأمين * على قلبك لتكون من المنذرين»

ژباړه :(نازل کړی دی دغه قرآن روح الامين پر زړه ستا لپاره ددی چې شي ته له ويروونکيو)

دا آيت شريف دا ثابتوي، چې روح دلته هم هغه روح الامين ياني جبريل(ع) دی.

ابن عباس وايي: پيامبر (ص) جبرئيل (ع) ته وويل:

ولې زما ليدو ته دير نه راځې؟

په دې وخت کې دمريم دسورې( ۶۴ )مبارک آيت شريف نازل شو.

«وما نتنزل إلا بأمر ربك»

ژباړه :(جبريل(ع) وويل موږ نه نازليږو مګر په حکم د رب ستا)

الشورى د سورې په ( ۵۲) مبارک آيت شريف کې راغلي دي :

«وكذلك أوحينا إليك روحا من أمرنا»

ژباړه:(او هم داسې موږ تاته وحی راليږلې په روح ( جبريل) سره په امر خپل»

Copyright: www.tanzona.com

دالنحل دسورې د(۱۰۲)مبارک آیت شریف کې راغلي دي

«قل نزله روح القدس من ربك بالحق»

ژباړه :(ووايه ( اې محمده) نازل کړی دی دغه ( قران)روح القدس ( له طرفه) د رب ستا په حقه سره)

په دې مبارک آیت شریف کې له روح القدس څخه مراد جبرييل(ع) دی.

د مريم د سورې په ( ۱۷ )مبارک آیت کې راغلي دي:
«فاتخذت من دونهم حجابا فأرسلنا اليها روحنا »

ژباړه: ( پس ونيوله له طرفه ددوی پرده نو ولیږله موږ دی ته روح خپل ( جبريل )پس جوړ يي کړ دې ته سړی کامل)

( دمؤمن د سورى په (۱۵) مبارک آیت کې راغلی دي:

"...يلقى الروح من أمره على من يشاء..."

ژباړه :(راليږي روح په حکم خپل پر هغه چا چې اراده وفرمايي)

د نبأ دسورې په ( ۳۸ ) مبارک آیت کې راغلي دي

«يوم يقوم الروح والملائكة صفا ...»

ژباړه:( په هغه ورځ(قيامت ) و دريږي روح ( جبريل) او د ملايکو صفونه کتارونه..)

د معارج د سورې په ( ۴)مبارک آیت کې راغلي دي:

«تعرج الملائكة والروح إليه »

ژباړه « خیژی ملایکي او روح ( جبريل )په خوا د هغه»

۴- وحي ته ويل شوی دی

Copyright: www.tanzona.com

دشوری د سورې په ( ۵۲) مبارک آیت کې روح د وحي په مانا راغلې ده.

"و كذلك أوحينا اليك روحا من أمرنا"

(او هم داسې ( لکه چې وحي مو کړې وه نورو انبیاؤ ته) وحي راولیږلې موږ تاته روح ( وحي) په امر خپل سره)

له دې مبارکو آیتونو څخه داسې مالومیږي، چې جبریيل (ع) روح ده، روح الامین او روح القدس دی جبریل(ع) هغه لویه ملایکه ده چې محمد (ص) ته یې وحی راوړلې او د خدای (ج) په امر د هغه په پو(پف) سره حضرت عیسی (ع) پیدا شوی دی او جبریل (ع) عیسی ( ع) ته واک ورکړ چې د خدای (ج) په امر په ځانګو کې خبرې وکړي او مړي ژوندي کړي.( خدای (ج) ښه پوهیږي)

Copyright: www.tanzona.com

# نفس په اسلام کې

په قرانکریم کې د روح تر څنګ دنفس کلمه هم ډېره بیان شوې ده چې ځینې مفسرینو د هغه یوه مانا روح بللې ده

په قران کریم کې دنفس کلمه په ډول ډول حالاتو کې(۲۸۰ )واري استعمال شوې ده.

یانی د أنفسهم، أنفسهم، أنفسهم، کلمي (۹۱) واري؛ نفسه، نفسه، نفسه کلمې( ۳۳) واري ؛ نفساکلمه(۱۴) واري ؛ نفسی کلمه(۱۳) واري؛ الأنفس (۶) واري؛ نفسک، نفسک، نفسک (۵) واري؛ أنفسهن (۴) واري؛نفسها، نفسها (۳)واري؛ أنفسنا، أنفسنا (۳) واري؛ النفوس (۱) وار او نفوسکم (۱) وار راغلی دی.

نفس هغه کلمه ده، چې په قرانکریم کې لکه روح په ډول ډول ماناو ذکر شوې ده چې ددا ډېري ماناوي او ډېر بیان یې د اهمیت دلیل دی .

د نفس له ټولو مانا څخه یوه د درک او تمیز واک په مانا ده .

باید وویل شي د مسلمانانو تر منځ د نفس په مانا کې ډېر توپیرونه شته .ابن ابی العز حنفي نفس داسې تعریفوي :

«نفس دخدای د کتاب په دلالت ، د رسول (ص) په سنت او د صحابو په اجماع هغه جسم دی چې ماهیت یې ددې جسم مخالف محسوس دی هغه نوراني ، لوړ ، سپک، ژوندی او متحرک دی چې د وجود په غړو کې ننوځي لکه د اوبو تګ په ګل کې یا د غوړو تګ په زیتون کې..»

Copyright: www.tanzona.com

# په قرانکریم کې د نفس مانا وي

## ١- د پروردګار دذات په مانا

دالمائدې د سورې په (١١۶) مبارک آیت کې راغلي دي:

«تعلم ما في نفسي ولا أعلم ما في نفسك إنك أنت علام الغيوب»

(مالومه ده تا ته هغه شی چې زما په نفس کې دی او نه پوهیږم زه په هغه شی چې ستا په نفس(ستا ذات کې) دی بیشکه ته هم دا ته یې لوی عالم پر غیبو)

طه د سورې په (۴١) مبارک آیت کې راغلي دي:

«واصطنعتك لنفسي»

(او غوره کړی یې ته ما د پاره دذات خپل( په رسالت)

دالانعام دسورې په (١٢) مبارک آیت کې راغلي دي:

«قل لله كتب على نفسه الرحمة ...»

(ووایه [ اي محمده! دوی ته [ خاص الله لره دی لازم کړی دی الله پر نفس( ذات) خپل رحمت)

آل عمران د سورې په (٢٨) مبارک آیت کې راغلي دي

«...ويحذركم الله نفسه وإلى الله المصير...»

(...او ویروي تاسي الله له (عذابه) له نفس [ذات ]خپله څخه...)

د آل عمران د سورې په (٣٠) مبارک آیت راغلي دي

«...ويحذركم الله نفسه والله رؤوف بالعباد»

Copyright: www.tanzona.com

(او ویروي تاسی له نفس(ذات) خپل نه او الله ډیر مهربان دی)

چي دلته نفسه د هغه صفت دی

## ۲- د انسان په مانا

البقرة د سورې په( ۴۸) مبارک آیت کې راغلي دي

«واتقوا یوما لا تجزي نفس عن نفس شیئا »

ژباړه :(وویریږئ له هغې ورځې چې لیري کولي نشي هیڅ نفس ( انسان ) له هیڅ نفس (انسان) څخه هیڅ شی)

البقرې د سورې په (۲۳۳) مبارک آیت کې راغي دي

«لا تکلف نفس إلا وسعها »

ژباړه : ( زور نشی کولی په هیڅ نفس( انسان) باندې مګر په اندازه د توان د هغه...»

دالمائدې د سورې په ( ۳۲) مبارک آیت شریف کې راغلي دي

«... أنه من قتل نفسا بغیر نفس ...».

ژباړه : (...چې وژني هر څوک یو نفس ( انسان) په عوض [ بدل ]د بل نفس...)

دشمس د سورې په ( ۱۰-۷) مبارکو آیتونو کې راغلي دي.

«ونفس وما سواها فألهمها فجورها وتقواها قد أفلح من زکاها »

ژباړه :(قسم دی) په نفس (انسان) او هغه چې برابر کړی دی او ښوولي يې ده په زړه دده کې بدي او نیکي)

و ژغوره شو هغه چې پاک یې وساته خپل نفس (زړه)

دآل عمران د سورې په (۳۰) مبارک آیت کې راغلي دي

Copyright: www.tanzona.com

«یوم تجد کل نفس ما عملت ...»

ژباړه: ( او وویریږئ) له هغې ورځې چې مومي به هر نفس ( انسان) هر څه چې کړي وي )

د الانعام دسورې ۱۵۱ مبارک آیت کې راغلي دي
...ولا تقتلوا النفس التي حرم الله إلا بالحق ...

ژباړه : (...او مه وژنئ تاسو نفس ( انسان) هغه چې حرام کړی دی الله مګر په حقه سره...)

### ۳- د زړه (ماغزه) په مانا

کله چې وایو ستا په زړه کې څه دي یاني ستا په ماغزه کې څه دي

الاسراء د سورې (۲۵) مبارک آیت کې راغلي دي

«ربکم أعلم بما في نفوسکم ...»

(رب ستا عالم دی په هغه څه چې په نفسونو ( زړونو) ستاسو کې دي)

(الرعدد سورې په (۱۱) مبارک آیت کې راغلي دي

« إن الله لا يغير ما بقوم حتى يغيروا ما بأنفسهم »

ژباړه : (بیشکه الله نه بدلوي حالت د هیڅ کام تر څو هغوی بدل نه کړي حالت د نفسونو ( زړونو) خپلو )

د ق د سورې په (۱۶) مبارک آیت کې راغلي دي:

«ولقد خلقنا الإنسان ونعلم ما توسوس به نفسه »

ژباړه:(په تحقیق موږ پیدا کړی انسان موږ پوهیږو په هغه څه چې وسوسه اچوي په نفس( زړه) کې دده)

Copyright: www.tanzona.com

د یوسف د سورې په ( ۷۷ )مبارک آیت کې راغلي دي

«من قبل فأسرها یوسف في نفسه»

ژباړه :(پټه وساتله دا ( خبره) یوسف په نفس (زړه) خپل کښې)

الکهف د سورې په (۲۸)مبارک آیت کې راغلي دي

«واصبر نفسك مع الذین یدعون ربهم»

ژباړه:(او صبر کړه نفس «زړه) خپل له هغو کسانو سره چې عبادت کوي د رب خپل»

### ۴- د غوښتنې، تمې او لالچ په مانا

دالقیامة د سورې په(۲) مبارک آیت کې راغلي دي

«ولا أقسم بالنفس اللوامة»

او قسم خورم زه په نفس تمه ( ملامت کوونکی)

دیوسف د سورې په (۵۳ ) مبارک آیت کې راغلي دي:

«وما أبرئ نفسي إن النفس لأمارة بالسوء ...»

«او زه نه پاکوم نفس ( تمه )خپل بیشکه نفس ( لالچ ) خامخاامر کوي په بدي»

د یوسف د سورې په (۵۳) مبارک آیت کې «نفس اماره» بیان شوی دی او د القیامه په دویم مبارک آیت کې «نفس لوامه» ذکر شوی دی او د الفجر د سورې په (۲۷) مبارک آیت کې «نفس مطمینه» ذکر شوی دی .

هرنفس په سبب د هغه څه چې کړی یې وي داسې ډلبندي شوی دی:

الف ـ مطمینه: هغه انسان چې دشریعت پیروي کوي

ب-اماره: هغه انسان چې په دینوی خوندونو اخته وي

Copyright: www.tanzona.com

ج-لوامه : هغه اانسان چې لومړی په شهوت اخته وي بيا دين ته مخه وکړی

### ۵- ژوندی جسم

دا چې نفس مړ کيږي يانې له بدنه وځي او له منځه ځي په قرانکريم کې داسي راغلي دي :

(آل عمران د سوری (۱۸۵ مبارک آيت کې راغلي دي

«کل نفس ذائقة الموت...»

ژباړه : ( هر نفس( ژوندی جسم) څکونکی د مړينې دی

### ۶- ختا ايستل او غولول

د يوسف د سورې ۲۳ مبارک آيت کې راغي دي

«وراودته التي هو في بيتها عن نفسه ...»

ژباړه:( هغې و غوښتل وغولوی هغه چې په کور کې يې و ( يوسف) دپاره د نفس ( غولولو )دده

د يوسف د سورې په ( ۲۶) مبارک آيت کې راغي دي:

«قال هي راودتني عن نفسي»

ژباړه:(ويل هغې چل ول کړی دی له ما سره دختا ايستلو زما)

### ۷- جنس

اشوری د سورې په (۱۱) په مبارک آيت کې راغلي دي

«جعل لکم من أنفسکم أزواجا»

ژباړه:(پيدا کړې ده (الله) ستاسو له نفسونو ( جنسونو) څخه ستاسي جوړې)

Copyright: www.tanzona.com

## ۸- ځان

الاعراف د سورې په (۱۸۹) مبارک آیت کې راغلي دي

«هو الذي خلقكم من نفس واحدة وجعل منها زوجها ...»

ژباړه: (هم دغه( الله) هغه ذات دی چې پیدا کړي یې یي تاسي له نفس (ځان) یوه څخه او پیدا کړی یې ده له دې نفس څخه ښځه دده...)

دالانعام د سورې په (۹۸) مبارک آیت کې راغلي دي.

«وهو الذي أنشأكم من نفس واحدة ...»

ژباړه:(او دغه ( الله ) هغه ذات دی چې پیدا کړي یې یي تاسي له نفس ( ځان )یوه څخه)

الكهف د سورې په (۶)مبارک آیت کې راغلي دي.

«فلعلك باخع نفسك...»

ژباړه : (نو ښایي چې ته قتل کوې نفس ( ځان) خپل...)

السجده د سورې ( ۲۷ ) مبارک آیت کي راغلي دي

«فنخرج به زرعا تأكل منه أنعامهم وأنفسهم»

ژباړه : (چې خوري له دغه کښت څخه چارپایان او نفسونه ( ځانونه ) ددوی)

دیونس د سورې په (۵۴) مبارک آیت کي راغلي دي: «ولو أن لكل نفس ظلمت ما في الأرض »

ژباړه: (او که بیشکه دپاره د هر نفس چې ظلم یې کړي وي( پر ځان) هغه چې دی پر مځکه...»

Copyright: www.tanzona.com

# اسلام او نفس

خدای (ج) ټوله انسانان د توحیدي فطرت په اساس پیدا کړي دي او دښنو اوبدوا تشخیص يې ټولو ته الهام کړی دی چې دې تشخیص ته علماو نفس ویلی دی . نفس دانسان غیر مادي برخه جوړوي چې هغه د ژوندي جسم ننګیرنې، غوښتنې ،حسد ،کینه، بغض، دوستي ،نیکي، بدي او داسي نور دي

یاني نفس د ژوند یا وېښیاري بځرکي دي چې دانسان ټوله ننګیرني په بر کې نیسي.

یا په بله مانا حسي معرفت یا حسي پوهني ته نفس وایي چې عموما په ژوندي جسم کې بیا په موجود یا انسان کې بیا په زړه او ماغزو کې ټول حسي پوهنه ( هڅونه, مینه, علاقه، غوښتنه ، حسد ... )په بر کې نیسي.

الله (ج) د خپل کلي قانون په اساس نفس پاکو خلکو ته دوه چنده اجر ورکوي نو هر څوک چې صادق وي ډیر اجر ګټي ،تر هغه ځایه چې د ځینو اجر د« روح القدس» په ډول کیږي هغوی ته ملایکې رااستوی او وحی ورته کوي او هغوی یې د جنت لپاره لاربښوونکی کړي وي.

دالزخرف د سورې په ( ۱۴) مبارک آیت کې راغلي دي

« پیغمبر(ص) فرمایي «أعدی عدوک نفسک التی بین جنبیک»

تر ټولو ستا دښمن ستا نفس دی چې په تا کې ځای لري.

په بل حدیث شریف کې راغلی دی چې یو صحابي له پیغمبر(ص) څخه وپوښتل:

دحق بریالۍ لاره څه ده؟

پیغمبر(ص)ځواب ورکړ : د نفس سره مخالفت.

Copyright: www.tanzorra.com

بیا یې وپوښتل:

د حق د رضا د لاس ته راوړلو لاره څه ده ؟

پیغمبر (ص) ځواب ورکړ : د نفس ناخوښي.

همداسې هغه نورې پوښتنې وکړې:

- حق ته د رسیدو لاره کومه ده ؟

- له نفسه لیرې والي.

- د حق دپیروي لاره کومه ده ؟

- د نفس نافرماني.

- هغه لاره چې موږ د حق په یاد وساتي کومه ده؟

- د نفس هیرول.

- حق ته د نژدې کیدولو لاره کومه ده ؟.

- له نفسه لیروالي.

- له حق سره د خوی نیولو لاره کومه ده ؟

- له نفسه بیزاري.

- دا شیان څنګه لاس ته راوړای شو؟

- د خدا(ج) مرسته د نفس په مقابل کې؟

یانې نفس او هوا غوښتنې انسان د بدو کارو خواته کشوي.

المجادله د سورې په (۲۲) مبارک آیت کې راغلي دي.

«...أولئك كتب في قلوبهم الإيمان وأيدهم بروح منه...»

Copyright: www.tanzona.com

ژباړه : (هغوی هغه کسان دي چې د هغو پر زړه ليکل شوی دي. ايمان او غبنتلي کړی مې دي په روح خپل)

ايمان په روح غبنتلي کولو مانا ده په علم غبنتلي کول نو د روح يوه مانا علم دی

روح دوه مظهر ه لري

۱-مطلقه روح (علم)

۲- مقيده روح (علم)

مطلقه روح د الله (ج) هغه مخلوقات لري چې مقام يي تر ملايکو لوړدی لکه جبرييل (ع)

اومقيده روح د مطلقي روح وړانګې دي چې په ملايکو او انسانانو او نورو محدودو قالبو کې تجلي کوي.

روح انسان ته واک ، ، هستونه او پنځونه ورکوي، روح د پيغمبرانو د وړاندوينو عامل دی، وحی د الهام لامل ګرځي، د خوب مانا، سمې لاري ته لاربسوونه، کشف او شهود، غيبي خبرونه او معنوي تطهير، د ژوو سره خبری کول، باد په تصرف کې راوستل، ديبان او پيريان مطيع کول او داسې نور تولي د علم له رويه چې هم هغه د روح يوه وړانګه ده کيږي چې خدای هر چا ته چې غوښتني وي دا دعلم يا د روح وړانګي وربانديې تجلي کوي.

روح لکه علم يو معنوي جوهر دی .

الطلاق د سوری (۱۲) مبارک آيت کې راغلي دي:

«...وأن الله قد أحاط بكل شيء علما »

ژباړه:(... دخدای علم په هر شی احاطه لري»

Copyright www.tanzona.com

د نور دسورې (۳۵) مبارک آيت کې راغلي دي:

«الله نور السماوات والأرض»

ژباړه : ( الله نور دآ سمانونو او مځکې دی )

نو علم  د روح وړانګې دي، چې د انسانانو پر ماغزو باندې ځليږي او دا د خدای او بنده تر منځ اړيکې جوړوي او بنده په هغه خدای  او ځان پيژني، خدای دا وړانګې په هر چا چې يې زړه وغواړي ځلوي. لکه يوسف (ع) ته يې د خوب د مانا علم ، سليمان (ع) ته يې د ژوو سره د خبرو علم، عيسی(ع) ته يې د مړو د ژوندی کيدو علم ورکړی وو

کله چې الله(ج) په آدم (ع) په جسد کې پوه کړه او ملايکو ته يې وويل هغه ته سجده وکړئ ټولو ملايکو هغه ته سجده وکړه مګر ابليس.

ځکه خدای هغه ته د روح په پو سره علم ورکړ چې هغه ملايکو ته  د ټولو شيانو نومونه وويل نو هر علم دروح يو وړانګه ده( خدای ښه پوهيږي).

الشوری د سورې په (۵۲) مبارک آيت کې راغلي دي:

«وكذلك أوحينا إليك روحا من أمرنا ما كنت تدري ما الكتاب ولا الإيمان ولكن جعلناه نورا نهدي به من نشاء من عبادنا ...»

ژباړه : همدا ډول مو تا ته هم  په خپل فرمان وحی کړه روح، تر هغه دمخه ته نه پوهيدې چې کتاب او ايمان څه شی دی موږ هغه نور( روښنايي) کړه  په هغه هر څوک چې وغواړو هغه هدايت وي...»

Copyright: www.tanzona.com

# دانسان د اعمالو ليکنه

الاسرا د سورې په ( ۱۳ )مبارک آيت کې راغلي دي:

«وكل إنسان ألزمناه طائره في عنقه ونخرج له يوم القيامة كتابا يلقاه منشورا

اقرأ كتابك كفى بنفسك اليوم عليك حسيبا»

ژباړه :(د هر انسان عمل نامه د هغه په غاړه کې ده د قيامت په ورځ به هغه ومخکې ته پرانيستي ووينې ووايه :د کتاب کافي دی نن خپله خپل حساب وکړه»

عملنامه د ملايکو لخوا ليکل کيږي چې دانسان په غاړه يا اوږو کې ځای لري چې د کرام الکاتبين په نامه راغلي دي هر انسان په قيامت کې خپله علمنامه خپله ويني حاجت بل سند ته نشته .

د ق د سورې په(۱۶-۱۷ )مبارک آيت کې راغلي دي:

«ولقد خلقنا الإنسان ونعلم ما توسوس به نفسه ونحن أقرب إليه من حبل الوريد

إذ يتلقى المتلقيان عن اليمين وعن الشمال قعيد»

ژباړه : (موږ انسان پيدا کړ او د هغه د نفس په وسوسو پوهيږو او موږ هغه ته د هغه د زړه د رګ نژدې يوپه ياد کړی چې هغه وخت چې دوې ملايکې راسته او چپه چې د انسان چوپړ کوي او دهغه کړه ليکي)

ياني کرام الکاتبين دوې ملکې د هر انسان يوه پرچپه او بله په راسته اوږه ناستې دي او دانسان ټوله کړه ليکي چې دې کتاب ته عمل نامه ويل شوې ده. دا ملايکې انسان ته د زړه تر رګه لا نژدې دي ياني مغزو (انسان) ته تر زړه تررګه دا ملايکې نژدې دي

Copyright: www.tanzona.com

» نو ځکه نفس ته معنوي انسان هم ویل شوی دی دالرعد د سورې په ( ۴۲) مبارک آیت کې راغلي دي:

«یعلم ما تکسب کل نفس »

ژباړه:(مالوم دی الله ته هر هغه کار چې کوي يې هر نفس) هر هغه څه چې انسان کوي هغه خدای ته مالوم دي).

دطه د سورې په ( ۱۵)مبارک آیت کې راغلي دي

«لتجزی کل نفس بما تسعی»

ژباړه :(هر نفس ته د هغه څه چې یې کړي وي جزاورکول کیږي)

که چا بد کړي وي د خپل نفس لپاره یې کړي دي که چا بد کړي وي د خپل نفس لپاره یې کړې دي ددې مالومیږي چې حساب او کتاب له نفس سره کیږي

او همدا نفس به د خپلو کړو د عذاب په لیدو پښیمانه شي.

ابراهیم د سورې په (۲۲) مبارک آیت کې راغلي دي

«ولوموا أنفسکم »

ژباړه :(ملامت کړئ نفسونه خپل)

**الانعام د سورې په (۱۶۴) مبارک آیت کې راغلي دي :**

«... ولا تکسب کل نفس إلا علیها ولا تزر وازرة وزر أخری ...»

ژباړه: ( ...اونه کوي (بدی) هیڅ یو نفس مگر ( ضرر یې دی) دده پر ذمه او اچولی نشي هیڅ گنهکاره نفس خپله گناه پر بل نفس ( بلکی هر نفس خپل بار وړي)...)

له دې مبارکو آیتونو څخه مالومیږي چې په اخیرت کې هر انسان د خپل نفس شاهد دی او هرڅه چې د چا نفس کړي وي د هغه جزا وینې.

Copyright: www.tanzona.com

د یاسین د سورې په (۶۵) مبارک آیت کې راغلي دي

اليوم نختم على أفواههم وتكلمنا أيديهم وتشهد أرجلهم بما كانوا يكسبون

ژباړه:(نن يي پر خولو مهر لګوو، لاسونه يي زموږ سره خبرې کوي او پښې يې او پر هغو کارونه يې چې کړي دي شهادت ورکوي)

الاعراف د سورې( ۷ مبارک)آيت کې راغلي دي

«فلنقصن عليهم بعلم وما كنا غائبين»

ژباړه : ( نو خامخا بيا ن به کړو موږ دوی ته (احوال) په علم سره نه يو موږ غايبان)(

ياني دا ټوله ستاسو کړه په علم سره تاسوته په اخيرت کې ښوول کيږي چې قناعت پرې وکړې .دا ټوله ښه اوبدکړه د کرام الکاتبين لخوا لکه په يو چيف کې ثبت کيږي چې په اخيرت کې به دا چيف نفس ته د هغه د ژوند ټوله کړه وښيي او خپل لاسونه او پښې به يې شاهدي پر ورکوي.( خدای ښه پوهيږي)

خپله نفس په خپلوکړو شاهد ی ورکوي او پر هر امت بيا د هغو نبي شاهد دی .

الاعراف دسورې په ( ۳۷) مبارک آيت کې راغلي دي

«...وشهدوا على أنفسهم...»

ژباړه : (شاهدي ورکوي په دوی ددوی خپله نفسونو )

دبنی اسراييل د سورې په ( ۱۴) مبارک آيت کې راغلي دي

«اقرأ كتابك كفى بنفسك اليوم عليك حسيبا»

ژباړه : (ولوله کتاب بس دی همدا نفس ستا نن ورځ پر تا باندي حساب کوونکی)

ياني هم همدا نفس په تا شاهدي ورکوي

د النحل د سورې په (۱۱۱)مبارک آيت کې راغلي دي:

Copyright: www.tafzona.com

«يوم تأتي كل نفس تجادل عن نفسها وتوفى كل نفس ما عملت وهم لا يظلمون»

ژباړه : (هغه ورځ چې رابه شي هر يو نفس چې جګړه به کوی لپاره د نفس خپل او پوره به ورکړ شي هر نفس ته( جزا) د هغه عمل چې کړي يې دي)

د هغې دنيا شاهد پر نفس همدا خپله انسان دی ، نفس د خپل دنيوي کړو په بنياد يا په دوږخ يا جنت يا برزخ کې تراخيرت پوري (د انسان ژوندی کيدو) سره د هغه سره يو ځای کيږي .

الشمس د سورې ( ٧-٨)مبارکو ايتونو کې راغلي دي

«ونفس وما سواها فألهمها فجورها وتقواها »

ژباړه :(قسم په نفس او هغه چا چې هغه منظم کړی

بيا يې شر او خير هغه ته الهام کړی دی) ياني نفس ته خير او شر دواړه مالوم دي.

د الزمر د سورې په ( ٤٢ )مبارک آيت کې راغلي دي

«الله يتوفى الأنفس حين موتها والتي لم تمت في منامها فيمسك التي قضى عليها الموت ويرسل الأخرى إلى أجل مسمى إن في ذلك لآيات لقوم يتفكرون»

ژباړه :( تحويل اخلی الله نفسونه په وخت د مريني ددوی او هغه چې په خوب کې وي، راليږي هغه ( ويده ته نفس) او چې حکم د مريني پر شوي وي ساتي( نفس) د هغه تر معيني نيتې پورې بيشکه په دغه کې دلايل د قدرت دي دپاره د هغه کام چې سوچ کوي)

له ابن عباس (رض) څخه نقل دی چې هغه ويل :د ژوندو او مړو روحونه په خوب کې د يو بل سره ويني او د يو بل پوښتني کوي. بيا خدای (ج) د مړو روحونه ساتي او ويده شوو روحونه دهغو بدنونو ته راستون وی».[الروح:ص٥ و٢٠]

علامه ابن قيم رحمة الله عليه وايي: د مړو او ژوندو د روحونو ملاقات ددې نښه ده

Copyright: www.tanzona.com

چې دژوندي خلکو روح په خوب کې د مړو د روح سره ویني او له هغو څخه مالومات راغونډوي او مړي هغو ته هغه مالومات ورکوي چې ژوندي ترې خبر نه دي .

(« الروح» ص:۲۱)

***Download From; Aghalibrary.com***

# نفس او زمان

نفس د خوب او مړینې په وخت کې پورته آسمان ته خیژي نو نفس هلته د هغه ځای د شرایطو ، وخت او زمان تابع کیږي پر هغو ډیر وخت نه تیریږي ځکه د هغه ځای یوورځ زموږ زر کاله ده.

د الحج د سورې په (۴۷) مبارک آیت کې راغلي دي:

«...وإن یوما عند ربك كألف سنة مما تعدون»

ژباړه : ( ...یوه ورځ ستا پروردګار ته لکه زر کاله ده چې تاسو یې شمېرئ)

د البقرې د سورې په (۲۵۹)مبارک آیت کې راغلي دي:

«قال لبثت یوما أو بعض یوم قال بل لبثت مائة عام فانظر إلى طعامك وشرابك لم یتسنه»

ژباړه :(وویل: څومره تاځند کړی دی ( دلته)؟

وویل ( عزیز): ځند مې کړی دی یوه ورځ یا یوه برخه د ورځې.

وویل (الله): بلکې ځند کړی دی تا سل کاله)

دا د حضرت عزیز (ع) نکل و چې د بخت نصر (کافر پاچا) په وخت کې اوسیده کله چې هغه له یو وران شوی ښار څخه تیریدی د هغه په زړه کې وګرځیدل چې ددې ښار خلک خو ټوله مړه شوي دي هغه به خدای تعالی څنګه بیرته را ژوندي کوي او دا ښار به څوک آبادوي ؟؟؟

د خدای تعالی په امر عزیر مړ شو اوسل کاله همداسې مړ پاته و چې بیرته را ژوندی شو هغه ولیدل چې هغه وران ښار بل پاچا ودان کړی دی( وایي دابنار بیت المقدس و)

Copyright: www.tanzona.com

نو د هغه په نفس چې پورته آسمان ته تللی و ډیر لږ وخت تیر شوی و مګر دده په جسد سل کاله تیر شوي وه .

د المومنون د سورې په ( ۱۱۳ )کې راغلي دي :

«قالوا لبثنا یوما أو بعض یوم فاسأل العادین»

ژباړه : ( نو وبه وایي ( کفار) ځنډ مو کړی دی یو ه ورځ یا یوه برخه د ورځې)

یاني خلکو ته د دنیا ژوند یوه ورځ ښکاري نو داسې ښکاري د آسمان د حساب په اساس په مځکه کې ژوند ډیر لږ او خسیس دی.

شاید دا چې د دنیا ژوند ته ډیر لږ ویل شوی دی او د قیامت راتګ تر سترګو دبانو نژدې ویل شوي دي دابه د آسمان د زمان په حساب وي چې یوه ورځ یې زموږ یا د مځکې په حساب زر کاله کیږي ( خدای ښه پوهیږي)

Copyright: www.tanzona.com

# د روح سرچینه

## -د خدای امر:

خدای (ج) فرمايي: د روح مبدا د خدای فرمان دی لکه لمر چې د خدای (ج) په فرمان پر ټولو شیانو روښنايي کوي دقران کریم له نظره روح د عالم په وجود کې موقعیت لري اود هغه اغېزې او خاصیتونه ښکاره ، ډیر بدیع او عجیب دي مګر انسانان د هغه بې خبره دي.

ځینې علما وايي د روح کلمه د ژوند سرچینه ده چې ځان یا سا لرونکي په هغه سره توانیږي ارادي کارونه وکړي .

له روح څخه موخه دلته هغه ناطقه نفس دی چې د هر انسان په جسم کې وجود لري او د هغه وجود د خدای لخوا په هغه ترلی دی لکه،چې د یس د سورې په( ۸۲) مبارک آیت کې راغلي دي

"..انما أمره إذا أراد شیئا أن یقول له کن فیکون"

ژباړه :(بیشکه همدا خبره ده چې امر د الله هر کله چې اراده وفرمايي د يو شی دا دی چې وفرمايي هغه ته چې شه نو ( جوړ) شي)

داعراف د سورې په ( ۵۴) مبارک آیت کې راغلي دي ،چې پیدایښت او امر دالله (ج) کار دی

"...الا له الخلق و الأمر...".

ژباړه : (خاص) الله لره دی پیدا کول او امر

دمؤمنون د سورې په( ۱۲-۱۴) مبارکو آیتونوکې راغلي دی:

Copyright: www.tanzona.com

د خدای (ج) امریاني د هستي ایجاد دی، چې د خدای لخوا په روح ترلی دی او دا موجود په خدای (ج)ترلی او د هغه په امر پیدا شوی دی چې بل علل او اسباب نه لري.

د خلقت په پیل کې آدم ذکر شوی چې د هغه اړیکي له خاورو سره وې چې خاوره یو اسباب بیان شوی دی بیا د هغه وجود بېله دکوم شی سره د اړیکي لرلو پرته د «کن» یاني شه! امر ذکر شوی دی.

دلته خلقت په تدریج او ورو ورو بشپړ شوی دی خو د روح پو کول غیر تدریجي آنی صورت نیولی دی روح د خدای (ج) امر دی او امر یوازې د خدای (ج) لخوا دی یاني روح د خدای کار دی نو ځکه په قران کې روح ته د خدای(ج) نسبت ورکړ شوی دی . روح هغه ټوله مالومات دی چې له انسان سره په ژوند کې مرسته کوي.

دا چې د روح منشا د خدای فرمان دی هغه لکه د لمر ړنا چې ټولو ته روښنایي ورکوی ټولو ته یې ګټې رسیږي که د خدای فرمان (روح ) نه وای دا دنیا به په دې ډول نه وه.

خدای تعالی عالم دی دا د« فیکون» د علم امریوازې د خدای لخوا کیږي چې دلته د پو په ډول راغلی دی چې ادم (ع) ته یې له خپل علمه څه ورکړه چې دا علم په ارثي ډول ټولو انسانانو ته ورکړ شوی دی اوبیا عیسی(ع) ته چې د هغه پیداښنت بل ډول د همدا علم په امر پیدا شو

## - خدای (ج)

پاک خدای په ځینو مبارکوآیتو کې په انسان کې روح خپله ګڼلې ده او دا د خدای (ج) ډالی انسان ته ده لکه چې د آدم (ع) د خلقت په هکله دحجر د سورې( ۲۹) مبارک آیت کې داسې راغلی دي.

"فإذا سویته و نفخت فیه من روحی...»

ژباړه : (نو کله چې برابر مې کړ دغه (انسان) او پو مې کړه په ده کښې له روح خپله).

دسجدې د سورې په( ۹ )مبارک آیت کې راغلي دي:

«ثم سواه ونفخ فیه من روحه ...»

ژباړه:(بیا یې برابر کړ(قالب د) هغه او پو کړ په دغه کښې له روح خپله)

له دې مبارکو آیتونو څخه مالومیږي، چې د بشر خلقت په دو شیانو یو جسد( دغوښې، وینې او هډوکو ) اوبل د روح(ناطقه نفس) څخه جوړ شوی دی.

دا چې خدای تعالی روح د ځان بللي ده یاني دا روح ډیره شریفه ده چې له علوي اوقدسي عالم څخه په بدن کې پو (پف )شوې ده.

په دې دواړو اخیرو مبارکوآیتونو کې چې دانسان د روح په هکله دی د «من» کلمه راغلې ده یاني د پیدایښت سرچینه د خدای (ج) لخوا ده او ددې ایجاد نوم یې «نفخ» یاني پو کول ایښي دی.

## - جنین

«ولقد خلقنا الإنسان من سلالة ...»

ژباړه : ( په تحقیق پیدا کړی موږ انسان له خالصو ختو نه بیا کینوده موږ دغه ( نطفه) په یو ټینګ ځای کې بیا وګرځوله دا نطفه توټه د وینو بیا وګرځوله هغه یوه وړه بوټۍ دغوښو بیا وګرځوله هغه موږ هډوکی بیا ور واغوستل هغه ته غوښه بیا مې پیداکړ دی په پیدایښت بل ،نو ډیر لوی دی شان د الله چې ډیر ښه پیدا کوونکی دی)

په دې مبارک آیت شریف کې لیدل کیږي، چې قران کریم د روح د پدیدې پیدایښت د یومتفاوت کیفیتي عنوان د پخواني پړاوو سره را پیژندلی دی یاني جنین ژوندی دی او وده کوي او هر وخت چې یې وده تکمیله شوه او د زړه جوړښت یې بشپړ شو نو په دربی( ضربان )پیل کوي چې د بدن غړي بشپړ شی بیا د روح یا نفس سکالو رامنځ ته کیږي چې دا امری کیفیت تعبیر شوی دی.

Copyright: www.tanzona.com

عبدالله بن مسعود روایت کوی چې رسول الله (ص) وفرمایل: روح د امبریو ( جنین )ځلوېښت ورځ وروسته د بلاربیدو یا حمل اخیستلو هغه ته ننوځي یانی چې جنین ژوندی وي یاني ژوند په روح اړه نه لري.

*Download From; Aghalibrary.com*

# دروح موقعیت

روح د قران له نظره د وجود په عالم کې داسې یو موقعیت لري چې یوازې یې اغیزې او خواصونه په دې نړۍ کې لیدل کیږي چې ډېر بدیع او عجیب دي

دروح یو کول د قرانکریم په څلورو ځایو کې راغلي دي(سوره حجر آیت( ۲۹) «په سخا شوی ختی (بشر) کې یو کول»، سوره انبیا آیت( ۹۱) «یو کړ په مریمی کې»، سوره ص آیت( ۷۲ ) « د ختو جوړ شوی بشر کې» او سوره تحریم آیت( ۱۲)« په مریم کي». داروح یو کول د لومړی انسان ادم (ع) په جسم کې بیا دعیسی (ع)په مور کې پوشوې ده.

العمران د سورى په ۵۹ مبارک آیت کې راغلي دي

«إن مثل عیسی عند الله کمثل آدم خلقه من تراب ثم قال له کن فیکون»

ژباړه : (بیشکه مثل د عیسی په نزد د الله په شان د مثل د آدم دی چې الله جوړ کړ هغه له خاورو څخه بیا یې وویل ده (ادم ) ته شه نو شو)

روح یوازې انسان ته ځانګړي ده چې دانسانانو د خدای خلیفه کېدل له همدی روح یا دخدایي علمه له بابته دی کله چې خدای خپله روح په ادم کې پوکړه بیا یې ملایکو او شیطان ته وویل هغه ته سجده وکړئ.

د روح پوهانو په اند روح په روحي علوي قلمرو کي په رحم کې جوړ شوی دی هر چیري چې ورته اړتیا وي د هویت او پیغام په تغیرولو ظاهریږي او فزیکي قلمرو ته د دندي لپاره لیږل کیږي او په یو جسم ننوځي.

روح یو روحي بدن دی چې په انسان کې هیجان او هوښیاري لامل کیږي هغه په وینو او زړه کې ځای لري.

Copyright: www.tanzona.com

# دقیامت د حساب او کتاب ځای

دالروم د سورې په (۲۵) مبارک آیت کې راغلي دي.

«ومن آياته أن تقوم السماء والأرض بأمره ثم إذا دعاكم دعوة من الأرض إذا أنتم تخرجون»

ژباړه:( د هغه نښه دا ده چې مځکه او اسمان ولاړ دی ( په هوا کي) د خدای په امر او بیا به (په قیامت کې) تاسو له مځکې را غواړي نابېره به ټوله له مځکې ووځي )

داچې مځکه او آسمان په هوا کې ده او محشر هم په دې مځکې کې نه دی. په قیامت کې ټوله انسانان له مځکې څخه دمحشر ځای ته ځي چې د هغه ځای وخت ، زمان اوشرایط له مځکې سره توپیر لري.

هلته له مځکې ورغلی نفسی حجرو څخه د هغه ځای له شرایطو سره سم دځواني په سن بیرته مړه شوی انسانان ژوندي کیږي او له نفس سره په یو ځای والی سره انسانان به یو بل سره وپیژني( خدای ښه پوهیږي)

په قیامت کې نفسونه له بدن سره یو ځای یاجوړه کیږي او بیا د قیامت دنیا ته ځي

ځکه د قیامت دنیا دامځکه نه ده هلته بله مځکه ده . د ابراهیم د سورې په (۴۸) مبارک آیت کې راغلي دي:

«يوم تبدل الأرض غير الأرض والسماوات وبرزوا لله الواحد القهار»

ژباړه : ( دهغه ورځ مځکه په بله مځکه او آسمانونه ( په نورو آسمانونو) بدلیږي.

او هغوی د قهار خدای حضور ته حاضریږي»

یاني د قیامت مځکه دا مځکه نه ده

Copyright: www.tanzona.com

دا د قیامت مځکه بله ده نو دهغه آسمانونه هم بل دي.

ق دسورې په ( ۲۱) مبارک آیت کې راغلي دي:

«وجاءت کل نفس معها سائق وشهيد»

ژباړه:( هر نفس محشر ته ځي د حرکت ورکونکی او شاهد سره)

دا انسانی حجره د نفس او عملنامی سره له یو حرکت ورکونکي سره محشر ته ځي یانې یو حرکت کوونکی ځواک په کار دی چې دا نفسونه بل دنیا ته بوځي چې هغه ملایکې دی .

Copyright: www.tanzona.com

# دخدای خلیفه

البقره د سورې په (۳۰) مبارک آیت کې راغلي دي

«وإذ قال ربك للملائكة إني جاعل في الأرض خليفة...»

ژباړه : (هغه وخت چې الله ملایکو ته وویل زه پر مځکه خلیفه ټاکم...)

په دې مځکه کې انسان اختیار لرونکی دی او هر څه د هغه په اختیار کې ورکړ شوي دي نوځکه انسان په اصلي پاچاهي کې محشر کیږي.

د البقری د سورې په« ۳۰ »مبارک آیت کې راغلي دي

«وإذ قال ربك للملائكة إني جاعل في الأرض خليفة»

ژباړه (:هغه وخت چې وویل ستا رب ملایکو ته بیشکه زه ګرځوونکی یم په مځکه کښې یو خلیفه)

همدا د خدای (ج) روح انسان دمادي شیانو( موټرو الوتکه او تخنیکی شیانو) خالق کړی دی چې دا کمال په نورو حیواناتو کې نشته همدا د ساینس وده له همدې روح له برکته ده.

Copyright: www.tanzona.com

# مړینه

جیمس آرترفندی لای چې لس کاله يې په روح څېړنه کړې ده وايي: مړينه يوډېر ساده عمل دی لکه وېښ چې ویده شي يا له خوبه څوک ويښ شي دا اثيري جسم د فزیکي جسم چې د عقل حامل دی ځای ناستي کيږي.

د مړينې لپاره په قرانکريم کې د «توفی» ويی راغلی چې هغه له « وفی» څخه اخيستل شوی دی ياني وفا او استيفا چې مانا يي تحويل اخيستل دی نو دتوفی مانا تحويل اخيستل ده.

الزمر دسورې په ( ۴۲ )مبارک آيت کې راغلي دي

«الله يتوفی الأنفس حين موتها »

ژباړه:خدای نفسونه تحويل اخلي د مړينې په وخت کې.

د قبض د توفی سره يو ه مانا لري څکه په يو آيت کې خوب او مړينه په يو رديف کې راغلي دي.

دالانعام دسورې په (۶۰) آيت شريف کې راغلي دي

«وهو الذي يتوفاكم بالليل ويعلم ما جرحتم بالنهار ثم يبعثكم فيه ليقضی أجل مسمی ثم إليه مرجعكم ثم ينبئكم بما كنتم تعملون »

ژباړه: هغه چې تحويل وي ستاسو ( نفس) دشپې ، او هرڅه چې د ورځې کوی خبر دی، او بيا بيا راويبنوي تاسو په هغه ځای کې چې ضرور وي تر مقرر شوي وخت پورې راورسيږي بيا ستاسو بيرته تګ هغه ته دی، بيا تاسو له هغه څه چې کړې خبروي.

د قران کريم د مبارکو آيتونو له رويه د نفس تحويل د مړينې لامل ګرځي.

Copyright: www.tanzona.com

د الانعام د سورې په (۶۱) مبارک آیت کې راغلي دي

حفظة حتى إذا جاء أحدكم الموت توفته رسلنا وهم لا يفرطون

ژباړه:( تر هغه موساتي چې یو ستاسو ته د مړینې وخت راشي زما ملایکې د هغه ځان اخلي غفلت نه کوي)

د ملک د سورې( ۲ )مبار ک آیت کې راغلي دي

الذي خلق الموت والحياة ...

ژباړه:هغه چا چې مړینه او ژوند پیدا کړی دی

دا امر وجودي دی نه عدمي

د غافر دسورې( ۷۷)آیت کې راغلي دي :

«فإلينا يرجعون »

ژباړه: هغوی موږ ته راځي.

نو مړینه پای نه دی پیل دی له مځکې څخه تګ او جنت ته ورتګ دی .ټوله شیان بیله خدایه مړه کیږي.

سوره رحمن دسورې (۲۶) آیت شریف کې راغلي دي

«كل من عليها فان »

ژباړه: ټوله خلک چې پر ( مځکه ) دي فاني کیږي

موږ اوتاسو هر ورځ د دوستانو د مړینې سیلانیان یو او دا چرت وهو هغوی چیرې ځي.

التکوير د سورې( ۲۶) آیت شریف راغلي دي

فأين تذهبون

Copyright: www.tanzona.com

ژباړه : نوچیرې ځي؟

داچې هر ژوندی د خپل طبیعت په اساس ژوند غواړي او له مړینې تښتي هغه چې له مړینې څخه نه ویریږي ډیر خوږ ژوند لري لکه هغه متل چې وایي: مړشه مخکې له دې څخه چې دي مړ کړي

الواقعه د سورې په( ۸۳-۹۴)مبارکو آیتونو کې راغلي دي

«فلولا إذا بلغت الحلقوم.وأنتم حينئذ تنظرون .ونحن أقرب إليه منكم ولكن لا تبصرو.فلولا إن كنتم غير مدينين. ترجعونها إن كنتم صادقين .فأما إن كان من المقربين .فروح وريحان وجنة نعيم .وأما إن كان من أصحاب اليمين .فسلام لك من أصحاب اليمين.فنزل من حميم .وتصلية جحيم»

ژباړه (نو تاسو ولې ( مداخله نه کوئ) هغه وخت ( چې د مړي سړي سا )ستوني ته ورسیږي او تاسو( ناست) یاست هغه ته ګوری. په دې حال کې هغه( ملایکې ) ویني. اولیکن موږ هغه ته تر تاسو نږدې یو . تاسوموږ نه وینی. تاسو ته د هغه راګرځول ګناه نه لري نو هغه راوګرځوئ که رښتیا وایاست. نو که هغه له مقربانو څخه وي په روح ، ریحان او د نعمتو ډک جنت کې به وي که له اصحاف یمین څخه وي ( هغه ته ویل کیږی)سلام پرتا ستا د دوستانو چې د اصحاف یمین دي مګر هغه چې له انکار کوونکو څخه وي د دوزخ جوش اوبه هغو ته ښه راغلاست وایي او د هغو ځای د دوزخ اور دی)

کله چې نفس ستونی ته ورسي یاني د ستوني څخه مخکې واقعي مړینه نه ده لکه د کوما یو حالت دی هغه لا په دې دنیا کې دی .کیدای شي هغه راوګرځي

د هرو مرویو علمي راز دی چې په طب او ساینس سره کیدای شي هغه بیرته ژوندی شي نو کله چې نفس له مری تیر شو بیا یې ګرځول امکان نه لري.

نو مری ته د نفس د رسیدو مخکې هغه سړی بله دنیا ویني، خپل اعمال ویني او په دې دنیا کې دخپل شاوخواشیانو تمثال ویني یاني خپله میرمن او اولادونه ویني او هم



Copyright: www.tanzona.com

ملايکېويني. هغه د دې او هغه دنيا تر منځ وي، دواړه ويني هم خپل دوستان چې ژاړي او هم ملايکې.

بوعلی سينا وايي: په حقيقت کې (مړينه) له بدنه د روح او انساني نفس چې دبدن غړي دي خوشي کيدو ته وايي.

دالسجدې د سورې په ( ۱۱) مبارک آيت شريف کې راغلي دي:

«قل يتوفاكم ملك الموت »

ژباړه :(ووايه مړه کوي تاسو ملک الموت )

دلته له مړينې سره د روح کلمه نه ده راغلې

الزمر دسورې په (۴۲) مبارک آيت کې فرمايي:

«الله يتوفى الأنفس حين موتها والتي لم تمت في منامها فيمسك التي قضى عليها الموت ويرسل الأخرى إلى أجل مسمى إن في ذلك لآيات لقوم يتفكرون »

ژباړه :«الله تحويلوی نفسونه په وخت د مړينې ددوی او هغه نفس( انسان) چې نه وي مړ( هغه راکاږي) په خوب د هغه کښې پس وساتي هغه ( نفس) چې حکم کړی پر هغه (انسان) د مرګ او بيرته رااليږي( بدن ته) هغه بل( نفس) تر نيټې په نامه شوي پوري»

ياني نفس د خوب او مړينې په وخت کې له بدنه وځي د خوبه له راويښېدو سره سم نفس بيرته بدن ته ورګرځي او د مړينې په صورت کې هغه بيرته نه راګرځي.

نو نفس هم لکه روح نه مړه کيږي بلکې ايستل کيږي خو انسان د الله (ج)په امر سره مړکيږي

مړ انسان پر مځکه لوېږي اوپه بدن کې يې کرار کرارډراماتيکي تحولات رامنځ ته کيږي په يوه دقيقه کې د ماغزو ژونديکې مري او نور ژونديکې او سلولونه دهغه پسې مري، د زړه دربې دريږي ، بدن يخيږي، پاسته نسجونه کلک کيږي او بکترياوی



Copyright: www.tanzona.com

د نسجونه په تجزیه کوولو پیل کوي  او هلته یو ه زرغونه مایع او بد بویه ګاز تولیدیږی.

جسد پړسیږي او توریږي، او نور داخلی غړي په یو میاشت کې په مایع بدلیږي.او دحشراتو په کور بدلیږي.

*Download From; Aghalibrary.com*

# مړینه

د طب له نظره مړینه په درې ډوله ده

## کلینکي مړینه

که د یو ناروغ سا او د زړه غورځېدنه( ضربان ) ودرېږي مګر زړه او سږی یې د احیا د کمپوتري دستګاه په وسیله کار وکړي یاد ماغزو لاندینۍ برخه یې یا دمغزپل یې (چې غیر ارادی او اتوماتیکي کړه اداره او کنترول وی) له کاره ولوېږي او سږی یوازې د کمپوتري دستګاه په وسیله ژوندی وي نو داسی مړینې ته کلینکي مړینه وایي اوس د طب په پرمختګ سره ددې ډول مړي دبیرته ژوندی کیدلو امکانات شته.

## د ماغزو د پورتنۍ برخې مړینه

که د یو ناروغ د ماغزو تنه فعاله وي. خو طبي کمپوتري دستګاه د هغه د زړه ، سږی او د هاضمې دسیستم پر ځای کار وکړي نواوس دداسې مړی د ژوندی پاته کیدو امکانات شته.

## دماغزو د تنې مړینه

که یو ناروغ د ماغزو لاند ینۍ او پورتنۍ برخې له کاره ولویږي او هیڅ مغزی فعالیت ونه لري دداسې ناروغ د ژوندی کیدو امکانات نه شته. یاني داچې که دیو ناروغ ماغزه د کاره ولوېږي طب هغه مړ بیرته ژوندی کولی نشي.

Copyright: www.tanzona.com

دبدن بیله ماغزو په غیر فعالیدو سره کید ای شي هغه انسان د طب او درملني په اساس ژوندی پاته شي مګر د ماغزو په غیر فعاله کیدو سره د هغه ژوندی پاته کیدو امکانات نشته.

یاني داچې مړینه یوازې د ماغزو په مړینه اړه لري

او دساینس له نظره مړینه د بیولوژیکي فعالیتونو اخیر یا ختم دی.

Copyright: www.tanzona.com

# برزخ

برزخ ددو شانو تر منځ واټن ته وايي.

«راغب اصفهاني» په خپل کتاب «مفردات» کې ليکي ددو شيانو تر منځ حد او واټن برزخ دی نو همدا دليل دی چې له مړينې څخه تر قيامت پورې واټن ته برزخ ويل کيږي.

په «مجمع البحرين کې راغلي دي د دنيا او اخيرت منځ، له مړينې تر قيامت پورې د نفس د اوسيدو ځای ته برزخ وايي او هر څوک چې مړ شي د هغه نفس برزخ ته ځي.

«شيخ طبرسي» په «مجمع البيان» کې ليکي د برزخ لپاره درې احتماله شته

الف:واسطه او فاصله له مړينې تر قيامته

ب: د مړو او ژوندو تر منځ خنډ

ج:د قيامت تر ورځې واټن يا زمان

په «تفسير قمي»کې راغلي دي چې ددوشيانو تر منځ واټن ته برزخ وايي او د هغه موخه دثواب او عذاب د دنيا او اخيرت تر منځ واټن دی.

د«قاموس قرآن» ليکونکی ليکي: برزخ ددو شيانو تر منځ واسطه او خنډ ته وايي، له مړينې وروسته عالم ته برزخ وايي، او برزخ د دنيا او اخيرت تر منځ واسطه ده.

سلکوا في بطون البرزخ سبيلا؛ سلطت الارض عليهم فيه. په نهج البلاغه کې راغلي فاکلت من لحومهم و شربت من دمائهم...»

Copyright: www.tanzona.com

ژباړه :دبرزخ دننه یې یو لاره ونیوله چې مځکه مسلطه شوه غوښې یې خوړلې او وینې یې څښلې

وإنا إلى ربنا لمنقلبون»

ژباړه :(اوبیشکه چې موږ رب خپل ته خامخا بیرته ورتلونکي یو)

یاني انسان بیرته په اخیریت کې خپل خدای ته ور ځي تر هغه مخکې انسانی جسد مړ کیږي او نفس یې له بدنه وځي دا نفس تر اخیرت پوری پاته کیږي

په قرانکریم کې برزخ دبدن مړیني وروسته د هغه د نفس ځای بلل شوی دی

دالمومینون د سورې په (۱۰۰-۹۹ ) مبارکو ایتونوکي راغلي دي

حتى إذا جاء أحدهم الموت قال رب ارجعون* لعلى أعمل صالحا فيما تركت كلا إنها كلمة هو قائلها ومن ورائهم برزخ إلى يوم يبعثون:

ژباړه: چې د یوه مړینه وخت راشي وایي الله ما بیرته وګرځوه هغه چې مې نه دي کړي په (عوض به یې) ښه عملونه وکړم که بیرته وګرځي د هغه خبرې چې هغه کوی هیڅ ګټه نه لري د هغو تر شا برزخ دی تر هغې ورځي چې راپورته کیږي.

د« وراء » کلمه په قرانکریم کې دشاته او مخ ته دواړو په مانا راغلي ده.

برزخ هغه شي ته ویل شوی چې ددو شیانو تر منځ حایل وي ددو خونو تر منځ خونې ته وایي نو ددې مانا په اساس دا آیت شریف داسې مانا کیږي :

له مړ کیدو څخه تر قیامته یو حالت وجود لري چې داحالت د قیامت او دینا تر منځ دی»

دبرزخ ویی الفرقان د سورې په (۵۳) او د الرحمن سورې په (۱۹ ۲۰-) مبارک آیتو کې راغلي دي چې د دوو سیندونو اوبه یاني خوږی او تر خې اوبه برزخ سره جلاکوي نو یو پر بل غلبه نه کوي

علما وایي هغه کسان چې په طبیعي او اختیاري ډول مړه کیږي دهغو د نفس ځای برزخ

Copyright: www.tanzona.com

دی
په خوب کې دنفس اخسیتل هم برزخ ته ځي اختياري مړینه هغه ده چې الهی تقوا لري دهغه نفس کولی شی دجسم په ژوند کې برزخ ته معنوي تګ او راتګ وکړي.

د (مؤمنون دسورې د(۱۰۰) آیت په اساس

په برزخ کې ښه ځایونه او بد ځایونه د کړو په اساس شته.

انفطار د سورې په(۱۳-۱۵ )مبارک آیت کې راغلي دي.

«إن الأبرار لفي نعيم وإن الفجار لفي جحيم يصلونها يوم الدين »

بيشکه چې نیکان خامخا په نعمتونو(جنت) کښې وي او بیشکه بدکاران خامخا په دوزخ کښې وي وبه سوځي په ورځ د جزا .

شهیدان او صالحان به هلته ښه ژوند ولري او ګناهکار به بد ژوند ولري.

دا د برزخ اور د دوزخ له اور څخه دی.

هر څوک غواړي پوه شي چې برزخ چیرې دی.

چې د ټولو انسانانو نفسونه هلته ځي، زموږ عقل دې ته نه رسیږي او څوک هم نه دي راغلي چې ووايي دا برزخ چیرې دی.

د برزخ په هکله پوازینی شی چې شته هغه تشبیهات دی چې په روایاتو کې راغلي دي

برزخ لکه يوه کړی ( ګوته ) په يوه دښته کې ده یا ترهغه چې انسان په نړی کې وی لکه چنجي چې په منه کې وي او د خپل شاوخوا څخه خبر نه وي یا هغه ماشوم چې د مور په نس کې د دنيا ناخبره وي.



Copyright: www.tanzona.com

تر هغه چې انسان په دنیا کې دی له برزخ څخه نه خبرېږي او سوچ کوي دنیا تر ټولو ښه او لوی ځای دی.

په برزخ کې خوراکي ، مکاني او زماني محدودیت نشته ځکه دا د مادي عالم محدودیتونه دی او برزخ مادي عالم نه دی.

امام سجاد(ع) فرمایي : "ان القبر روضة من ریاض الجنة او حفرة من حفر النیران"

قبر د جنت د بڼونو یو بڼ دی یا د دوزخ یوه ژوره کنده ده .هغه برزخ قبر بولي.

Copyright: www.tanzona.com

# جنت ته تګ

د یسن د سورې په (۲۶) مبارک ایت کې داسې راغلي دي:

«قيل ادخل الجنة قال يا ليت قومي يعلمون»

ژباړه : ( جنت ته ننوځه! ویل یي کاشکې زما کام په دې پوهیدلی )

دا انطاکیه د کلی د اصحابو نکل دی کله چې مشرکانو په ډیر ظلم حبیب نجار په شهادت ورسوی نو خدای (ج) د هغه نفس ته وویل : ننوځه جنت ته! هغه ننوت جنت ته

## بیرته ژوندی کیدل

موږ بیرته د روح په ډول الله ته ورځو. یاني دروح په ډول راغلي یو بیرته د روح په ډول ورځو.یاني داروح دانسان او الله(ج) تر منځ یو اړیکه وه چي د مړینې په صورت کې دا اړیکه ختمیږي ځکه نفس یا مادي انسان له بدنه جلا کیږي نو د بدن په مړینې سره روح له بدنه نه وځي بلکې د انسان اړیکه د خدای سره پرې کیږي نو ر دهغه د توبې ور تړل کیږي نور هغه بې دې اړیکې هیڅ کولی نشي.

ساینس پوهانو د انسان په جسم کې یوه حیاتي حجره پیژندلی ده چې د ملاد تیریا شمزی په اخیر کې ځای لري وایي دا حجره نه مړه کیږي نه په اور او نه په وړانګو له منځه ځي شاید په اخیرت کې انسان له همدې حجرې څخه وده وکړي دا لکه د الوتکو هغه تور بکس ته ورته دی چې د الوتکې د ددننه توله پیښې ثبتوي چې د الوتکې له لویدو وروسته ټول مالومات بنیي.

Copyright: www.tanzona.com

دا حجره شاید د انسان زنه وي چې د شرایطو په سمېدو له هغه څخه لکه د یوې منې له زړی څخه منه را شنه کیږي انسان پیداشي لکه چې د

الاعراف د سورى په (٥٧ ) مبارک آیت شریف کې راغلي دي:

«فأنزلنا به الماء فأخرجنا به من كل الثمرات كذلك نخرج الموتى»

ژباړه : نازلوو اوبه ( د ژوندی کیدو اوبه ) را باسو په هغه هر ډول میوی (له مځکي) همدا ډول راباسو مړي( له مځکې))

د صور د شپلۍ په پو سره ( چې کایناتو زلزله ده) دا انساني زنې د مځکې سر ته راوځي

ددې مبارک آیت په اساس هغه لکه نباتا ت را ژوندي کیږي او د اخیر ت خوانه په منده ځي .

او د خپلو نفسونو سره یوځای کیږي لکه چیف چې مبایل توه ننوځی تول یاداښتونه هغه ته ورکرځي او تولٰه به یو د بل سره وپیژني لکه په مځکه کې

سوره نوح په ( ١٧ )مبارک آیت شریف کې راغلي دي

«والله أنبتكم من الأرض نباتا »

ژباړه:اوخدای تاسو لکه نباتات له مځکې را شنه کوي.

Copyright: www.tanzona.com

# په ژوند کې دخپل روح واک اخیستنه

له څرنګه چې په خوب کې روح له جسمه وځي او د نفس یا عقل تر فشار لاندې نه وي او هرچیرې چې یې زړه وغواړي ځي چې همدا د روح تګ د ډول ډول خوبونو لامل ګرځي نو که په مصنوعي ډول چا ته خوب ورکړ شي نود هغه دروح اختیار د خوب ورکونکي لاس ته لویږي او ویده کړي سړی د هغه د امر تابع کیږي او هغه یوازې د هغه ږغ اوري.

خدای تعالی د نورو واکونو تر څنګ دا واک هم انسان ته ورکړی مګر ډیر خلک تر اوسه د دې واک ناخبره دی او هغه ته یې وده نه ده ورکړې

چې دادرې ډوله دی

مصنوعي خوب :یو سړی په خپله ایراده بل سړي ته د هغه په خوښه خوب ورکولو ته مصنوعي خوب وایي چې د ویده شوې سړی نه یوازې روح بلکې ټول بدن د هغه تابع کیږي، ویده شوی سړی یوازې د خوب ورکونکی ږغ اوري د هغه په امر لیرې شی ویني او له لیر ي واټن څخه ږغونه اوري.

«د انسان نه پیژندل شوی واک» په کتاب کې راغلي چې ټول خلک دا توان نه لري چې څوک ویده کړي مګر تر اوسه انسانان له خپل دې بدني واک څخه بې خبره دي او لا یې نه پیژندلي.

هیپنوتیزم: هیپنوتیزم یوه یوناني کلمه ده چې د خوب مانا لري چې دا هم یو القایي ارادي حالت دی.

کارولی «د «دننه راز په کتاب »کې راغلي چې لومړی وار دا نوم ډاکټر «جیمز برید دی او هغه خوب ته ویل شوی دی چې په ځانګړې تلقین سره خلک ویدو ي

ځینې وایي هیپوتیزم مصنوعي خوب ته وایي چې یو روښانه ټکي ته په دوامداره توګه کتلو سره تر لاسه کیږي



Copyright: www.tanzona.com

هیپنوتیزم پخوا په کلدانیانو، آشوریانو، مصریانو، هندیانواو ایرانیانو ا و کاینانو کي رواج درلود چي دخلکو ددرملني دپاره یي کاروی ولې وروسته ور ک شو بیا په (۱۷۷۵ )کې اترشي ډاکټر « فرانسوا آنتوان مسمر» دهغه څخه یادونه کړې ده هغه ویل: چي انسان یوه قوه لکه مقناطیسی قوه لری چي کولی شو د هغه د لارې په نورو اغیزه وکړو.

خو هیپوتیزم خوب نه دی ځکه په هغه کې د تفکر واک ، دخبرو امکان، قضاوت او تګ هم راځي نو ویلی شو هغه یوه ځانګړې عاطفی اړیکه ده نو ځکه هغه ته مصنوعي خوب ویل شوی دی.

تله پاتی : تله پاتي چي «تله» یي دلیری او «پاتوس» یي د احساس مانا لري یاني له لیری احساس کولو ته وایي چي دا احساس د معمولي احساس له لاری څخه نه دی

ځینې وايي تله پاتی له یو سړی سره له لیری فکري اړیکي تینګولو ته وایي یاني هر څه چي یو سړی سوچ کوي هغه بل یي درکولي شی یا هغه پیښه چي لیري واقع کیږی هغه بیله دی چي له هغه محل سره اړیکی ولري د هغه خبر یري.
یاني تله پاتي د فکر انتقال یا ددو سړیو تر منځ معنوي او فکري اړیکو ته وایي یا ددو نفرو تر منځ له لیری واتن څخه دیو مطلب القا ته وایي

داچي ایا انسانان د تله پاتی واک لري؟ ډول ډول نظرونه شته

د «روح د حقیقت» په کتاب کې راغلي چي د یو چا د سوچونو واک بل څوک اخیستلی نشي .مګر ویل کیږي ځینې ځینې دا توان لري.
کله چي نجاشی د حبشي پاچا مړشو حضرت محمد (ص) په مدینه منوره کې په هغه ګړی خبر شو او د هغه ته د هغه په غیاب کې د فاتحي لمونځ وکړ.

Copyright: www.tanzona.com

# روح د ساینس له نظره

په لومړي سر کې ساینس پوهانو سوچ کاوه چې روح له جسم څخه بیل کوم شی ده چې کله له جسم څخه بیل شي نو بدن مري ،ولې وروسته چې بیالوژي د مشاهداتو ، تجربو ، څیړنو او د تکنیک پر بنسټ د یو مستقل ساینس بڼه غوره کړه بیا څرګنده شوه چې ژوند له بهر څخه نه نازیلیږي بلکه ددې روح سیاق او سباق له وړاندې څخه په کومه ژوندینکه ( حجره) کې شتون درلود .

ژوندینکې خپل ارتقایي وړاندې تګ کوي نوري نوی ژوندینکې زیږوي او بیا دځانګړو حالاتو له کبله د ژوندینکو دا ټول سیستم له منځه ځي چې لومړی د بوډاتوب اوبیا دمړینې لامل ګرځي.

«ډی این اې» په خپل ذات کې یوه داسې کارخانه ده چې خپل کاپیاني جوړوي او په ژوند کې د میکروبونو د یرغل لپاره خپل فوځونه جوړوي.

هره« ډی این اې »له یوه څخه دوه، له دوو نه د څلورو په تناسب خپل ژوندینکې زیاتوي . ډی این اې د خپلو کاپیانو دزیاتیدو لپاره دوې لارې لري.

یو دا چې کله یوه ډی این اې خپله کاپي تیاره کړي نودا خپله ترې بیله شي .

په دې ډول کې جنسی عملیه نه ده شامله . له دې ژوندینکې څخه تولید شوي انسان ته مصنوعي انسان (کلوننګ) وایي.

له سیکسه پرته دانسان په پیداکیدو کې هغه انسان نه زیږیږي او نه وربانډې قدرتي مړینه راځي خو په نابره پیښو کې له منځه ځي.

ساینس پوهان د(کلوننګ انسان) په پیښو کې د مړینې دمخنیوي لپاره هم خپلې نظریې وړاندې کړي دي او په دې برخه کې ځینې فیلمونه هم جوړ شوی دی مثلا امیب د اوبو

Copyright: www.tanzona.com

يو کوچنی مخلوق دی ددې حيوان په ژوندينکه کې هډوکي ، وينه ، اواعصابی رښتې نشته او دا ژوندينکه يو واحد نظام لري چې کله اميب پرمنځ دوې ټوټې کړل شي نو هره برخه يې ځانته بيله بشپړه اميب جوړوي .

په دې عمل کښې نه جوتيږي چې پلار څوک دی او زوی څوک دی ؟

دتقسيم له دې لاری هره ژوندينکه تل نوی او تازه وي، زوړوالی او مړينه نه لري .

دا بېله خبره ده چې د اميبونو د نابېره مړينې لپاره دهغو د ښکار لپاره زرګونه ډول نور د اوبوژوی شته . لنډه داچې هغه لکه انسان په طبعي مړينه نه مري چې بوډا شي او بيا فنا شي .

له کلوننګ څخه پيدا شوی ژوی يوه لويه کمزوري داده چې دفاعي نظام يې ډير کمزوره د ی د خپلو نه مالوماتو له کبله په ډيره اسانې سره ښکار کيدای شي.

په جنسی ډول توليد ته چې زيريدل وايي د« ميټاسز» برعکس د«ميسياسز» دعمل له لارې ژوندينکې سره مروړل کيږي او بيا په سپرم بدليږي .

په جنسي عمليه کې ژوندينکې سره شليږي او په کروموسومو بدليږي .

د نويو ژوندينکو له تخليق لپاره بهرنی انرژې له خوړو، هوا او رڼا لخوا جذبيږی او له بلې خوا جنسي عمليه د انرژې دوتلو کار کوي چې له دې امله د ژوند د تحليل نظام ورته وايي .

کله چې دی اين اې له جنسي عمليې څخه وروسته ددماغ دجوړولو کار پيل کړي نو زمان او مکان خپل محدوديتونه د فزيکي او رياضي قوانينو په بڼه وربانديې تپي.

بل دا چې په جنسي عمليې کې د دی اين اې يو سپرم د مخالف لوري له تخمې سره يوځای کيږي ديوبل له ارثي، تخليقاتي ، معاشياتي . او دفاعي مالوماتو څخه په ګډه کار

Copyright: www.tanzona.com

اخلي او له نابېره پېښو څخه ددې مالوماتو په وسيله د ځان ساتنې لپاره کار اخلي نو ځکه له جنسي عملیې څخه پیدا شوی ژوی زوړوالی او مړینه په ارث وړي نو ځکه له سیکس څخه پیدا شوی هر ژوندی شی د مړینې کندې ته لوېږي.

په انساني جسم کې د ژوندينکو دماتيدو راماتيدو عمل تل جريان لري کله چې انسان کار کوي دهغه دبدن زيات شمير ژوندينکي له منځه ځي چې دې ته د ميتابولزم د عمل سرچپه ته کيتابولزم ويل کيږي، له دې امله دانسان پر بدن بيلا بيلې دانې راخيژی او مړی شوی ژوندينکي د زورد ا نو په بڼه له بدنه وځي.

لنډه داچې ددماغ په « ډی اين اې ګانو» کې د په خپله پيداينې او خپله جوړونه نظام د نشتوالي له امله په خپله د دماغ ژوندينکي د مړينې او بوډاوالی په وړاندې يو بې وسلې نظام دی ، او ترڅو چې پر دماغ مړينه رانشي نور بدن مړينه په اسانه نه منې. په دې اړه دوې ډيرې ښې بيلګې وړاندې کيدلای شي چې يوه تجربه پنځلس کاله وړاندې «سميت سونی بارن » نومې ساينس پوه وکړه.

هغه دا تجربه پر «پيراميسا» چې يوه ژوندينکه مخلوق دی وکړه ، هغه ددی ژوی ژوندينکه تر الټراوايلټ وړانګو لاندې ونيوله چې په پايله کې يې دهغه ټولې ډی اين ای ګانې مړې شوې.

بيا يې ددې ژوندينکي مړه شوی ډی اين ای ګانې بيارغاونه پيل کړه هغه په تياره کښې يوانزايم توليد کړ چې لږ وروسته يې ژوندينکی بيرته په فعاليت پيل وکړ .

بله مشهوره تجربه په روسيه کې پر «فينه» نومې بيزوګی ترسره شوه ، لومړی د دې بيزوګی بدن په دوا سره بې سده شو بيا يې هغه په کنګل ځای کې کېښووله، چې کله دهغې په جسمانې غړو کې دکيمياوې او نامياتې عمل سوستوالی راغی ، د ستنې په واسطه دهغې له شريانونو څخه ټوله وينه وايستله له دې سره دهغې تنفس او دزړه دربې (ضربان )و دريد .

شل دقيقې وروسته يې بيرته هغې ته وينه وريمپ کړه او ورسره يې دهغې په اعصابو او زړه کې «ايډرنالن »پيچکاری کړه، له دې سره دهغې زړه بيرته حرکت پيل کړ او د «آيرن لنګ »ماشين په ذريعه يې هغې ته مصنوعی تنفس ورکړ ، څلور ساعته

Copyright: www.tanzona.com

وروسته هغي خپلي سترګي وغړولې خو څه يې نه پيژندله، نيم ساعت وروسته يې خپل سر راپورته کړ خو بيا هم هغه پوره په سد کې نه وه ،شپږ ساعته وروسته چې کله په هغې ستنه جګه کړه شوه نو هغه وځغاستله .

کله چې دبيزوګۍ وينه وايستله شوه نو پر هغې باندې طبعيې مړينه راغله ، ليکن مغز يې په کيمياوي توګه ژوندی و، کله چې ورته بيرته وينه ورکړل شوه نو هغه بيرته ژوند ی شوه .

که دمغز ژونديکې په کيمياوي توګه بدلي شي نوبيا دژوند بيرته راګرځيدل ناشوني کيږي.

ددماغ ژوندينکې له ډيرو پيښو څخه لکه خرابو خوړو ،د زهرجنو غازونوله بويه، دذهني صدمو (ډکو) ، دموسمي تغيراتو ، ددودخې او يخنې له شدته ، د ميټابولزم او کيټابوليزم څخه پيدا شوی پاته شوني فضلاتو ، بدن ته د وايرسونو له ننوتلو له کبله، دجنتکی تغيراتو، د الترا وايلټ وړانګو او داسی نورو شيانو څخه اغيزمندي کيږي او د مغز د کنترول واک لړيږي، چې په پايله کې د ا د انسان د بوډاتوب او مړيني لامل ګرځي.

خو نور بدن د ژوندينکو په نوی کولو سره دخپل زوړوالي مخه نيسي.

هر ژوندی شی د خپلي ودې او ژوند لپاره مبارزه او مقابله کوي چې ددې هڅې په پايله کې يې په ژوند کې ارتقا يې عمل را ژوندی کيږي، يو ژوندی د بل ژوندی د مړيني لامل ګرځي چې له دې څخه د ژوندی شی ارتقايي سامان په خپله برابريږي.

د ژوند تنوع او د مړيني تنوع په اصل کې د ارتقايي قوت محرکه ده د ژوندون د خپل مينځی جګړو دتنوع د خاتمي رجحان لري . د ارتقا اخيري پوړ ددغه تنوع پای دی او د ارتقا لومړنی پيل ديوې ژوندينکې ژوند دی.

ساينس اوطب د طبيعي دنيا د طبعيت له ليدو څخه په دې اند پايينت کوی چې روح دانسان يو باور ي شی دی او شتون نه لري .

**Kirlian Photography**



هغه وايي دا كمره كولي شي د يو مجرم يا يو آرام سړي د مړيني ځرنګوالى په نوري وړانګو چې د قوى فزيكي كړو څخه لاس ته راځي په بستر كې وښيي.

قوى الكترونيكي ميدان د كرونا د لړ نور يا تخليه لامل نسبت ځنډو ته كيږي.

دا پديده د كرلين داغيزې په نامه ياده شوې ده چې په لوړ ولتاژ كې دشيانو عكاسي كوي.

ډير پوهان ادعا كوي چې برقي پديده په اصل كې د نا مريي شيانو د ليدو لاره ده.

كوراتكوف وايي د د ځنډو ډير نور نسبت كرونا يا مابين ته يوه فزيكي پيښه مالوموي كيداى شي دا مالومات د درملنې لپاره وكارول شي.

ډاكټر« دانكن مك دوګال» د هاورهيل ماساچوست د پوهنتون استاد په( ۱۹۰۱) كال كې د خپلې څيړنې په هكله وايي: داچې د ساينس د قانون په اساس ټول شيان لكه مايع ،جامد او ګاز وزن لري نو كه روح ربنتيا وي بايد وزن ولري. نو ما د روح د اثبات لپاره ډير ناروغان تر څيړنې لاندې ونيول.

هغه انسانان له مړيني مخكې او وروسته په يو ځانګړى ترازو وتلل

Copyright: www.tanz

هغه دا ښېرنه په هغو شپږو زړو خلکو چې ډېر  نه خوځېدل  تر سره کړ ه، هغوی یې په داسې چپرکت چې وزن یې  کنترول وی  د مړینې مخکې او وروسته  وتلل .

هغه د دناروغانو د مړینې په مهال د هغو  د وزن دکمیدو په هلکه وایي:

مونږ یو ناروغ پر یو ډېر احساس بیم ترازو پریست هغه مو درې  ساعت او ځلوېښت دقیقې دمړینې دمخه ترکتنې لاندې ونیو ی، هغه کرار کرار په هر  ساعت کې یو اونس وزن د لاسه ورکوی چې دا وزن کمیدل ( د بخار ، نم په تنفس  کې او خولو په اساس کمېدی). هغه  ددرو ساعتو او ځلوېښتو دقیقو وروسته مړ شو نو د هغه د مړینې سره سم  نابېره  د هغه په وزن کې  په یووار په څو ثانیو کې درې پر ځلورمه  د یواونس کم والی  ولیدل شوو دا د وزن کم والی دخولو، تنفس او  د سا د ایستلو څخه نه و،ځکه هغه مخکې اندازه شو چې یو اونس په یو ساعت کې وه نو دا نابېره لږوالی له څه سبب رامنځ ته شو؟ ځینې وایې دا هغه هوا ده چې په سږی کې وه او د مړینې په اثر له سږی وځي.

مک دوګال یې په ځواب کې وایي:

زه خپله په بستر پریوتم ساه مې بنده کړه خو په ترازو کې تغیر رانغی. .

نودا د وزن کمیدل د څه شی دی؟

مك دوګال له ښیرنې وروسته  دا راپورټ خپور کړ

چې د  مړ انسان له بدن « ۲۱ » ګرامه  وزن کمیږي. هغه دا تجربه پر پنځلسو سپو هم ترسره کړه هغه د

ښیرنې وروسته دا راپورټ خپور  کړ چې سپې روح نه لرې د هغه  له بدنه څه نه کمیږي.

مګر  ددی مړو د وزن د کمېدو وختونه  سره   توپیر درلود په ځینو کې ژر او په ځینو کې په ځنډ دا کم والی  لیدل کیدی.

Copyright:  www.tanzona.com

هغه په دې اړه وايي چې روح په اخيري سا سره له بدنه وځي نو د لټو يا آرامو خلکو روح په کراره له جسمه وځي او د فعالو خلکو روح ژر وځي.

آيا دا ټولي د ژوند پيښي لکه: خوشالی، غم ،ځوروني دومره لږ ځای نيولی دی ؟

په دی هکله « اشرت» وايي:

دا تجربه ډيره ساده ده نه بايد دا ډيره جدی ونيسو

د مړو بدنونه کړار کړار خپل وزن د لاسه ورکوي هغه شی چې ژر وزن د لاسه ورکوي ( ليزوزوم) انزايم دی چې د ژوندينکي په دننه برخه کي په ګاز او مايع بدليږي.

اشرت د خپلي ادعا د ثابتولو لپاره وايي همدا علت دی چې په ډله ايزو قبرو کي يو ډول ګاز شته چې د اور اخيستلو امکان يي ډير دی.

ګاردين ليکلي که مړي په خپل وزن پاته کيدلی تر اوسه به ټوله مړي پاته وای .

«رابرت اسپتزلر» د فونيکس انستيتوت د مغز او اعصابو مدير په يو راپورټ کي وايي:
په( ۱۹۹۱ کال ) کي د« رينولدز » د مغز په شريان کي پاړسوب وليدل شو.

ما د هغه مورته وويل: هغه بايد عمليات شي ممکن په عملياتو کي مړ هم شي،خو بله چاره نه وه هغه مي عمليات کړ هغه د په سد کيدو وروسته دا کيسه راته وکړه چې زه يي ډير حيران کړم

هغه ويل چي کله زه بي سده شوم د داسي ماشين لاندي چي «کليک» غوندي ږغ يي درلود پري ايستل شوم ( دا ماشين د هغه د زړه ضربان ،سا ، د تودوخي درجه ا و د ژوند نور علائم کنترلول)

ما وننګېرنه له خپله جسم څخه را وتلی يم. ستا له سره خپل ځان وينم ، ستا يو برقی بورس په لاس کي و او زما په ورانه اخته وی او د يوي ښځي ږغ مي اوريده چي تاته يي ويل د هغه نبض ډير ضعيف دی

Copyright: www.tanzona.com

کله چې تا  زما د بدن ټوله وینه ویستله ما یو تورتونل ولید چې د بلې خوا تري روښنايي ښکاریده، زه  د هغه د روښنايي خواته ولاړم د تونل په اخیر کې مې خپل  دوستان، اشنایان او خپله انا ولیده چې ماته یې انتظار کاوه

هغه ویل ما احساس کاوه  زمان ولاړ دی بیا یوې ملکې زما روح بیرته راوګرځوله

ما احساس کوی لکه چې د یخې په  ډند کې ایله شي یم

برتانوي  ډاکتر«سوزان بلك مو» وایي مړینه په مغزی مړینه پیل کیږي.

نننی ډاکتران  باور لري چې مړینه یو ځانګړې ګړی یا وخت نه لري  مړینه یوه مرحله یې پدیده ده.

ځکه اوس  د کلینکي مړینو مخه نیول کیدای شي.

چې مغز فعاله وي زړه، سږی او د هاضمې سیستم  کار نه کوي بیا هم سږی تر څه وخته پورې ژوندی پاته کیدای شي.

«باربارا رومریك»  د(۶۰۰ )داسې خلکو سره مرکه کړې ده چې هغوی  د خپل د روح د سفر کیسې درلودې لکه:

«رابرت میلهم» ویل:  کله چې مې  دزړه له حملې  زړه  ودرید ما خپل جسم لیدی او لیدل مې چې زما مخ را پټوي.

له نننیوڅیړونو څخه دا جوتیږي، چې  کله مغز  بشپړ له کاره  ولویږي یا  یې فعالیت لږ شي نومړینه پېښیږي او دا یې ثابته کړې ده  چې  وېښیاري یوازې په مغز اړه نه لري.

د (۲۰۰۱) د سامبر  د میاشت په (لانسیت) طبي مجلې کې  یو هلندي ډاکتر (ون لومل ) لیکلي دي:

روغتون ته یې په امبولانس کې یو ( ۴۴ )کلن ناروغ  چې د زړه حمله پر راغلي  وه راوست ،ډاکتر  هغه ته برقي شوک ورکړ،  یوې ناروغپالې د هغه مصنوعي غاښونه ویستله چې تنفسي لوله یې په خوله کې ننباسي ، هغه یې ځانګړې واټ ته بوت ،یوه



Copyright: www.tanzona.com

اوونی وروسته چې کله هغه ناروغپاله ځانګړې واټ ته ورغله ناروغ هغه وپیژندله چې هغې د هغه مصنوعي غاښونه ایستلې وه.

یاني دا چې هغه د کوما په حالت کې هغه لیدلې وه چې د هغه غاښونه باسي.

هغه ویل ما خپل روح ولیده چې زما له بدنه ووته، او ما هرڅه لیدل .

دا ډاکتر لیکلي ما په(۳۴۳ )انسانان چې د زړه حمله پرې راغلې او بیا روغ شوی دی تر څېړنې لاندې نیولې وه د د څېړنې پایله داسې وه :

په سلو کې (۱۸) تنو یې د بشپړ وېښیارې خبرې کولې.

یو برتانیاوي څیرونکي په( ساوت همپتون روغتون کې) د یوې څېړنې پایله داسې بیانوي :

په سلو کې (۱۱) په بشپړه بې سدې کې حافظه لري، په سلو کې شپږ چې د زړه له حملې ژوندی پاته شوی دی د مړینې نژدې والی بیانوي.

له دې څیرونو څخه دا جوتیږي چې له مغز څخه پرته هم وېښیاری شته.

څیرونکي د انسان مغز د تلویزیون د دستګاه سر ه پرتله کوي او وایي چې که تلویزیوني پرواګرم نه وي نو تاسو په تلویزیون کې څه نه وینئ.

نو دا وېښیاري چیرې ده آیا په هره ژوندینکه کې ده؟

«ون لومل »وایي زه سوچ کوم همداسې وي ځکه له ورځې پنځوس میلیونه ژوندینکې مړې کیږي یاني په دې مانا چې زموږ تول ژوندینکې نوی دی خوموږ هیڅ تغیر په ځان کې نه حس وو. یاني په اووه- اته کاله کې د انسان تول ژوندینکې نوی کیږي خو بیا هم انسان ځان هغه انسان بولي دا دا حقیقت ثابتوي چې په بدن کې یو بل شی شته چې تل ثابت دی او هغه روح ده.

Copyright: www.tanzona.com

هغه وايي بايد د ژوندينکو تر منځ يو ډول اړيکي وي يا دا چې د بدن ټولې ژوندينکې يو بل ته دمالوماتو ورکولو اړيکې لري او د مغزي مړينې په مهال کې ژوندی ژوندينکې له ذهن د لاري له پېښو څخه خبر يږي.

ژوي هم لکه انسانان موجودات دي خو انسان روحي واکونه لري، د ژوو د روح وده د بشر سره توپير لري چې هغه ته وېښيار ضمير وايي او ځيني يې نابېره ضمير بولي لکه سپي چې له ډيرې مدې وروسته خپل خاوند وويني د عاطفي او مينې چمونه ورته کوي.

که يوه الوتونکې يو چيري هګۍ واچوي د هغه چرګوړي همغلته هګۍ اچوي چې دې ته د ځان پوهي ضمير وايي.

ځيني بيا ادعا لري چې ژوي او انسانان ټوله يو شی دی که انسان خبرې کوي ژوی هم په نورو فريکوينسيو خبرې کوي له دې مالوميږي چې ټوله روح لري.

ځيني بيا وايي دا روحونه(ارواء) د انسان له بدنه نورو پرمختلولو بدنو ته ننوځی يا نورو کراتو ته ځي.

د ساينس علم ثابت کړې ده د چې نباتات هم يو ډول واک ،احساس او درک لري لکه حشره خوړونکي نباتات چې عقل لري.


دځينو ساييس پوهانو په اند که روح وي نو اساسا هغه انرژي ده چې هغه د لوېديځ او ختيځ نامحدود حکمت دی .

دځېنو پوهانو په اند د نړۍ د دينونو د ښوونو په

په اساس روح يو طلايي تاردی شخصيت له بدن سره وصلوي . دځينو پوهانو په اند روح زموږ د بې سدی ژورتوب دی يا هغه ماتيدونکی شی دی چې ز موږ شخصيت بايد هغه ته پام وکړي چې مات يا ورک نشي خو رښيتيا بيا ددې باورسرچيه ده دا زموږ روح ده چې زموږ شخصيت ته پام کوي که ترې وغوښتل شي.



Copyright: www.tanzona.com



Copyright: www

دساییس پوهانو په اند دانسان د بدن فزیکي شکل د تکامل اخیري ټکی دی خو تکامل د شکل په بشپړ بدو سره نه دریږي.د روح بیان اساسا د انسان د پوهې د تکامل بل ګام دی.

د ځینو په پوهانو په اندروح د نفس او مادي جسم ارتباطی اړیکه ده یا د مادي او نفس د دوستي اړیکه ده .یا روح میانجي یا د پوهې اساسي پل دی.

ځینې ساینس پوهان بیا روح د جاذبې قوه بولي چې ټوله شکلونه سره یوځای کوي چې شایدالوهیت په هغه کې تشریح کیږي.

د ځینو نورو ساینس پوهانو په اند روح له فني اړخه یو ه بې رنګه وړانګه ده چې له ځانګړو اهتزازونو او خوځښتونو څخه رنګه کیږي.

د ځینو سایینس پوهانو په اند روح انرژی ده د ساینسي تیوري په اساس چې انرژي له منځه نه ځي یوازې خپل شکل تغیر وي، نو روح چې انرژی ده هغه یوازې تغیر د شکل کوي له مینځه نه ځي نو همدا علت دی چې روح د جسم له مړینې وروسته ژوندی پاته کیږي.

خو هغوی دا تشریح کړې نه ده چې روح څه ډول انرژي ده او څرنګه اندازه کیږي او له نورې انرژۍ سره د هغه عمل څرنګه دی؟؟؟

هغوی وایي د انسان بدن یو بیولوژیکي سیستم دی چې میتابولیزم ، خوارو په استفادې وړ انرژي اړوي دا انرژي د وینو د پمپولو ، دبدن ساتنې ، د بدن د تودوخي د ساتنې اوبل نسل ته د جین په لیږدولو او داسې نور کړو لپاره کارول کیږي. که میتابولیزم خواړه په انرژي بدل نه کړی نو بدن مړ کیږي.

ماده او انرژي نژدې اړیکې لري، انرژي بدن ته تودوخه ورکوي مګرمړ شوی جسم انرژي یا روح ته اړتیا نه لري.

«جودی میریل» لیکي:دروح د پوهیدو لپاره باید د هغه فیزیولوژي مطالعه شي لومړی باید مغز ، بدن او روح و پیژنو.

تر اوسه فیزیولوژي د پوهي ( وېښیاری) درې حالته تشخیص کړی دي.

یوه پوره وېښتیا ( په سد توب) چې په دې حالت کې زموږ په ماغزو کې تولې خاطرې او تجربې زیرمه کیږي او هر وخت چې وغواړو له هغه څخه کټه اخیستلی شو. په دې حالت کې د انسان فزیکی اړخ نورمال وي او د انسان پیچلي خواص لکه: سوچ، ننګیرنې او غوښتنې د فزیکي جسم څخه جلا دی مګر بیا هم فعاله وي.

بله نیمه وېښتیا( نیم بې سده توب ) د ی چې په دې حالت کې یوازې ځینې ځانګړې خاطرې زیرمه کیږي

دریيم یې کاملا د بې سدی حالت دی چې ماغز ه کار نه کوي.

Copyright: www.tanzania.com

روح پيژندونکي پوهان وايي:روح دانسان د بدن د دوو ځايو سره اړيکه لري يوه يي د
پوهې (تار يا اړيکه ده) د سر دپورته برخه سره ده او بله يي چې دژوند ( تار يا
اړيکه ده )د زړه سره ده مورږ په په دواړو ځايو کې هغه اسانه حسولی شو.

*Download From; Aghalibrary.com*

# په بدن کې د روح ځای

د تاریخ په اوږدو کې تل انسانانو ته دا سوچ پیدا وو چې ژوند څه شی دی ؟ روح څه شی ده ؟

په دې اړه ډېره بحثونه شوي دي:

څلور زره کاله مخکې د سومریانو ، آشوریانو اود بین النهرین خلکو د ژوند سرچینه کبد( ینه) بلله، د فراغانو په وخت کې مصریانو باور درلود چې د انسان په مړینې سره د هغه روح الوځي، هغو باور درلود چې روح په زړه او دنس په دننه غړو کې ده.

په لرغوني یونان کې څلور سوه کاله مخکې له میلاده افلاطون په دې دلیل چې ستوري ګردي دي او د انسان سر هم ګردی دی نو د روح ځای یې د انسان سر وګڼه.

ارسطو چې د هغه شاګرد و هغه بیا د روح ځای د انسان زړه و باله،

د مسیحیت په راتلو او د روم د تمدن په پیل کېدو سره دوه سوه کاله وروسته له میلاده جالینوس په دې باور و، چې د روح ځای د انسان په ماغزو کې دی.

جالینوس د ماغزو دننه مختلفې برخې ولیدې او باور یې پیدا کړ چې ماغزه د روح ځای دی هغه د خپلې دې ادعا په هکله وویل: که د یو حیوان په ماغزو فشار راوړل شي نو سمدستې د هغه بدن فلج کیږي مګر که یې په زړه فشار راوړل شي پر هغه څه نه کیږي .

مګر داچې ډېرو خلکو د افلاطون دباور پلویان وه نو د جالینوس نظر چا ونه مانه.

لئونارډو داوینچي داانسان د مغز د دننه په لیدو وویل مغز د د ژوند مرکز دی خو کلیسا د هغه د مغز د عملیاتو سره مخالفت وکړ او هغه یې له روم څخه تبعید کړ. بیا دکارت چې هغه د مغز د عملیاتو سره مینه نه لرله منځ ته راغی هغه ویل ژوند په کبد

Copyright: www.tanzona.com

(ینه ) کې منځ  ته راځي بیا زړه ته ځي له هغه ځایه بیا  لاندینیو ماغزو ته ځي  بیا د تنفس د هوا سره یوځای کیږي له هغه ځایه د کاجي غدې له لارې د ماغزو  ژورو ته تویږی، بیا د سوریو له خوا له  یوې نری لارې څخه د بدن ډول ډول حرکي غړو ته  په ځانګړې ډول ماهیچو ته ځي .

په لسمه پیړۍ کې  د طب عالم« رازی » اوپه یولسمه پیړۍ کې« ابن سینا» د جالینوس نظر تایید کړ او هغو هم د روح ځای مغز وباله،چې وروسته  دوو نامتو ډاکترانو « وسالیوس»ا و « توماس ویلیس» دا نظریې وڅیړلې په پایله کې هغو دا ثابته کړه چې د ژوند او منطق مرکز مغز دی.

ولې داچې د مغز کومه برخه کوم شی کنترول وی  په هکله  هغوی څه ونه ویل .

په اتلسمه پیړۍ کې «ژوزف ګال» د «فرنولوژي» په نامه یو کرنلاره راویستله لکه کف شناسي  هغه څخه کوله د یو سړی د چهرې په لیدو د هغه  فکري او شعوري شخصیت بیان کړی هغه ډیرې څیړنې وکړې چې داسې یو فارمول پیدا کړی  چې د چا د چهرې  په لیدو د هغه په ذات پوه شي هغه ویل دسر  لوړې او ژورې د انسان یو خاصیت بیانوي.

 فرانسوي جراح « پیربروکا» یو ناروغ چې د بدن ښی خوایې فلج وه تر  درملنې لاندې ونیوی، هغه ته درملو څه ګټه ونه کړه او مړشو، « پیربروکا»  دهغه سر څیړې کړ  ،هغه وموندل چې د هغه په ماغز وکې یوه  برخه له مغزې سکتې له کبله له منځه تللې وه.

هغه ډیرې څیړنې او هڅې وکړې چې  دماغز وتولې برخې او د هغو دندې  تشخیص کړی.

 په همدی وخت کې یوه بله پیښه د امریکا په « ورمانت» ایالت کې پیښه شوه

کارګرانو دریل پټلۍ جوړوله د هغو مشر« ګیج» دباروتو په یوه  چاودنه کې پر تندی ټپي شو  د هغه تندی جوړ شو  خو هغه چې یو جدی اوبا ادب سړی  و په یو بې ادب

Copyright: www.tanzona.com

سړی بدل شو.
« ګالوانی» یو ایتالوی پوه باور درلود چې په ماغزو کې یو ډول برېښنا شته .

هغه په یوه توپاني شپه کې د یوې چنګوښې سر او پښې په یو سیم سره له مځکې سره وصل کړ ، هغه ولیدل چې د تندر په وخت کې د چنګوښي په بدن کې یو ډول تشنج پیدا کیږي.

هغه وړاندوینه وکړه چې د انسان او حیوان په مغز کې یوشی د « حیوانی برېښنا» په نامه شته چې دا « حیوانی برېښنا» په ۱۸۲۰ کې د « ګالوانومتر» په اختراع سره اثبات شوه.
د نولسمې پیړی په پای کې دوو الماني پوهانو« فریش و هیتزیک» دا برېښنا کشف کړه هغوی ولیدل چې د مغز د سطحی پارولو (تحریک) څخه نابېره د بدن په نورو غړو کې د پاریدنې او خوځښت لامل کرځي.

انګلیسي« جاکسون» ، فرانسوي« فلورنس» او الماني « ګولتز» او « مانک»

د ماغزو د ځانګړو دندو په هکله ډیرې کلینکي څیړنې وکړې. په شلمه پیړی کې . «پنفیلد» وکولی شول د ماغزو ځینې دندې مالومې کړي.

هغه وویل:

د تندي ماغزه د خوځښتونو او عالی حسونو،بغلي ماغزه د حسی کړو ، د څټ ماغزه دباصري د کنترول ، د ماغزوکینه نیمه کره د تکلم اوښی نیمه کره دفضایي اړیکو مسولي برخې دي.

مغز د انسان دبدن یو پیچلی غړی دی ،چې سل ملیارده عصبي سلولونه ( نورون) لري چې پینځوس زره کیلو متره عصبي رشتي لري او دنده یې د اطلاحاتو پروسس او زیرمه کول دی ،دا سلولونو یوازې لس په سلو کې د ماغزو حجم جوړوي.

ماغزه چې د انسان داخلی خزانه ده نو په کار ده له هغه څخه سمه ګټه واخیستله شي او د ددې خزانې ور خلاص کړی.تراوسه ډیر انسانان له دې معنوي بې پایه خزانې څخه خبر نه دي.

ژوند تېوله په مغز اړه لري او د بدن تېوله دننه غړي د هغه د امر اطاعت کوي.

محیطی اطلاعات د پنځو حسونو په واسطه حس او درک اوپه مختلفو ځایو کې زیرمه کوي

په عقلا نې نیرو، فهم او هوښ سره دژوند چارې پر مخ بیایي.

سوچ کول ، هوښیارتیا ،د احساساتو بیان او تعقل کنترولوي.

د مغز په ناسم کړه سره درد ، ژړا ، سټریا، استرس، ناتواني، منځ ته راځي همداسي احساسي او عاطفي عکس العملونه یې پر ژ وند ډیره مثبته اغیزه کوي لکه :خندا، هیجان، خوشالی، مینه،

نو ویلی شو د انسان ماغزه د ډول ډول عواطفو او احساساتو مرکز دی.

ژوند بې احساساتو او عواطفو یو بې مانا او پوچ شی دی .

نو مغز د ژوند یو حیاتي شی دی او زموږ هر شی زموږ ماغزه دي.


د همدې مغز په اساس انسان تر ټولو نورو ژوو وېښیارموجود دی نو ځکه د اشراف المخلوقات لقب ورکول شوی دی.

کله چې مونږ دیو خطر احساس وکړو، نو زمونږ ماغزه په غریزوی بڼې سره دهغه خطری شی پر ضد عکس العمل ښیې ، او په کار ولویږی او دا په دې مانا چې یولړ سګنالونه ددماغ د فعال کیدو په منظور دماغي عصبي سیستم ته لیږي ، چې ددماغ دعصبي مرکزي سیستم دفعالیت په پایله کې د شخص په عضویت کې د فزیکي عکس العمل د پیدا کیدو لامل ګرځي لکه دزړه د ضربان لوړیدل ، دتنفس چټکتیا ، د وینی د فشار لوړیدل ، غټو عضلاتو ته دزړه د لوړضربان سره ډیر وینه راتلل اوعضلاتو ته ډیر قوت ببنل کوم چې باید د شخص عضویت دفزیکي دندې(لکه دمقابلې دپاره چمتوالی

اویاله هغه څخه تیښته )دسرته رسولو دپاره چمتوالی پیدا کړی،دبدن د یخ ساتلو دپاره پوستکی (جلد) په خولو لندیږی ، کله کله ځینې خلک د ویرې له امله په خپل معده ، ککره ، تیتر ، ورنونو او په لاسونو کی هم یو ډول نری احساس کوی یا ورته احساس پیدا کیږي ، چې دغه پورتني ټول را پیدا شوی نښې نښاني او حالات د ډاراوو ویرې پایله ده کیدای شي کراره ، منځنی یا شدیده بڼه ولري .
دغه را پیدا شوی عکس العمل د « جنګ اود تیښتی » په نوم هم یادیږی ، اودا په دې مانا چې د شخص عضویت دکومو حالاتو دپاره «جنګ اویا تیښته » چمتووالی نیسي ، د خطر د مینځه وړلو د پاره مخامخ جنګیږي اویا داچې په سرعت سره دمخامخ مبارزې له میدانه تښتي ؟ اوله خطره ځان ژغوري .د سړي عضویت په همدې جنګ او یا تیښته کې تر هغه وخته پاتي کیږي چې دهغه ددماغ له خوا ورته د خطر دلري کیدو د ډاډ وړ خبرتیا نه وي رسیدلي ا و هغه وخت چې عضویت د ډاډګیرنې پیغام تر لاسه کړ ی نو هغه وخت دی چې دهغه دعکس العمل بڼه نورمال خواته اوړی او د مصونیت احساس تر لاسه کوی .
ځینې وختونه ویره د ناڅاپي پیښو څخه (لکه لوړ آواز) چې په اصل کې خطري نه دی د ډار احساس د هغه د عامل په پوهیدو سره فعاله کیږي ماغزه په دې لټه کیږي چې د پیښې عامل او سبب وڅیري، هرڅومره چې دماغ دخپل ارزیابی په پایله کې پوره مالومات ترلاسه کړي په همغه کچه سره دخطر د لیریکولو زمینه مساعدیږي .

نو مغز ته مادي روح هم ویل شوې ده

Copyright: www.tanzona.com




Copyright: www.t

د انسان ماغزه اټکلا (۱۵۰۰) گرامه وزن لري چې په ککرۍ(جمجه) کې دننه ځای په ځای دي:

ماغزه د لاندینو برخو څخه جوړ شوي دي:

۱- دوې د ماغزو نیمې کرې:
۲- تالاموس او عصبی غوټې :حسي پیامونه د حرکتي فعالیتونو په اړیکه درک او هم اهنگ وي او درد او محیطي محسوسات حسوي.

۳- منځني ماغزه: وېښاري، د سترگو د تور د خوځښت او د بدن د غړو واک کنټرول وي.

۴-د ماغزوتنه :د سترگو، ژبې، مخ ،مرۍ او ستونې دخوځښتونو مرکز دی

۵- د سترګو رشتې:دتنفس، دوینو د جریان، داعصابو او عکس االعملی توخي مرکز دی.
۶- سیلیبیلیم:عصبي بالتی ده چې عصبي انرژي له هغه وځي او هم د انسان تعادل کنټرولوي.

د ماغزو دوې نیمی کرې د مغز تر ټولو ښه برخه او د خدای (ج)اصلي ډالۍ انسان ته ده که داکرې نه وای انسانان به بې شعوره وای.

د شعور پیدایښت دژوندینکو په زیاتوالی اړه لري او هغه د محیطي او دننني اطلاعاتو ځای دی د دې برخې د مړیني په صورت کې د ټول ماغزه جوړښت له منځه ځي .

په ماغزوکې ژورې (کندې) شته ،چې دوې یې په دوو نیمايي کرو کې دی، دریمه یې د ماغزو په لاندینی برخې کې او ځلورمه یې د سر د شا ماغزو کې لیدل کیږي چې له یو ه ډول نخايي مایعو ډکې دی، دا دوې نیمايي کرې د یوبل سره د یو پینه ډوله جسم چې عصب دی موښتي دي.

په دې دوونیمايي کرو کې دا لاندې برخې شته:
۱- Fronta Lobe l: دتندی مغزی عضله :

د سترګو او تکلم په وخت کې د خولې خوځښتونه کنټرولوي او هم د شعور ،منطق او تفکر مرکز دی.

۲-Parietal Lobe:

دیوالی مغزی عضله : چې درد، تودوخه او لمسول کنټرولوي.

- دخټ یا د سر دشا مغزی عضله : بینایي

۳-Occipital Lobe

درنګ دتشخیص، د شامعې دحس او حافظې مرکز

کنټرولوي.

Copyright: www.tanzona.com

Temporal Lobe-۴

- بغلي مغزی عضله : جنسي غرایض کنترولوي


Marginal Lobe-۵

ښی نیمه کره: د اعدادو تخمیني محاسبه، دتکلم د زیر او بم ،تکیه کول. اوربښتنوالی کنترولوي.

کینه نیمه کره:د عددونو دکیکه محاسبه، د اطلاعاتو د پیداکولو، د وییونو دجرړو او ماناو پیدا کولو مرکز دی.

تر اوسه د ماغزو نوری دندې او کړه نه دي مالوم شوی او دا ډیري خیړنی غواړي چي د ماغزو په راز پوه شو تر اوسه ډیر ی پوښتني ته ځواب نه دی ویل شوی لکه:

حافظه څرنګه فعالیږي؟، د مغز اړیکي څه ډول دي؟ د مغز ارتباطي او کمیاوي ژبه څه شي ده او داسی نور ی پوښتني چي امید د ساینس په پرمخ تګ سره دي پښتونو ته هم ځوابونه پیدا شي.



Copyright: www.tanzona.com

# پایله

ددې ټولو مالوماتو په اساس انسان له درو شیانو څخه جوړ شوی دی: جسم ،روح او نفس .

جسم هغه مادي قالب دی چې دزمان په تیریدو زړیږي او یاهم د ناروغیو، او ډول ډول پیښو له کبله مړي.قبر ته ځي او هلته په تدریج خوسا او خاوري کیږي.

خو دساینس پوهانو د څیړنې په اساس له انسان دبلیونونو ژوندینکو څخه یوازې یوه حجره ژوندی پاته کیږي چې د اقلیمي شرایطو او اوریه مقابل کې مقاومت لري شاید چې په اخیرت کې همدا حجره یا انسانی زنی لکه څرنګه چې په قرانکریم کې ویل شوی لکه نباتات را ژوندی کیږي.

الاعراف د سورې په (٥٧ ) مبارک آیت شریف کې راغلي دي:

«فأنزلنا به الماء فأخرجنا به من كل الثمرات كذلك نخرج الموتى»

ژباړه : نازلوو اوبه ( د ژوندی کیدو اوبه ) را باسو په هغه هر ډول میوې (له مځکې) همدا ډول راباسو مړي( له مځکې))

ساییسن دا هم ثابته کړې ده چې زموږ د بدن هره ژ وندینکه د جوړښت له مخه د ټول بشریت استازی کولی شي .

خوهر ژوندینکه خپل ځانګړې مالومات اوخاطرې ساتي، هر انسان یو متجانس ژوند لري خو دوه انسانان یو ډول نشته ځکه انسان د فزیکي ، دماغي، هیجاني او روحي توکو یو غیر متجانس شاهکار دی.

زموږ ژوند دوه اړخه لري یو هوښیار ژوند اوبل نیم هوښیار ژوند.

Copyright: www.tanzona.com

زموږ ژوند لکه په اوبو کې دیخي يوې ټوټې ته پاته کيږي چې موږ يې دليري د ټولې يخي ټوټې ( ۵-۳) په سلو کې برخه مالوميږي ياني دا برخه زموږ د هوښيار ژوند برخه ده او د يخي د ټوټې تر ا وبو لاندې برخه زموږ دنيم هوښيارژوند برخه ده هغه برخه چې مالومات او خاطرى په ژوندينکو کې ساتي .

نيم هوښيارژوند لکه دپردې تر شا شی دی چې درک او غبرګون يې موږ ته لاره ښيي .

انسان د روح په هکله دمالوماتو سره ډيره مينه لري مګر زموږ د نه پوهيدو علت زموږ نا رسه ذهن دی تر اوسه زموږ پوهه په پينځو حواسو پورې محدوده ده.

هغه روح چې د خدای (ج) لخوا انسان ته ډالی شوې ده دخدای (ج) روح ياني تر ټولو بهتره روح ده. د اسلام له انده خدای(ج) نه جسم لري نه روح . روح د خدای (ج) سره يوه تشريفي اضافه ده لکه چې وايو: کعبه د خدا کور دی .يا د روژې مياشت د خدای مياشت ده. همداسې يو کرانه ،باشرافته او عظمته روح د خدای (ج) روح بلل شوې ده چې په انسان کې پو( پف) يا ډالی شوې ده ياني د مادي شيانو دخلقت علم ورکړل شوی دی.

د روح دنده په علم سره دانسان او خدای رابطه ده چې د هر جسم سره د هغه د توانايي تر کچې مرسته کوي.

روح هغه لوړ او خدايي علم دی لکه د لمر په څير وړانګې يې هر ژوندي انسان ته رسي د ژوند په ټولوچارو کې مرسته ورسره کوي .

د انسان دبدن درېيم شی نفس دی چې هغه ته عقل هم ويل شويدی ياني نفس دانساني علم منبع ده نفس دبدن په ژوندنيکو کې دمالوماتي انرژي په ډول شته ياني هغه دعصبي رشتو په ذريعه په هر حجره کې شته ددې ټولو مالوماتو مرکز هم مغز دی ياني روح او نفس د جسم سره يوځای کار کوي چې روح دخدای (ج) علم دی او نفس انساني علم يا نې ځانګړې مالومات او خاطرې دي.

Copyright: www.tanzona.com

نفس په خوب او مړينه کې له انسانه سره نه پاته کيږي يانې د انسان په امر نه وي، يوازې يې ضعيفې اړيکې له جسم سره وي خو په مړينه کې د نفس او جسم اړيکې بلکل پرې کيږي.

نفس ته معنوي انسان هم ويل شوى دى چې د انسان دمړينې وروسته ژوند ى پاته کيږي.

نفس د انسان يو مکمل معنوي جسم دى چې په سترګو نه ليدل کيږى چې بيرته د جسم سره د يوځاى والي په خاطر تر قيامته په برزخ کې ساتل کيږي چې هغه يانې برزخ هم يو معنوي ځاى دى .

انسان د نفس څخه د کتې اخيستو په اساس په درو ډولو ويشل شوى دى : مطمينه نفس چې ښه کارونه يې کړي او خداي (ج) يې پيژندلى وي په برزخ کې د جنت په څير ځاى کې ساتل کيږي او اماره نفس درلودونکي خلک چې ټول عمر يې په دنياوى کارو تير کړى وي د دوزخ په اور هلته په برزخ کې سوځي او لوامه نفس چې لومړى په ګناه اخته وى بيا دين ته مخه کړې وى په مناسب ځاى کې تر قيامت د سوال او ځواب لپاره ساتل کيږي.

د انسانانو هغه زنې چې په مځکه يا اوبو ياد مځکې هر چيري وي د صور د شپلۍ سره هغوى د ژوند د اوبو په نازيليدولولکه نباتات راشنه کيږي يانې د ژوندي کيدو شرايط ورته تياريږي او هغه د نفس سره جوړه کيږي اود محشر ميدان ته د سوال او ځواب د پاره ځي

التکوير دسورې په (٧ )مبارک آيت کې راغلي دي:

«وإذا النفوس زوجت»

ژباړه :(چې نفسونه جوړه شي»

نفس چې معنوي جسم دى او پر هيڅ وخت نه تيريږي يا د هغه ځاى د زمان په اساس وخت پر تيريږي ( خداى ښه پوهيږي)

Copyright: www.tanzona.com

بدن له بد بویه ختو څخه جوړ شوی دی،  نفس د مځکې له جوهر څخه او روح له عالم قدس څخه ده  درې سره  یوځای کار کوي، که دچا روح پر نفس غالبه شي هغه جنتي دی او که دچا نفس پر روح غالب شي هغه دوزخي دی ملایکې هڅه کوي روح په نفس غالبه کړي هغه ته وده ورکوي ،مگر شیطان نفس غښتلی کوي.

د روح او نفس ځای ماغزه دی دا یو اصطلاح ده چې  په زړه کې څه مه ساته یاني په مغز   کې څه مه ساته  .

د روح په واسطه انسان خدای پیژني او د روح د علم په واسطه انسان  دنیاوي مادي شیانو خالق شوی دی، هر څه چې خدای تعالی له غوښتو   څخه جوړ کړي  دی انسان د روح د علم  په واسطه د هغه تمثال له وسپنې او نورو شیانو څخه جوړولی شي   لکه د سترګې  کاپي  د عکاسي کامره، د مارغانو کاپي الوتکه ،د خر کاپي موټر  او  همداسي نور

که  د انسان  جسم دیو فعاله کمپیوټر سره پرتله کړو   هغه برېښنا، پروګرام( سافت ویر) ته اړتیا  لري  چې استفاده ترې وشي.

نو که کمپیوټر جوړ وي په برېښنا سره هغه روښانه کيږي که هغه ته پروګرام( سافت ویر)  واچول شي هغه  کار کوي.

او کارونه یې دکمپیوټر په مغز یا هارد دسیک کې تثبت کيږي او  هم کولی شو  دا   کارونه په    سي ډي ، یواس بي،  ډي وي ډي،  میموري کارټ  او داسی نور کې ، هم ثبت کړو نو که دا سی ډي هر بل کمپیوټر ته واچول شي د هغه بل کمپیوټر  ټول کارونه لیدلی شو.

 عجبه لا دا ده چې د کمپیوټر   د حافظې سرکیټ بورډ یوه برخه پخوا ددې لپاره چې اقلیمي شرایط هغه خراب نه کړي  له سرو زرو جوړیده چې اوس د علم د پر مختګ په اساس  د سرو زرو پر ځای د سرپ او المونیم یو الیاژ  کارول کيږي دا  لکه هغه دانسان ژوندی حجره چې نه خرابيږي.



Copyright: www.tanzona.com

نفس او روح دواړه سافت ویر دي چې خپله په سترګو نه لیدل کیږي او خاصیتونه یي لیدل کیږي .

که یو تلویزیوني پروګرام هواته خپور شوی وي که موږ جوړتلویزیون او بریښنا ولرو که هغه چالانه کړو هغه پروګرام لیدلی او که ستیلایت ولرو د نورو هیوادو مفت پروګرامونه هم نیولی شو خو دبندشوو پرګرامونه یا چینلونو د لیدولو لپاره بایدد هغه پرورګرامو د نیولو د اجاز ه ولرو.

نو د انسان زښي هغه هارد دسیک ته ورته دی چې د انسان ټول شناخت او کړه په کښې خوندي شوي دي چې اقلیمي شرایط هغه خرابولی نشي.

دا دروح وړانګه لکه د لمر وړانګې پر ټولو ژوندي انسانانو روښنایي کوي او هر یو لکه نبات د خپل د توانه سره سم د هغه څخه ګټه اخلي.

خوب د روح د اثبات یو ښه دلیل دی په خوب کې دنفس تولې اړیکې نه پرې کیږي یوه ضعیف اړیکه یې پاته کیږي نو روح پر نفس غالبه کیږي نو ښه انسانان په خو ب کې داسې سمبولونه وینې چې علمي ماناوي لري او ان د راتلونکی په اړه وړاندوینې وینې چې داسې خوبونه ته په قرانکریم کې هم نغوته شوې ده .

Copyright: www.tanzona.com

Copyright: www.tanzona.com

# اخځونه


١-aftab.ir

٢-al-qiyamah.org

٣-*anlwm.com*

٤-askquran.ir

٥-askdin.com

٦-Aviny.com

٧- blog.world-mysteries.com

٨-bashgah.net

٩-boingboing.net

١٠ -Cloob.com

١١-en.wikipedia.net

١٢-elmkolbeh.mihanblog.com

١٣-fa.wikipedia.org

١٤- fa.eslahatekelisa.com

١٥- farsinet.com

١٦-٥٥a.net


Copyright: www.tanzona.com

۱۷-fa.wikipedia.org

۱۸-hawzah.net

۱۹-Islam-guidance.com

۲۰-iran۲۰.com

۲۱-iranpest.blogdoon.com

۲۲-kamalagha.persianblog.ir

۲۳-metafizik.bloqsky.com

۲٤-Pedar.net

*۲٥-porsojoo.com*

۲٦-pcparsi.com

۲۷-Quranology.com

۲۸-qotquestions.org

۲۹-Parsainforum.com

۳۰-Rasekhoon.net

۳۱-ravanshena۳۰.mihanblog.com

۳۱-redicreations.com

۳۲-shahs.persianblog.ir

۳۳-spirits.blogfa.com

۳٤-scienceofsouls.com

Copyright: www.tanzona.com

۳۵-Loo۳.com

۳٦-Solhe-daruni.com

۳۷- shaker.parsiblog.com

۳۸-Tahoordanesh.com

۳۹-tebyan.net

٤۰- tahoorkotob.com

٤۱-tebyan-zn.ir

٤۲-Tolafghan.com

٤۳-*sat* ۷*. Com*

٤٤-urduarticles.com

٤۵-urduarticles.com

٤٦-Vahdat.org

٤۷-wiki.answers.com

٤۸-zabulistan.bloguna.tolafghan.com

٤۹-zendagi.com

۵۰- The holy Quran- yusuf Ali translation

۵۱-*aviny.com the Holy Quran persain translation*

۵۲- *The holy Quran-Mohd.M.plckthall*

Copyright: www.tanzona.com

*٥٣- The holy Quran- kabuly tafsee*

***Download From; Aghalibrary.com***